# د کوش تپې لویې ویالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څتکړنو ته د فردوس څتکړنې.







پاک

پلازمېنه کابل، افغانستان

د وري ۱، ۱۴۰۳ لیږدی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوش تپې لویې ویالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څېکړنو ته د فردوس ځتېکړنې.

**بسم الله الرحمن الرحیم؛ اللطف لرب السلام؛ الحمد لله رب العلمین و الصلات و السلام علی سیدالمرسلین و علی اله و اصحابه اجمعین**

د الله په نوم پیل کوم چې پوره رحم کوونکی او پوره رحم لرروونکی دی؛ مهرباني د پینې پنځونکي ښتن بر لورینه ده؛
ټولې ستاینې د الله دي هغه چې پالونکی د ټولو شیانو دی، څه چې ځمکې، اسمانونو او د دوی په منځ کې دي، رمټتیا او سلام دې وي پر رسولانو، د هغه پر کورنی او د هغه پر ټولو ملګرو.

## ۲. تیسس څرګندونه

تر روانپېره (اوسمهاله) پورې، د کوش تپې لویې ویالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ځتکړنه (عکسل العمل) په وړاندې کوم تن ځتکړنه نه ده کړي، د اموسین او کوش تپې لویه ویاله لا افغان پښت (نسل) ته څرګند نه دی.

د کوش تپې لویې ویالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ځتکړنو په وړاندې د فردوس ځتکړنې تراڼ ( پیل، شروع، برید)؛
د اموسین او کوش تپې لویې ویالې رښت ترمنځ بېلوالی؛ ځانګړې ځانګېړنې؛ انځورونه؛ د ویالو (کانالونو) تعریفونه ( څرګندونې، ښکارونې، د یوه توري یا سکالو تشریح کول یې)؛ پیخلیک (تاریخ)، زمور د اوبو وار او د اوبو اوړدېپېرې ( ستراتیژیکه) وېشه؛ کلني اوبو تېرېدنې د کچو مېچه، معاملې، ټاټوبې د پالسی جوړولو برخې، سیاسي او رښتي (حقوقي) وسایل؛ وړاندیزونه او ستراتیژي؛ د آرال سمندرګي له اوبو پنډونکي سینه؛ د سر سین او امو سین تتی ( باسین، ډنډوکی)، ټاټوبې د سینونو ټولواله ( سیستم)؛ د کوش تپې لویه ویاله، د تخنیکي لوستې او ډیزاین، توپوګرافي او جیوډیټیک لوستې، جیو تخنیکي لوستې، د خاوري پروفایل کول او د ځمکې ډلبندی، د اوبو لګولو او اوبو ایستلو ډیزاین، د هیدرولیک جوړښت ډیزاین، وتېزې او مالي ارزونه، د لګښت اتکل، مالي او وتېزې ارزونه، ټولنیز او چاپیریال

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳ چوپیری**

**د کوش تپې لویې ویالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ښتکړنو ته د فردوس ښتکړنې.**

لوستې (مطالعات)، د چاپیریال او ټولنیزو اغېزو ارزونه، ، هغه وېرې چې د پنډوسې ټول هېوادونه یې زموږ څخه لري او موږ ورته کره ځوابونه لرو، د واورېژونو او ګلیشیرونه چټک رښت، خړې، د خړې ګران کانو او ځوړندې خړې کچې شننه، د کوش تپې لویې ویالې د لوړو کروندو د لفټ اوبولګولو له پاره د لمریزې انرژۍ کارول چې زما ځرګندول چې روښوي کتنه داسې؛ څه بڼه لوری سپینې ته را وباسم؛ د اوبو په سر ماتو، ګوډو او شخړو د ترو ترلو آړوتی (شرط)، کوش تپې لویې ویالې نه بوږولو په پایله کې ټاټوبې ته د رسیدلې تاوان آر (اصل)، لنډمګې پایلې پېر (وخت) او وړاندېزونو یېبره (حاصل یا ثمره) یې هم ستونځمن کار وو.

د دې هر یوه څېړلو ته زما اوږدېپېری (اوږد پړاوی) او اوږدمنګی (اوږد عمری) لید لوری.

## ۳. غټ ټکي


۱. پېښتیې ........................................................ ۱

۲. تیسس څرګندونه ............................................ ۲

۳. غټ ټکي ....................................................... ۳

۴. د ښتکړنو اوډون (ترتیب) ................................. ۱۰

۴. ۱ د کوش تپې لویې ویالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ښتکړنو په وړاندې د فردوس ښتکړنې تراڼ ( پیل، شروع، برید) ............................................... ۱۳

۴. ۲ د کوش تپې لویې ویالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ښتکړنو په وړاندې د فردوس ښتکړنې. ............ ۲۳

۴. ۳ په منځنۍ اسیا کې د امو سین څخه د هر و ګړي په سر اوبو د مېچې کچه ............................................... ۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

**٤ څپرکی** **د کوش تپې لويې وياله جوړولو په وړاندې د اوزبېکستان ولسمشر ښکېرنو ته د فردوس ښکېرنې.**


٤. ٤ د امو سين لندمنګې تولواله ( سيستم )........................ ٢٨

٤. ٥ د ټاټوبي ځلېر چې د امو سين سرچينې (زېرمې) دي او امو سين ته اوبه ورکوي................................ ٣٠

٤. ٦ د تاجيکېستان، اوزبېکېستان، تورکمېنېستان او کېرغېزېستان د هېوادونو اسانتياوې ( تاسيسات ) چې د افغانستان له ايجازې او مصلحت پرته يې امو سين باندې ودان کړي دي: ........................................................ ٣٢

٤. ٧ پيلنی:. د تاجيکېستان د هايدرو تخنيکي او د اوبو برېښنا اسانتياوې چې د افغانستان له ايجازې او مصلحت پرته يې امو سين باندې ودان کړي دي:................................ ٣٢

٤. ٨ دوېيم:. د اوزبېکېستان د هايدرو ټيکنالوژۍ اسانتياوې چې د افغانستان له ايجازې او مصلحت پرته يې امو سين باندې ودان کړي دي: ........................................................ ٣٥

٤. ٩ درېيم:. د تورکمېنېستان د اوبو تخنيکي اسانتياوې چې د افغانستان له ايجازې او مصلحت پرته يې امو سين باندې ودان کړي دي: ........................................................ ٣٨

٤. ١٠ څلورم:. د کېرغېزېستان د اوبو تخنيکي اسانتياوې چې د افغانستان له ايجازې او مصلحت پرته يې امو سين باندې ودان کړي دي: ........................................................ ٣٩

٤. ١١ پينځم:. افغانستان د اوبو تخنيکي اسانتياوې چې له مرکزي اسيا هېوادونو سره يې مصلحت کړی و، ايجازه يې په ١٨٧٥ زېږدي کې اخستې وه او امو سين باندې اسانتياوې ودانې کړي دي:.................................................... ٣٩

**٥. د ويالو ( کانالونو ) تعريفونه:................................. ٤٥**

٥. ١ پېښليک (تاريخ):............................................... ٤٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵ څپرکی**

**د کوش تېپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ځنډونه ته د فردوس ځنډونې.**


۵. ۲ زموږ د اوبو وار او د اوبو اوږدپېرې ( ستراتیژیکه وپشه ........................................ ۴۹

۵. ۳ امو سین کلني اوبو تېرېدني د کچو مېچه د ځينو ځېړنو پيلو پر بنسټ ........................................ ۵۳

۵. ۴ امو سین د بنستیزو اوبو اډو (ستېشنو) کې د اوبو د تېرېدو ماته او ګوډه کچه ........................................ ۵۵

۵. ۵ له ۱۹۹۲ زېږدي څخه تر روانپېره پورې امو سین ته د لاس رسيدو اوبو کچې او ګټې اخستل شوې اوبو کلنۍ کچه. ........................................ ۵۶

۵. ۶ له روسيې سره د افغانستان معاملې:........................................ ۵۷

۵. ۷ له روسيې وروسته معاملې:........................................ ۵۸

۵. ۸ تاتوبې د پالسی جوړولو برخې ........................................ ۵۹

۵. ۹ سیاسي او رښتي (حقوقي) وسایل........................................ ۶۳

۵. ۱۰ وړانديزونه او ستراتيژي: ........................................ ۶۵

۵. ۱۱ د آرال سمندرګي له اوبو پنډونکي سيندونه........................................ ۷۱

۵. ۱۲ د سردريا تتی ( باسين، ډنډوکی)........................................ ۷۱

۵. ۱۳ د امو سين تتی ( باسين يا ډنډوکی) ........................................ ۷۳

۵. ۱۴ تاتوبې د سينونو ټولواله ( سیستم)........................................ ۸۱

**.۶ د کوش تېپې لويه وياله ........................................ ۱۳۱**

۶. ۱ د کوش تېپې لويې ويالې پروژې په اړه........................................ ۱۴۸

۶. ۲ د جوړونې چمتوکولو پل (فاز، پړاو) ........................................ ۱۴۹

۶. ۳ د جوړولو لومړی پل ( فاز، پړاو)........................................ ۱۵۰

۶. ۴ د جوړولو دوهيم پل ( فاز، پړاو)........................................ ۱۵۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ٦ څپرکی

**د کوش تپې لویې ویالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکستان ولسمشر څښتکړنو ته د فردوس څښتکړنې.**


۶. ۵ د جوړولو درېیم پل ( فاز، پړاو)............................... ۱۵۱

۶. ۶ کوش تپې ویالې د ګټې اخستنې وسایلو او توکو لړې کچې مېچه ........................................................... ۱۵۲

۶. ۷ د کوش تپې لویې ویالې کرنیزو ځمکو ډګر................. ۱۶۳

۶. ۸ د کوش تپې لویې ویالې ودانیزې برخې..................... ۱۶۳

۶. ۹ د کوش تپې لویې ویالې په کروندو کې د نباتاتو بنې او له سلو برخه یې چې د کرنې وړ دي. ........................... ۱۶٤

۶. ۱۰ یوه کال کې په یوه جریب ځمکه د پیداوار پایله ............ ۱۶۵

۶. ۱۱ امو سین د سیمو د اوبو لښتیلیکه ( هایدروګرافي)......... ۱۷٤

۶. ۱۲ افغانستان د ټولو وګړو غوره ورمونه ( نصیحتونه) د خپلو اوبو په تړاو .......................................................... ۱۷۷

۶. ۱۳ د اوبو په سر ماتو، ګوډو او شخړو د ترو تړل............. ۱۷۸

۶. ۱٤ وتیز ټولنیز تړ (اقتصادي اجتماعي وضعیت).............. ۱۸۳

۶. ۱۵ د کوش تپې لویې ویالې پروژې وتیزې ګټې................. ۱۸٤

۶. ۱۶ د وتیزې ارزونې لنډیز........................................ ۱۸٤

۶. ۱۷ کوش تپې لویې ویالې نه بوړولو په پایله کې تاتوبې ته د رسیدلې تاوان آر ( اصل ) ...................................... ۱۸۶

۶. ۱۸ پوله تېرېدونکې سینیزه سیمه................................... ۱۹۰

۶. ۱۹ د پنج آمو خړوب شوې اواره.................................. ۱۹٤

۶. ۲۰ د بر پنج سیمه کې له اوبو جوړې برېښنا د پیداوارو کچه ........................................................................ ۱۹۵

۶. ۲۱ په آمو سیمه کې له اوبو ګټنې خرنګوالی.................... ۱۹۵

۶. ۲۲ ربنتې حالت (حقوقي وضعیت)............................... ۱۹۶

۶. ۲۳ د کوش تپې کانال ارزونه...................................... ۱۹۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څېګړنو ته د فردوس څېګړنې.


۶. ۲۴ لندمګې پايلې پېر ( وخت )........................................ ۱۹۸

۶. ۲۵ د وړاندېزونو ېېېره (حاصل يا ثمره).......................... ۲۰۳

۶. ۲۶ موږ ته ننګونې: ......................................... ۲۰۶

۶. ۲۷ غوره چانسونه:............................................... ۲۰۶

۶. ۲۸ د کوش تپې لويې ويالې کيندنې لګښت (مصرف) د وګړو هر تن په سر............................................................... ۲۰۷

۶. ۲۹ توکي او د ځېړنې شننې کړنلاره................................ ۲۰۸

۶. ۳۰ د شمېرو او معلوماتو شننه: ..................................... ۲۰۸

۶. ۳۱ د تن په خپل اند د ځ.ک.ف.ګ شننه ............................ ۲۱۰

۶. ۳۲ د ځې.کې.فې.ګې (ځواک. کموزورتيا. فرصتونه. ګواښونه) شننه ........................................................ ۲۱۱

۶. ۳۳ هغه وېرې چې د پنډوسې تول هېوادونه يې زموږ څخه لري: په لاندې ډول دي او موږ ورته کره ځوابونه لرو. . ۲۱۲

۶. ۳۴ له ښکاروندو (ستېنډرډونو) او کوډونو څخه ګتنې........ ۲۱۴

۶. ۳۴. ۱. د معمارۍ په څانګه کې کارول شوي ښکاروندي او کوډونه:.................................................... ۲۱۴

۶. ۳۴. ۲. د جوړښت (ستركچر) په څانګه کې کارول شوي ښکاروندي او کوډونه (شفرونه):..................... ۲۱۵

۶. ۳۴. ۳. د برېښنا په څانګه کې کارول شوي ښکاروندي او کوډونه:................................................ ۲۱۶

۶. ۳۴. ٤. د ميخانيک په څانګه کې کارول شوي ښکاروندي او کوډونه:.................................................... ۲۱۶

۶. ۳۴. ۵. په بنسټيزه (زيربنا، اېنفراستراکچر) څانګه کې کارول شوي ښکاروندي او کوډونه: ................ ۲۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library





۶. ۳۴. ۶. د اټکلونو (براورد) څانګه کې کارول شوي ښکاروندي او کوډونه:.................................. ۲۱۹

۶. ۳۴. ۷. د ټيکنالوژۍ کارول..................................... ۲۱۹

۶. ۳۴. ۸. د پروژو د طرحې (پلان جوړونې) او ډيزاين پړاوونو کې د پوستېکالو (سافټويرونو ) کارول ... ۲۲۰

۶. ۳۴. ۹. سرته رسولو (اجرايوي) لوی مديريت............. ۲۲٤

۶. ۳۴. ۱۰. د کاري لارښوونو سرته رسول:..................... ۲۲٤

۶. ۳۴. ۱۱. لويې کړنې او ګرمتياوې: ............................ ۲۲٤

۶. ۳۵ د واوريږونو او ګليشيرونه چټک ربنت .................... ۲۲٦

۶. ۳٦ خړې (سلاد يا رسوبات) او د خړې ګران کاڼي ( رسوبي قيمتي کاڼي يا د خړې ارزښتناك کاڼي).......... ۲٤۷

۶. ۳۷ په کلداره ( لويې ويالې سروندي ) کې د امو سين د ځوړندي ( سويې بشپړې ) خړې کچې شننه................ ۲۵۲

۶. ۳۸ په کلداره کې د امو سين جريان اټکل......................... ۲٦۷

۶. ۳۹ سين د جريان د څارنې معلوماتو غوراوی.................. ۲٦۷

۶. ٤۰ د اوبو نېولو موډل بوړولو کړنلار ( د کيچمينټ ماډلينګ ميتودولوژي)..................................................... ۲۷٤

۶. ٤۱ په کلدارې کې د اوبو پرتلنې شننه............................ ۲۷۸

۶. ٤۲ د اوبو لګولو غوښتنه......................................... ۲۷۹

۶. ٤۳ د کورنۍ يو اوبو غوښتنه........................................ ۲۸۰

۶. ٤٤ د څارويو د اوبو غوښتنه........................................ ۲۸۰

۶. ٤۵ د چاپېريال غوښتنې............................................ ۲۸۰

۶. ٤٦ په کلدار کې د امو سين د اوبو د پرتلنې په اړه پايله....... ۲۸۱

۶. ٤۷ په کلداره کې د امو سين جريان د جريانونو شننه......... ۲۸۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوش تپې لویې ویالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څېکړنو ته د فردوس څېکړنې.


۶. ۴۸ د اوبو لګولو او اوبو ایستلو تولوالې.......................... ۲۸۹
۶. ۴۹ په سروندي کې د اوبو کچه.................................. ۲۹۲
۶. ۵۰ د اوبو کچه د ترونکونکي (مشاور) له خوا په پام کې نیول شوې.............................................................. ۲۹۳
۶. ۵۱ په کوش تپې کې د بربېښنا کچه د ب د کرنې، مالدارۍ او اوبولګولو وزارت له خوا ورکړل شوې..................... ۲۹۴
۶. ۵۲ د اندخوی په پروژه کې د اوبو اوارې تېرېدل ............. ۲۹۹
۶. ۵۳ د پیسو په شرطونو کې د دوو غوراوۍ یو ترمنځ پرتله کول ............................................................ ۳۰۰
۶. ۵۴ د لګښت او ګټې پرتله کولو لندیز ........................... ۳۰۱
۶. ۵۵ هایډرولوژي یا د اوبو پېژندنه................................ ۳۰۳
۶. ۵۶ د کوش تپې لویې ویالې د لوړو کروندو د لفټ اوبولګولو له پاره د لمریزې انرژۍ کارول:............................ ۳۰۷
۶. ۵۷ د اوبو لګولو د پمپ کولو تولوالو له پاره د بېل غوراوي سپړنه.............................................................. ۳۱۳
۶. ۵۸ د پمپونو اندازه کول، د PV لمریزې شیشې اوډنه او انورترونه ټاکل.......................................... ۳۱۴
۷. د انځورونو، څېرو، نخښو او لښتیلیکو لېست: ........... ۳۴۰
۸. د کره لیکنې پښتو په پښتو تشریحي وییکو چوپړي، د پښتو ابېځې په سته، په لاندې لښتیلیک کې کښل شوې: ...... ۳۶۰
۹. بیبلو ګراپيBibliography د هغو لیکونو لېست چې په یوه سکالو یا بوړونکي او کښونکي پورې اړه و لري. ۳۸۴
۱۰. لیکي پوهه ................................................. ۳۸۴
۱۱. د پښتی ست ................................................ ۳۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٤. د څېړنو اوډون (ترتیب)

د دې څېړنې د چوپړو بڼه یا د دې ریسرچ پاڼې د کالب بڼه د اې پي اې (APA) په کالب کې شوې دی. او د نوموړي لاربنود څخه ګټه اخېستل شوي.

,, څپور شوی لاربنود د امریکا اروا پوهنې ملګرتیا، پینځمه ګڼه. ۲۰۰۱،،

(لیونل، ۲۰۰۱م کال، ۱۰۱ چوپړی). چې امریکا د ماچیګن مطبوعاتو له پوهنتون څخه خپرېږي. کټ مټ کړی دی. زه باید هڅه و کړم چې دا لاندې شیان و وینم او وې منم د خپلې لیکنې له پاره. له خپل ځان نه داسې پوښتنې و کړم چې ایا زه د ګران تاتوبې د کوش تپې لویې ویالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څېړنو په وړاندې د تاتوبې د لوړ اند تخینکي او علمي څېړنې ښېلوالی کوی شم:

:- ایا ما د دوی سوالونو ته ځوابونه برابر موندلي دي؟
:- ایا دا ټول شیان چې لیکل شوي وړ دي ؟
:- ایا دا اسانه ده چې دا لیکنه دې درکړل، څارل یا تعقیبکړل شي؟
:- ایا ما په ډېره ښه کچه د ښوونې، پېیلې او د وییوکیو څخه ګټه اخېستې؟

په دې پوهېدل چې څه شي ته اړتیا چې وې لیکې، هغه شي ته چې زه اړتیا لرم چې وې لیکم پرې پوهېږم. دا تر ټولو غوره ورم دی د علمي لیکنې له پاره، ځان ډاډه کړه چې ته پوهېږې په ډاډمنه بڼه کله چې ته یې اړتیا لرې چې وېکړې، هر کله چې ته په رښتنې نړی کې یوه څه کاږې په ازموینه کې نه، په دې ځان پوی کړه چې ته پوهېږې چې ته یې په کومه بڼه کاږې او موخه د لیکلو مو څه ده.

او همدارنګه تاسو اړتیا لرئ چې د خپلو لیکولو ډول ته مو ځواب ورکړئ. د لیکو ډول مې داسې نه دی لکه یوه خپل ملګري ته چې په برېښنالیک کې څه لیکم. دا علمي زیاراېستل له هغو څخه ډېر توپیر لري. تاسو به و مومئ د علمي پښتو ژبه کې او همدا رنګه چې خلک په کومه بڼه د ریسرچ پاڼې په پوهنتونو کې لیکې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۱ چوپړی

**د کوش تپې لويې وياليې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څښکړنو ته د فردوس څښکړنې.**

د ليکلو فکر مو په دې بڼه کړئ، کله چې څه ليکم، زه اړتيا لرم چې څو جلا شيان د لاندېنو سربېره پام کې نېسم:

:- په اندونو فکر او پردې پرېکړه کوم، د کوم شي زه تکل لرم د ليکلو
:- پلان او برابروم خپلې ليکنې
:- ليکمه يې
:- کنټرول، نيونه، تمبونه يا د سمولو له پاره يې پلټنه کوم د خپلو ليکلو،او ښايې داسې شونې وي چې بدلون او يا و منم همغه.

ما به پردې ځان ډاډه کړه چې له ليکلو نه وړاندې به مې پلان ونيوه، پر دې به مې پام کوه چې کوم شيان په کومو لړونو يا څپرکو کې وي. او وخت به مې پرېښوده چې په پای کې زه خپلې کښلې و منم. او جغات مې کاږه چې کښلې مې په زړه پورې او ښې شي.

د خپلو کښلو د منلو له پاره مې ګړنديتوب او بيړه اسانه نه وه، ګواکې داسې پام مې کوه چې زه به نور هم بريالی وم کله چې وار په وار مې پورتنې شيان د پرمختلو څښکړنو له پاره چارچول، او د خپلې زده کړې له پوهې مې کښل.

ګواکې دا ده چې کنه نو هر همغه څه چې مې ليکل لومړی مې همغې ته ښه فکر کو، بيا مې پلان جوړه وو ورته، بيا مې ليکل پيلول او بيا مې کتل چې څه مې زړه و همغه مې لرېکول او يا پر ځای پرېښودل، د ليکلو پام مې په دې بڼه د بريا له پاره چارچولو. سربېره پر هغو، د پښتو داسې غونډلې د ريسرچ پانې ( د څېړنې چوپړي) کې راسره لا ملا تينګه وي. ترې ګټه مې اخيستې او له پښتو يې اېنګلېسې ته ژباړه په دوې لېندی‌يو کې اوډون کړې.

لکه:

۱. له همغه سره سم (According to X)

۲. د همغه په اند کې (in the opinion of X)

(c) ketabton.com: The Digital Library





۳. د هغه څرګندول چې روښوي کتنه داسې (X eXpressess the view that)
٤. هغه نظریه داسې کوي (X presents the idea that)
٥. لکه څنګه چې دا وايي (as X says)
٦. لکه څنګه چې راپورشوی د هغه په واسطه (ar reported by X)
٧. زده کړه داسې ښايي (the study shows that)
٨. د هغې پلټنه داسې په ډاګه شوي، یا د هغې څېړنه داسې ښودل شوي. (her research reveals that)
٩. دا څېړنه داسې سپېنې ته باسي (this research proves that)
۱۰. د دې پیله ساده برابر وي دا (their results demostrate that)
۱۱. له ټولو نه وړاندې (First of all)
۱۲. بل لورې ته (On the other hand)
۱۳. زما په نظریې (In my opinion)
۱٤. په ټولو کې همداسې (All in all)
۱٥. په دې پوښ (قضیه) کې (In this case)
۱٦. دا به داسې ښکاريږي (It can be seen that)
۱۷. د دې بېلګه داسې ده (An example of this is)
۱۸. دا نو داسې نه ورته نه شو ویلی. (This is not to say that)

د دې څېړنچوپړو (ریسرچ پانو) د بوړولو (جوړولو) موخه د آمو سینیزې سیمې (سیندیزې حوزې) د پولې اوبو پورې اړوند نغښتي توکي، د هغوی د اغېزې، د هایدرومیټرولوژیکي ستېشنونو شننه، د بریښنا د پیداوارو کچې شننه، د کوش تپې لویې ویالې ګټنه، د ټاټوبي اړوندې ویالې سیمې ګټه ګونې تود بخړو سپینې ته باستنه او همدارنګه د لوستونکو پوهول او پردیو ته رمټ ځوابونه څرګند وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ښتکړنو ته د فردوس ښتکړنې.

### ٤. ۱ د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ښتکړنو په وړاندې د فردوس ښتکړنې تراڼ ( پيل، شروع، بريد)

د اوزبېکېستان ( ازبکستان) ښاغلی ولسمشر شوکت مرضايوف. دا چې تاسو يوه ښه ولسمشر په منځنۍ اسيا کې يئ، په ټوله کې د خپلو وګړو سوکالي، ارامي، خوشحالي، سرلوړي، ښداينه او ودنه غواړئ. افغانستان هم له تاسو څخه په ورته ښه تمه لري، د دې له پاره چې تاسو که له دې پولې څخه بېل شوي يئ خو د ټولو دود، کلتور، فرهنګ او د ډېريو ولسونه آن ژبه سره يوه ده.

افغانستان د منځنۍ اسيا د ټولو هېوادنو لوی کور دی؛ دا ټول کوشني کورونو ترې کرار، کرار د پېخليک په اوږدو کې بېل شوي دي. لکه د يوه لوی کهول (کورنۍ ) له نيکه ( بابا) څخه چې زوزان ( زوزات يا اولادونه) بېل شوي وي او ځان ته هر يوه بېل کور ودان کړي. په رښت کې افغانستان هم په همدې ښه دی، هېڅ کله نه غواړي چې بېلو شويو کوشنيو کورونو ته زيان و رسوي، په هېڅ ډول نه، اوس هم د افغانستان اسلامي نظام په لويه کې په همدې پام، اند (فکر)، واند(خيال) او ولوله (احساس، عاطفه) کې دی، لکه د يوه مشر ورور په ډول چې د منځنۍ اسيا ټولو هېوادونو سره ښه او غوره چلن، لوړپيرې کړه وړو سلوکو، ګټوره ډيپلماسۍ او په لويه کې د ټولې اسيا زړه دی. د زړه په ډول د ټولې اسيا په تن کې خپل اوږدپيری کردار سرته رسوي.

د دې له پاره افغانستان د فارسي ژبې، اوزبيکي ژبې، تاجکي ژبې زانګو او د پښتو ژبې ټاټوبی دی. هغه مېړني، سرغندوي (مشهور) سپېڅلې اتلان، غښتلي او ننګيالي يې غېږ کې زېږولي دي، چې د نوموړو ژبو بنسټ يې رغولی دی. لکه اميرکبير کاشان په بخدي کې زوکړه شوی بيا فارس ته کډوال شوی او د فارسي ژبې بنسټ يې ايخښی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، همداسې علي شير نوايي په هرات کې زوکړه شوي او اوزبيکي ژبې بنست يې ايخښې، همداسې ابوريحان البيروني تاجکي ژبه، اوبو علی سينا بلخي، جلال الدين محمد بلخي اوډون کړی او همداسې اخون درويزه چې لغمان کې زوکړه شوی، بيا ننګرهار او له ننګرهار پېښور ته تللی مياروښان ځخه، مياروښان او اخون درويزه د پښتو ژبې اوډوون رغښت کړی دی.

پورتنيو ټولو خپل ټاټوبی افغانستان د زړه په مينه ګڼلی او ګڼلی وو.

تاسو ته کره معلومات شته چې افغانستان په دې غونډوځکه ( کوره يا کره) کې يوه غرنی هېواد دی چې له سلو ۸۰٪ يې غرونه دي؛ يا ۱/۳ يوه پر درې برخې يې غرونو نيولې ده. ,, په هېواد کې ۱،۵۹٦ نومول شوي غرونه شتون لري. غرونه د ځمکې له سلو ۸۰٪ پوښي.،، د ليکوال ژباړه او څه غځونه يې (سويتلانا، ۲۰۲۳ زېږدی، ۴ چوپړی)

,, د ټولې ځمکې کچه يې ۶۵۲،۸۶۰.۰۰ مربع کيلو مېتره دی، په اسيا کې يوه له هغه هېوادونو ځخه دی چې په پينی (نړی) کې ۴۲ لوی هېواد دی، په منځنی کچه د سمندر له مخ ځخه ۱،۸۸۵ مېتره لوړ دی، د غورونو تر ټولو هسکه لړی د نوشاخ سوکه ده چې د سمندر له مخ ځخه ۷،۴۸۵ مېتره لوړوالی لري، چې په نړی کې تر ټولو لوړ هېواد دی، پلازمينه يې کابل دی، له نيوارک ښار د ملګرو ملتونو له دفتر ځخه ۱۰،۸۵۰ کيلو مېتره واټن لري، د ځمکې کارول له سلو ۵۸٪ يې کرنيزې سيمې: ۳۷۹،۱۱۶.۰۰ ځلورځنډې (مربع) کيلومېتر دي. له سلو ۲٪ يې ځنګلونه دي: ۱۲،۰۷۸.۰۰ مربع کيلومېتر دي. له سلو ۴۰٪ نور: ۲۶۱،۶۶۶.۰۰ مربع کيلو مېتره نورې سر ګډې دي،، د ليکوال ژباړه او څه غځونه يې (ورډ ډاټا.انفو، ۲۰۲۳، ۵ چوپړی)

۱۲۶ بېليونه درېنګلې (مکعب) مېتر يخ (شا او خوا ۱۱۳ بېليونه درېنګلې مېتر اوبه) د چارپېريال د هواويچې (اقليم) د بدلون له امله رامنځ ته کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ځنګړنو ته د فردوس ځتکړنې.**

زه خپلې څېړنې د پخوانيو توکو خپرولو ( له چاپه سلامتې تېرې کړو کښلو) سره د نوي ليد سره سپينې ته را اوباسم. چې الله العظيم په خپل لويې لوروينې توان څخه د هېند سمندر څخه اوبه را پورته کوي، بيا يې د وربځو په واسطه باندې زموږ په غرونو په يوه کال کې ۲۲ واره پورې سپينې واورې، غرونه مو د ناوو په ډول ښکلي او سينګاروي چې د ۶۳ سينونو له لارې ۶۰,۸۲۱,۱۳۵,۷۲۶.۶۹ درېنګلې مېتره لمده واوره د هواويچې بدلون باندې ويلې کېږي او د نوموړو سينونو له لورې ۳۷,۴۱۴,۰۰۰,۰۰۰.۰۰ درېنګلې مېتره اوبه امو سين ته غورځوي. د اوزبېکستان له پولې څخه وړاندې.



انځور ٤. ١ واخان، بدخشان افغانستان

ربښتنې ربښت د وېشلو اوبو داسې دی، کره بې لورې ربښت په ډاګيلې بڼه همدا دی او د څېړنو پيله ساده برابر وي دا چې امو( اکسيوس يا جيهون) سين کې د افغانستان ۳۷.۴۱۴ بېليون درېنګلې مېتر منځنۍ کلنۍ ابو ونډه ده او د امو سين کې د تاجکېستان، کېرغېزستان، اوزبېکېستان، تورکمېنېستان څلور واړو هېوادونو ۵۹.۴۱۴ بېليون

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې وياليې جوړولو په وړاندې د اوزبېکپېستان ولسمشر څېټکړنو ته د فردوس څېټکړنې.**

درېنګلي مېټر منځنۍ کلنۍ ابو ونده ده. ټوټال امو( اکسيوس يا جيهون) سين ۹۷.۴ بېليون درېنګلي مېټر منځني کلنۍ اوبه غورځونه کچه ده.



**انځور ۴. ۲ هېندوکوش، بدخشان، افغانستان**

په منځنۍ اسيا کې د امو سين څخه د کروندو خړوبلو د کرکيلي کروندو د مېچې کچه په ټوله کې ۳۲.۶ مېليون اېکتاره د خړوب وړ ځمکې په دې سيمه کې شتون لري.

۱) ۲.۳ مېليون اېکتاره د خړوب وړ ځمکې يې په اوزبېکستان شتون لري.
۲) ۱.۷ مېليون اېکتاره د خړوب وړ ځمکې يې په تروکمېنېستان شتون لري.
۳) ۱.۲ مېليون اېکتاره د خړوب وړ ځمکې يې په افغانستان کې شتون لري.
٤) ۰.۱ مېليون اېکتاره د خړوب وړ ځمکې يې په کرغېزېستان کې شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې وياليې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څېکړنو ته د فردوس څېکړنې.**

۵) ۰.۵ مېليون اېکتاره د خړوب وړ ځمکې يې په تاجيکېستان کې شتون لري.

۱.۲ مېليون اېکتاره (۶ مېليون جريبه ) د خړوب وړ ځمکې يې په افغانستان کې شتون لري. چې دا ځمکې د افغانستان د اوبو د کچې پيداوړو په مېچه ډېرې لږې دي، ان د ټکي ( صفر، هېڅ ) سره برابرې دي. نومورې د خړوب وړ ځمکې ډېرې لږې اوبو ته اړتيا لري، سرباري اوبو ته موږ اړتيا نه لرو، چې بندې او يا و يې ساتو. ستاسو لورې ته يې پرېږ دو. داسې هم نه کوو چې د اندخوی له لارې يې د ترکمانستان په تېرېدو مشهد ښار د ايران ته ۵۱۵.۷۷ کيلومېتره په کچه و لېږده وو. هغه د ايران په زړه که مصارف يې پرې کوي، د افغانستان اسلامي نظام ودانونې ته روزل شوي اېنجينېري يې د سرته روسولو وړتيا لري.



**انځور ۴. ۳ هېندوکوش غرونه يا هوماليا غرونو لړی، بغلان، افغانستان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ځتکړنو ته د فردوس ځتکړنې.**

په منځني ډول، په يوه فصل کې د وريجو د يوه هکتار فارم ځړوبولو له پاره شا او خوا ۳،۰۰۰.۰۰ څخه نيولې تر ۵،۰۰۰.۰۰ مکعب مېټر اوبو ته اړتيا لري. لکه څنګه چې راپور شوی د کرنې او اوبو لګولو او ملداری وزارت په واسطه ۴،۸۰۰.۰۰ څلور زره او اته سوه درېنګلې مېټر اوبو ته اړتيا لري په ډاکه شوې.
د نړۍوالو رښت په ستړه له پولې پورته تر اسمانه او له پولې لاندې د ځمکې تر تله د افغانانو رښت دی، چې له خپلو ټاکلو او يا په منځ دوې ځايه شو اوبو کچې څخه ګټنې د کېڼ (ليفټ ايريګشن) ځړوبولو له لارې له امو سين څخه اخلي په هر، هر ځای کې او که په خپل ځاني غځولو د اوبو ( په خپل سلوپ ) اخلي. کچه يې ډېره لږه ده. تاسو ته خپله برخه در رسېږي.

فصل: غنم، د ځړوبولو لاندې ځمکه ۴۵۰،۳۳۰.۰۰ (هکټاره)، د اوبو کارولو کچه ۱۳،۷۱۳.۰۰ مکعب مېټر پر اېکتاره؛ وربشې، د ځړوبولو لاندې ځمکه ۴،۵۵۴.۰۰ (هکټاره)، د اوبو کارولو کچه ۱۳،۵۶۰.۰۰ مکعب مېټر پر اېکتاره؛ د وښو فصلونه، د ځړوبولو لاندې ځمکه ۱۵۱،۳۰۱.۰۰ (هکټاره)، د اوبو کارولو کچه ۳۹،۰۰۰.۰۰ مکعب مېټر پر اېکتاره؛ خورما، د ځړوبولو لاندې ځمکه ۱۵۵،۷۳۴.۰۰ (هکټاره)، د اوبو کارولو کچه ۹،۱۰۰.۰۰ مکعب مېټر پر اېکتاره؛ ختکې، د ځړوبولو لاندې ځمکه ۱۱،۵۲۸.۰۰ (هکټاره)، د اوبو کارولو کچه ۱۳،۵۶۰.۰۰ مکعب مېټر پر اېکتاره؛ هندوانې، د ځړوبولو لاندې ځمکه ۱۹،۴۵۵.۰۰ (هکټاره)، د اوبو کارولو کچه ۱۳،۵۶۰.۰۰مکعب مېټر پر اېکتاره؛ نورې ميوې، د ځړوبولو لاندې ځمکه ۲۲۹،۴۲۳.۰۰ (هکټاره)، د اوبو کارولو کچه ۱۰،۱۰۰.۰۰ مکعب مېټر پر اېکتاره؛ او ټول سبزيجات، د ځړوبولو لاندې ځمکه ۱۱۲،۱۶۳.۰۰ (هکټاره)، د اوبو کارولو کچه ۱۸،۰۰۰.۰۰ مکعب مېټر پر اېکتاره. د کرکيلې کروندو بېلابېلو فصلونو له پاره د ۱ يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څېکړنو ته د فردوس څېکړنې.**

هکتار ځمکې له پاره د اوبو لګولو اړتياوې (د FAQ، ۱۹۹۸، SSYB، ۲۰۰۸ وروسته په کې بدلون راوړل شوی)،، د ليکوال ژباړه له څه غځولو سره (محمد اي، ۲۰۰۸ زېږدی، ۱ چوپړی)

تاسو د هر تن خبرو ته ژر سمه ده مه وايئ، چې د اسيا په ګډه ناسته کې همدې خبرې ته متې را بډ وهئ، په لويه کې د ټولې اسيا په سوکالۍ کولو کې قدم پورته کړئ، د اموسين په پورتنۍ برخه کې د ۲۰،۰۰۰.۰۰ شل زره ميګاواټ د زرغونې برېښنا له پاره لاس سره يوه کړئ، لګښت ستاسو، توکي د تاجيکيستان او بشري زېرمې د افغانستان، په لګښت له ګاونډي چين څخه نادره او سرغندوي نوم کښونکي نوي او مډرنه له سترو ستر اسباب و پيرئ او د اته کلونو ورسته د ټولې منځنۍ اسيا هر وګړي ته وړيا برېښنا چمتو کړئ، دې ټکي له پاره ښه پام ورته و کړئ او بيا ورسته لاس په کار شئ، بل لورې ته مه لاس په کار کيږئ ځکه لوی الله ج په قران پاک ۲۶ سيپاره، ۴۹ سورت د حجرات په ۶ شمېره ايات کې وايي: ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ ﴾ (القران الکريم، ۲۰۰۳ زېږدی،۵۱۶ چوپړی). د ليکوال ژباړه ,, خدای تعالی امر کوي چې د فاسق د خبر څېړنه و کړئ ترڅو له هغه څخه ځان و ساتئ، داسې نه وي چې د هغه په بيان باندې پرېکړه و شي او په دې قضيه کې دروغ يا غلتي وي او د هغه د خبر (بيان) په اړه پرېکړه (قضاوت) تعقيب شي. الله تعالی د فاسقانو لاره حرامه ګرځولې ده او له دې ځايه د خلکو ډلې د يوه نامعلوم کس د روايت له منلو څخه نټه کړی دی، پخپله د هغه د فاسق کېدلو امکان نه شته او نورو يې هم و منله ځکه چې موږ يوازې د غوره فاسق شخص سره د څېړنې ( پلټنې او تصديق) کولو امر شوی و او دا د بدکارۍ يقين نه دی ځکه چې حالت نامعلوم دی.،، (ابن کثير، ۷۵۱ ليږدی، ۳۵۵ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څټکړنو ته د فردوس څټکړنې.**

ژباړه ( ای هغو کسانو چې تاسو ايمان راوړی دی (مسلمانان يئ)، که چېر ته راتګ و کړ تاسو لره فاسق او بد کار! په يوه خبره سره، نو تاسو په ښه تحقيق په کې و کړئ، له جهته د وېرې د دې چې و به رسوي تاسو يوه قوم لره ضرر او تاوان په ناپوهۍ سره نو پس و به ګرځئ تاسو په هغه څه سره چې کړي مو دی خفه او پښېمانه )

تفسير: ټولې شخړې او جګړې، بغض او عداوت، انسان ته د دروغو له لارې پيښيږي، نو له دې خاطره الله تعالی ج بندګانو خپلو ته ارشاد فرمايي که چېرې تاسو ته کوم بد کاره انسان په کومه موضع کې خبر در کړ! تاسو په هغې کې ډېر فکر و کړئ، حق او باطل، رښتيا او دروغ يې ښه ځان ته ثابت کړئ، ورسته له هغې څخه په حل د موضوعاتو باندې اقدام و کړئ، له پاره د دې چې په احساساتو او تنګ نظري سره مو که کومه خرابي او ضرر رسولی وي، بيا يې جبيره مشکله او پښيماني يې هم څه په درد نه خوري، چې په دې صورت کې به ګر يا ظلم بر قرار او عدالت به نړيدلی وي، حال دا چې انسان بايد عدالت بر کرار کړي او د ګر رښې له بېخ څخه و باسي. ،، ( افغانستان د عالمانو علمي استازي (هيئت). کابل ، ۱۹۴۵ زېږدی، ۱۲۰۷چوپړی )

د پينی ( پنډوسکي، ځمکي) پر مخ د هر څېز د پيدايښت ماده، د هغوی بنسټيزه برخه اوبه دي. دا د الله تعالی له قول سره سم دي:
﴿ وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ ﴾ [الأنبياء سورت: ۳۰ ايت] ,, او موږ هر ژوندی شی له اوبو څخه پيدا کړی دی،، [الانبياء: ۳۰] (ابن کثير، ۷۵۱ ليږدی، ۵۵۴ چوپړی)
له اوبو څخه ژوند زوکړه يا هر څه په اوبو ژوندي پاتې کيږي له اوبو پرته ژوند شتون نه لري، د هر ژوي (انسان او حيوان)، نباتات او هر شی په اوبو پايښت کوي. لوی الله ج د نطفې له څاڅکي څخه يې ويلاړ و کړه چې هر حيوان په اوبو کې پيدا شي لکه آدم عليه السلام چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ځتېکړنو ته د فردوس ځتېکړنې.**

اوبو او ختو څخه پيدا کړه؛ د هرڅه روح يې په اوبو ژوندګړ و ساته. په دې اساس رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه شيخ ته و فرمايل چې د بدر په جګړه کې يې ترې و پوښتل: ته له چا څخه يې؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم و فرمايل: ,, موږ له اوبو څخه جوړ يو.،،

په همدې ډول احمد او مسلم ويلي دي: عن ابی هريرة ان رسول الله قال: ,, **النيل و سيحان و جيحان و الفرات من انهار الجنة**،، وهذا القول نفسه رواه کعب الاحبار اذ قال: ,, **اربعة انهار من الجنة وضعها الله عز و جل فی الدنيا فالنيل نهر العسل فی الجنة والفرات نهر الخمر و سيحان نهر ماء فی الجنة و جيحان نهر اللبن فی الجنة**،،
احمد او مسلم له ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم و فرمايل: ,, نيل، سيحان، جيهان او فرات د جنت له سينونو څخه دي.،،

دا خبره کعب الاحبار رضي الله عنه روايت کړې ده کله چې هغه و ويل: ,, د جنت څلور سينونه لوی الله په دې دنيا کې ايښي دي: نيل په جنت کې د شاتو سين دی، فرات په جنت کې د شرابو سين دی او سيهان په جنت کې د اوبو سين دی او جهان په جنت کې د شيدو سين دی.،،
موږ او تاسو ته الله العظيم جنتي سين راکړي دي. لکه د پوښ کړو شېدو چای په ډول رنګ لري، د وګړو، ژويو ( انسانانو او حيواناتو)، نباتاتو، الوتونکو او د هر څېز د پايښت جوګه دی.

**په تېوله کې همداسې د اوزبېکېستان ښاغلي ولسمشر شوکت ميرزيايف تاسو چې د دوشنبې په ښار کې د منځنۍ اسيا د هېوادونو د مشرانو په پېنځمه پرلغښتې غونډه کې په افغانستان کې د کوشتپې کانال پر جوړېدو نيوکه وکړه. د تراڼ په بڼه در ته زما په راتلونکې پېر کې زما څېرنې د تاتوبي په لويه کې ګټنی ساينسي خلاص پرلغښتی (سيستماتيک) ځواب په ګوته کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲۲ چوپړی**

د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څېکړنو ته د فردوس څېکړنې.



انځور ٤. ٤ د اکسوس يا جيهون يا امو سين انځور، چې د روسيې ځواکونو له لورې امو سين ته غورځول شوی ټانګ دی، اوس د بلخ ولايت، حيرتان ښار، د حرتانو پله سره د امو سين پر ژۍ کې پروت دی چې د يوه لوی ځواک پاتېشونې څرګندونه کوي.



انځور ٤. ٥ د پنج سين پر سر د خان اباد پول، خان اباد ولسوالۍ، کوندوز، افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٤. ۲ د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ښتکړنو په وړاندې د فردوس ښتکړنې.

د کوش تپې لويې ويالې په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ښاغلي ميرزايوف ښتکړنو (عکسل العملونه) چې په تاجيکېستان کې د اورال سمندرګي د ژغورنې د نړۍوال هرېۍ (صندوق) بنسټ اېښودونکو هېوادونو په سرمشريزه کې و ويل ,, د کوش تپې لويې ويالې (کانال) له لارې د اوبو استفاده به په منځنۍ اسيا کې د اوبو د لګښت نظم او انډول ته بدلون ورکړي.،،

[ په پيلني ځواب کې دا سپيني ته را اوباسم چې ساده ځواب برابروي دا، د اوزبېکېستان ولسمشر ښاغليه!؛ د کوش تپې کانال له لارې د اوبو استفادې څخه مخکې تاسو په منځنۍ اسيا کې د اوبو د لګښت نظم او انډول ته بدلون ورکړی دی؛ د امو سين څخه د منځنۍ اسيا هېوادونو په تېرو کلونو کې له خپلې ونډې څخه بې کچې ګټه اخستې!؛ روسانو د امو سين له پنځې (طبيعي) لارې څخه اړولی او بدلون يې د اوبو لګولو په لويو، لويو ويالو (کانالونو) په واسطه په اوزبېکېستان او تورکمېنېستان کې کړی دی، له اورال سمندرګي څخه يې د امو سين مخ اړولی، په ځانګړې توګه تورکمېنېستان د کراکوم لويې ويالې ( قره قوم کانال) له لارې يې کسپين سمندرګي ته غځولې. يوازې په تورکمېنېستان کې يې شا او خوا يوه مېليون هکتاره کرنيزه ځمکه تر کرنې لاندې راوسته. د آمو زوړ سين نور پاتې نه دی. د اورال سمندرګی وچ شوی او دواړو د افغانستان په ګډون ټوله سيمه اغېزمنه کړې ده. ]

د اوزبېکېستان ولسمشر ښاغلي ميرزايوف دوېيمه ښتکړنه په دغې سرمشريزه کې ,, د کوش تپې لويې ويالې د ټولو اړخونو او د امو سين پر تړ (شرط، وضع، حالت، د يوه شي د پيدا کېدو له پاره په زړه پورې فضا، د حالاتو څرنګوالی، وړ شرايط، کيفيت، د قرار داد يا تړون شرط،

(c) ketabton.com: The Digital Library



حالت، موقف یا وضعیت) یې د اغېزو د څېړلو له پاره د اسلامي امارت په ګډون د یوې ګډې ډلې پر جوړېدو ټینګار و کړ.،،

[ دوېیم ځواب داسې سپینې ته را اوباسم چې ساده ځواب برابروي دا، د اوزبېکېستان ولسمشر ښاغلیه!؛ دا تر ټول غور څرک په لاس ور کوي، د منځنۍ اسیا ټول هېوادونه چې د آمو په سین کې ونده لري ټول سره په ګډه او یوه ځای یوې پرېکړې، یوې تړې ته ور رسېږي او بیا دې په ګډه سره د امو سین پر تړې د اغېزو د څېړلو له پاره د اسلامي امارت ته را وړاندې شي!؛ په روان پېر کې هېڅ د افغانستان اسلامي امارت ته ګټه ور نه برېښي چې بېلا بېل له هره هېواد سره تړه و کړي، د دې له پاره چې تاسو په خپلو منځونو کې سره د امو سین د اوبو په اندول کې سره شخړې و لرئ او هغه دې سره روغې شوې نه وي.

د افغانستان اسلامي امارت ستاسو دغو څرګندونو په تړاو تر دې وړاندې یې ویلي وو، چې د کوش تپې لویې ویالې له لارې د امو سین له اوبو ګټه اخېستنه د افغانستان اسلامي امارت خپل ربښت (حق) دی او ټینګار یې کړی چې د افغانستان اسلامي امارت اړتیا نه لري، چې د نورو هېوادونو اوبه واخلي.

د افغانستان اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد د ۱۴۰۱ کال د سلواغې په ۳۰مه ویلي و:،، یوه څاڅکی اوبه هم له نورو هېوادونو څخه نه اخلو، اړتیا نه لرو او نه غواړو چې وایې خلو. نو هېڅ ګاونډی هېواد دې اندېښنه نه لري او له اوزبېکېستان هېواد سره ډېرې ښې دوستانه اړیکې لرو. زموږ باور دا دی چې تاسو د افغانستان د ابادۍ او په پښو درېدو پلویان یئ. او په دې برخه کې له موږ سره همکار یئ.،،

د اوزبېکېستان ولسمشر ښاغلي میرزایوف درېیمه څټکړنه په دغې سرمشریزه کې ،، تاسو ښه پوهېږئ چې افغانستان په فعاله توګه د دغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څټکرنو ته د فردوس څټکرنې.**

لويې ويالې پر جوړولو بوخت دی. د کوش تپې لويه وياله فعالول ښايي په منځنۍ اسيا کې د اوبو د مصرف په نظم او انډول کې بنسټيز بدلون راولي. موږ باور لرو، چې د کوش تپې لويې ويالې د جوړېدو او د امو سين د اوبو پر ګټنې يې د اغېزو د څېړلو له پاره د افغانستان اسلامي امارت په ګډون زموږ د هېوادونو د څېړنيزو انسټېټيوټونو په ګډون د يوې ډلې جوړېدل اړين دي.،،

[ په درېيم ځواب کې دا سپيني ته را اوباسم چې ساده ځواب برابروي، د اوزبېکېستان ولسمشر ښاغليه!؛ د کوش تپې لويې ويالې جوړولو او ګټنې ته د سپارل د ټولو افغانانو غوښتنه او د بشر لرغونې مينې بخدي (بلخ) اوارې پرتې سيمې چې د اوبو له نه شتون سره لاس او ګريوان دي لوړه غوښتنه او لوړه اړتيا ده، په سرلوړې ښه ګټنې ته د سپارې د رغښت چارې په چار وي.

که تاسو د اوبو د توازن په اړه خبرې و کړئ، نو تاسو بايد د امو سين د اوبو په ونډې او رښت ( پيمانه او حق) خبرې و کړئ، نه يوازې د يوه يا دوې ګډون کوونکو هېوادونو (تورکمېنېستان، اوزبېکېستان او تاجکېستان) په کچه. په دې پېر (وخت) کې د ټولو افغانانو په خولې د اوبو پنځې طبيعي توازن ګډوډ کړی و کله چې: تاسو پرته د افغانستان له ايجازې او خبرولو په خپل سر او زړه له امو سين څخه د لويو ويالو (کانالونو) تېرېدل د خړوبو اوبو له لارې د خړوبو اوبو د سطحې د لوړېدو لامل شول او ډېرې ځمکې يې په خړو خړو خاورو بدلې کړې. تورکمېنېستان له ۶۰ کلونو وروسته لا هم د خپلو کرنيزو ځمکو د مالګينتوب د له منځه وړلو له پاره مبارزه کوي.

کله چې د منځنۍ اسيا هېوادونو د امو سين په څنډو کې د يوه اړخيزې کلابندۍ په جوړولو پيل و کړ او امو سين د افغانستان په لور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ښتکړنو ته د فردوس ښتکړنې.**

و خوځېد، هر کال د افغانستان په سواحلو کې سلګونه هکتاره کرنيزه ځمکه د امو سين پر غاړه و غورځېده او دا لړۍ دوام لري. هر کال په دغو لاس په کار کېدو (اقداماتو) او د امو سين له اوبو څخه د يوې اړخيزې ګټنې (استفادې) په اړه ان (حتی) افغانستان هم نه دی خبر شوی. له همدې امله، د افغانستان د ټولو و ګړو حساب د منځنۍ اسيا ډېرې هېوادونه سره شتون لري.

د افغانستان ټول علمي وګړي، د اوبو رسولو او خړوبولو اداري او څېړنيزو انستېټيوټونو ډلې د اوبو کره معلوماتو د شريکولو او خړوبلو له پاره غواړي. چې د امو سين د اوبو اندول مېچې ټولواله (سيستم) اوډون وي. په دې بڼه نه لکه زموږ ګاونډي هېواد ايران خپل د اټومي بټيو معلومات له نړۍ والو پلټونکو څخه پټوي او له اوږده پېره ناسم معلومات په لاس ور کوي. له تاسو څخه د روغو او سمو معلوماتو په لاس ورکولو سر بېره د ښه کړه وړه او ښه سلوکو تمه لري.

موږ نياو دې ته وايو چې هر هېواد ته خپله، خپله برخه بې لورې پرته له کوم، تاوتريخوالي، بيځايه طرفداري، زيان، تاوان و وېشو( تقسيم ) کړو. د دې له پاره د امو سين کره، نوي، څېړنېزې، ربښتې پايله ساده برابروي دا او داسې ده چې امو سين د پامير له لويو سړوبو د پنج لوی سين سر څخه پيل، په لار کې ورسره د تاجکېستان سينونه مل کيږي د تاجکېستان او افغانستان پوله جوړ وي، ور په سې د افغانستان او اوزبېکېستان پوله جوړوي، د تروکمينېستان تر پولې ښنډه کې د ننه کيږي د تورکمېنېستان او اوزبېکېستان پوله جوړ وي او د اورال بحيرې ته غور ځيږي چې ۹۷.۴ ببليونه درېنګلې مېتر منځني کلنۍ اوبه غورځونه لري چې له سلو ۶۱ ٪ يې د تاجکېستان، کېرغېزستان، اوزبېکېستان، تورکمېنېستان ونډه ده او له سلو ۳۹ ٪ يې د افغانستان ونډه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې وياڵې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ځتکړنو ته د فردوس ځتکړنې.**

ربښتني ربښت د وېشلو اوبو داسې دی، کره بې لورې ربښت په ډانګېپيلې بنه همدا دی او د ځېړنو پيله ساده برابر وي دا چې امو( اکسيوس يا جيهون) سين کې د افغانستان ۳۷.۴۱۴ بېليونه درېنګلې مېتر منځنۍ کلنۍ ابو ونده ده او د امو سين کې د تاجکېستان، کېرغيزستان، اوزبېکېستان، تورکمېنېستان ځلور واړو هېوادونو ۵۹.۴۱۴ بېليونه درېنګلې مېتر منځنۍ کلنۍ ابو ونده ده. ټوټال امو ( اکسيوس يا جيهون) سين۹۷.۴ بېليونه درېنګلې مېتر منځني کلنۍ اوبه غورځونه کچه ده.]

## ٤. ۳ په منځنۍ اسيا کې د امو سين څخه د هر و ګړي په سر اوبو د مېچې کچه

د امو سين څخه افغانستان کې د هر و ګړي په سر ۲۱۶۳ مکعب مېتر ور سېږي خو تر ۴۴۱ مکعب مترو پورې له کوش تپې له بوړېدو سره، سره لړې ورسېږي، تاجيکېستان، کرغېزېستان کې د هر و ګړي په سر ۱۰۰۰-۲۰۰۰ مکعب مېتر پور اوبو برخه ور سېږي او ګټه ترې اخلي، اوزبېکېستان ۲۰۰۰-۳۰۰۰ مکعب مېتر پورې اوبو برخه ور سېږي او ګټه ترې اخلي او تروکمېنېستان کې د هر و ګړي په سر ۳۰۰۰-۶۰۰۰ مکعب مېتر پورې اوبو برخه ور سېږي او ګټه ترې اخلي.

تاجيکيستان پرې د نورک بند ۲۷۰۰ ميګاواټه برېښنا پيداوار زورنه لري، راعون بند ۳۶۰۰ ميګاواټه برېښنا پيداوار زورنه له اوبو رسولو سربېره لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٤. ٤ د امو سين لندمنګي تولواله ( سيستم )

د افغانستان له ۶۳ سندونو څخه چې سره ګډېږي زموږ د امو سين

ترې بوړېږي (جوړېږي).

لکه: باميانو د تالا برپک سورخ آب سين، فولادي سين، سيغانو سين، پيينده سين، د سالنګونو سين، د اندراب سين، خان اباد ورود ( لر کوندوز لوی سين ۶۰۰ مېليونه مکعب مېتر کلنی منځنی اوبو تشيدني کچه، د سېمي کچه يې: ۱۲۵۲۶ مربع کيلومېتره، په هر کال کې منځنی کلنی ورښت: ۳۹۵ ميلي مېتره، ځانګړی د وتلو جريان[l/skm²] RSP : ۱.۵ پر سانيې کيلومېتر مربع دی)؛ بنګی سين، تالکانو (تالقانو) سين، فرخار سين (بر کوندوز لوی سين ۳۶۰۰ مېليونه درېنګلي مېتر کلنی منځنی اوبو تشيدني کچه، د سېمي کچه يې: ۱۶۵۲۴ مربع کيلومېتره، په هر کال کې منځنی کلنی ورښت: ۵۳۰ ميلي مېتره، ځانګړی د وتلو جريان[l/skm²] RSP : ۶.۹ پر سانيې کيلومېتر مربع دی)؛ (تالقان لوی سين ۲۴۰۰ مېليونه درېنګلي مېتر کلنی منځنی اوبو تشيدني کچه، د سېمي کچه يې: ۱۰۸۸۸ مربع کيلومېتره ، په هر کال کې منځنی کلنی ورښت: ۷۹۷ ميلي مېتره، ځانګړی د وتلو جريان[l/skm²] RSP : ۷ پر سانيې کيلومېتر مربع دی)؛ کوکچې سين، انجمن سين، زرديو سين، کشم سين، (کوکچه لوی سين ۶۴۰۰ مېليونه درېنګلي مېتر کلنی منځنی اوبو تشيدني کچه، د سېمي کچه يې: ۲۲۱۹۴ مربع کيلومېتره ، په هر کال کې منځنی کلنی ورښت: ۷۴۸ ميلي مېتره، ځانګړی د وتلو جريان [l/skm²] RSP: ۹.۱ پر سانيې کيلومېتر مربع دی)؛ پنج سين، واخان سين، پامير سين، شيوه سين، جوی سين، شهر سبز سين، کوف آب سين، ايش آب سين، اونجاب سين، ياوان سين، زيرکی سين، راغ سين، بدخشان سين (بر پنج لوی سين ۳۶۰۰۰ مېليونه درېنګلي مېتر کلنی منځنی اوبو تشيدني کچه، د سېمي کچه يې: ۱۷۱۹۵ مربع کيلومېتره ، په هر کال کې منځنی کلنی ورښت: ۴۳۷ ميلي مېتره، ځانګړی د وتلو جريان[l/skm²] RSP : ۱۹.۷ پر سانيې کيلومېتر مربع دی)، چاه آب سين، آی خانم پنج سين، رستاق سين (لر پنج لوی سين ۶۰۰۰ مېليونه درېنګلي مېتر کلنی منځنی اوبو تشيدني کچه، د سېمي کچه يې: ۱۱۶۱۱ مربع کيلومېتره ، په هر کال کې منځنی کلنی ورښت: ۶۳۸ ميلي مېتره،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ځتکړنو ته د فردوس ځتکړنې.**

ځانګړی د وتلو جريان[l/skm²] RSP : ۱۹.۷ پر سانيې کيلومېتر مربع دی)، (شورتپه ۵۲۴۰۰ مېليونه درېنګلې مېتر کلنی منځنی اوبو تشيدنې کچه، د سېمې کچه يې: ۵۰۰۵ مربع کيلومېتره ، په هر کال کې اوسط کلنی ورښت: ۱۷۹ ميلي مېتره، ځانګړی د وتلو جريان RSP [l/skm²]: ۱.۵ پر سانيې کيلومېتر مربع دی).

پامير او بداخشان سين اوبه مو دي يا ۶۳ داني تتي (تتی يې يکی وی ده، تشتونه، کنډولي، تغارې يا ډنډوکي، basin) دي چې امو سين ترې جوړيږي.

امو سين چې زموږ د افغانستان له ۶۳ سينونو (چې ۲۴ د کوندوز سينونه مرستيالان ځي د کوندوز سين ترې رغښت نيسي او په همدې بنه دا نور، ۱۵ د کوکچې سينونه، ۶ د پامير، ۸ د بدخشان او ۳ د لر پنج سينونه) او له ۵۳ د تاجيکيستان سينونو ( چې ۱ کوفارنيهان سين، ۱ سورخان سين، ۳۹ د پنج سينونو او ۱۷ د وحش سينونو + ۳ د درې برخو زېرمه يې له کېرغېزستان ځخه پيل ده) د اوبو غورځيدو ځخه رغښت نيسي.

د امو سين چې د افغانستان پامير له لويو سړوبو د پنج لوی سين سر ځخه پيل، په لار کې ورسره د تاجکېستان سينونه مل کيږي د تاجکېستان او افغانستان پوله جوړ وي، ور په سې د افغانستان او اوزبېکېستان پولې جوړوي، د تروکمينېستان تر پولې څنډه کې د ننه کيږي د تورکمېنېستان او اوزبېکېستان پوله جوړ وي او په کېرغېزېستان کې د اورال سمندرګي (بحيرې) ته غور ځيږي.

۹۷.۴ بېليونه درېنګلې مېتر منځنې کلنی اوبه غورځونه، چې له سلو ۶۱٪ يې د تاجکېستان، کېرغېزستان، اوزبېکېستان، تورکمېنېستان ونډه ده او له سلو ۳۹ ٪ يې د افغانستان ونډه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٤. ٥ د ټاټوبي ځلبر چې د امو سين سرچينې (زېرمې) دي او امو سين ته اوبه ورکوي

هغه ځلبر ( اود، تربلی، جوور، تالاو، تالاب، جهیل، د بېدیا تالاو، د صحرا تالاب، د مېرې ډنډ، د د سارا حوض، د ټيټنګ ډنډ) چې د امو سين سرچينې (زېرمې) دي او امو سين ته اوبه ورکوي؛ الله ج په پنځې ډول پيدا کړي دې چې اوبه ترې لبرېزېږي نو امو سين پنډ وي. چې نومونه يې دا دي لکه:.

١. چکمتين ځلبر، اوږدوالی يې ١٧ کيلومېتر، پېړوالی يې ٢.٥ کيلومېتره، ژوروالی يې تر ٢٠٠ مېتره، د بدخشان ولايت په واخان کې شتون لري.

٢. زرکول ( ويکتوريا) ځلبر، اوږدوالی يې ١٠ کيلومېتر، پېړوالی يې ٣.٥ کيلومېتره، ژوروالی يې تر ٢٠٠ مېتره، له سمندر څخه يې لوړوالی ٣١٢٩ مېتره، د بدخشان ولايت په پامير ولسوالی، قره بولاخ کلي کې شتون لري چې ١٢ کيلو مېتره پوله له تاجيکېستان سره جوړ وي.

٣. شيوا ځلبر، اوږدوالی يې ٢١ کيلومېتر، پېړوالی يې ١٧ کيلومېتره، ژوروالی يې تر ٢٥٠ مېتره، له سمندر څخه يې لوړوالی ٤٧٠٠ مېتره، د بدخشان ولايت په ياسج ولسوالی، آرخت سيمې کې شتون لري چې ١٠ کيلو مېتره له تاجيکېستان له ګرځيوان سېمې سره پوله لري.

٤. انجمن ځلبر، اوږدوالی يې ٢ کيلومېتر، پېړوالی يې ٠.٥ کيلومېتره، ژوروالی يې تر ٣٠٠ مېتره، له سمندر څخه يې لوړوالی ٥٠٠٠ مېتره، د بدخشان ولايت او پنجشير ولايت کې شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library





۵. وغنان ځلېر، اوږدوالی يې ۱۶۰۰ کيلومېتر، پېړوالی يې ۰.۶۵۰ کيلومېتره، ژوروالی يې تر ۳۰۰ مېتره، ۱۲۵ کيلو مېتره د تخار ولايت له مرکز تالکانو څخه لري دي، د تخار ولايت کې شتون لري.

٦. کلفګان ځلېر، اوږدوالی يې ۱.۴ کيلومېتر، پېړوالی يې ۰.۶۰۰ کيلومېتره، ژوروالی يې تر ۱۵۰ مېتره، تخار په کلفګان ولسوالۍ کې شتون لري.

۷. کول تاله و برفک ځلېر، اوږدوالی يې ۳ کيلومېتر، پېړوالی يې ۱ کيلومېتره، ژوروالی يې تر ۱۲۰ مېتره، ۴۳۱۰ مېتره له سمندر څخه لوړوالی لري، بغلان ولايت چهار درې سيمې کې شتون لري.

۸. کوندوز ځلېر، اوږدوالی يې ۴۵ کيلومېتر، پېړوالی يې ۷ کيلومېتره، ژوروالی يې تر ۵۰ مېتره، کوندوز کې شتون لري.



انځور ٤. ٦ د انجمن ځلېر، نورستان، پنجشير، بدخشان يوه ځای کېدو ژی کې، د هېماليا غرونو لړۍ هندوکوش غرونه، افغانستان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**٤. ٦ د تاجيکېستان، اوزبېکېستان، تورکمېنېستان او کېرغېزېستان د هېوادونو اسانتياوې ( تاسيسات ) چې د افغانستان له ايجازې او مصلحت پرته يې امو سين باندې ودان کړي دي:**

هغه اسانتياوې چې نوموړو هېوادونو په امو سين باندې ودان کړې دي، پرته له دې چې افغانستان خبر کړي، دوی د تاريخ په اوږدو کې د امو سين باندې لاندېنۍ اسانتياوې ودانې کړې دي.

د يوه رښتنې څښتن او مالک په ډول دا د افغانستان رښت (حق) دی چې د امو سين باندې هرې اسانتياوو په جوړولو سره له افغانستان څخه ايجازه واخلي. خو هېڅ نه د اخستل شوې او په خپل سر ودان شوي دي، په راتلونکي پېر ( وخت ) کې که افغانستان د اوبو مخه په ټوله کې ډب کړې او ګتنه ترې په خپله واخلي نو دوی ته د اوبو نه رسيدو پړه پر دوی ده، چې ولې يې پرې اسنتياوي د ګټنې له پاره په خپل سر ودانولې. په لاندې لښتيليک سپړنه کې په ګڼه اوډون سره ښودل شوي دي.

**٤. ٧ پيلنی:. د تاجيکېستان د هايدرو تخنيکي او د اوبو برېښنا اسانتياوې چې د افغانستان له ايجازي او مصلحت پرته يې امو سين باندې ودان کړي دي:**

١. د بند نوم: سربند سروندی، د ډګر ډول يې: اوبونه ( پنه، خړوبول يا ايريګيشن)، ښار: کورغانتيپه، امو سين سر ګډيدونکي يا مرستيالی سين نوم: وخش سند، د بشپړولو پېر: ۱۹۶۲ زېږدی، د بند د اوبو زېرمولو کچه: ۴ مېليونه درېنګلي مېتر ، د نېولي سيمي د کچې ګڼه: څرګنده نه ده، لوړوالی يې: ۲۶ مېتره.

٢. د بند نوم: سنټرال يکه سروندی، د ډګر ډول يې: اوبونه ( پنه، خړوبول يا ايريګيشن)، ښار: کورغانتيپه، امو سين سر ګډيدونکي يا مرستيالی سين نوم: وخش سند، د بشپړولو پېر: ۱۹۶۲ زېږدی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لویې ویالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څېکړنو ته د فردوس ځېکړنې.**

د بند د اوبو زېرمولو کچه: څرګنده نه ده، د نېولې سیمې د کچې ګنه: څرګنده نه ده، لوړوالی یې: ۲۲ مېتره.

۳. د بند نوم: مومن اباد سروندی، د ډکر ډول یې: اوبونه ( پنه، خړوبول یا ایریګیشن)، ښار: کورغانتیپه، امو سین سر ګډیدونکي یا مرستیالی سین نوم: وخش سند، د بشپړولو پیر: ۱۹۵۹ زیږدی، د بند د اوبو زېرمولو کچه: څرګنده نه ده، د نېولې سیمې د کچې ګنه: ۲.۸۵ مربع کیلومېتره، لوړوالی یې: څرګند نه دی.

٤. د بند نوم: پیرپدنایا سروندی، د ډکر ډول یې: اوبونه ( پنه، خړوبول یا ایریګیشن)، ښار: کورغانتیپه، امو سین سر ګډیدونکي یا مرستیالی سین نوم: وخش سند، د بشپړولو پیر: ۱۹۶۲ زیږدی، د بند د اوبو زېرمولو کچه: ۵۳ مېلیونه درېنګلې مېتر، د نېولې سیمې د کچې ګنه: څرګنده نه ده، لوړوالی یې: ۳۹ مېتره.

۵. د بند نوم: ګلوونایا سروندی، د ډکر ډول یې: اوبونه او برېښنا، ښار: لیوکینټ، سربند ولسوالی، ختلن ولایت؛ امو سین سر ګډیدونکي یا مرستیالی سین نوم: وخش سند، د بشپړولو پیر: ۱۹۶۲ زیږدی، د بند د اوبو زېرمولو کچه: ۹۶ مېلیونه درېنګلې مېتر، د نېولې سیمې د کچې ګنه: څرګنده نه ده، لوړوالی یې: ۲۶ مېتره.

٦. د بند نوم: بیګازی سروندی، د ډکر ډول یې: اوبونه ( پنه، خړوبول یا ایریګیشن)، ښار: ناورک، امو سین سر ګډیدونکي یا مرستیالی سین نوم: وخش سند، د بشپړولو پیر: ۱۹۸۹ زیږدی، د بند د اوبو زېرمولو کچه: ۱۲۵ مېلیونه درېنګلې مېتر، د نېولې سیمې د کچې ګنه: ۸.۰۴ مربع کیلومېتره، لوړوالی یې: ۵۸ مېتره.

۷. د بند نوم: بیاروزه سروندی، د ډکر ډول یې: برېښنا پیداوار، ښار: ناورک، امو سین سر ګډیدونکي یا مرستیالی سین نوم: وخش سند، د بشپړولو پیر: څرګند نه دی، د بند د اوبو زېرمولو کچه: څرګنده نه ده، د نېولې سیمې د کچې ګنه: ۰.۱۳ مربع کیلومېتره ، لوړوالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې: ۷۰ مېتره.

۸. د بند نوم: ناورک سروندی، د ډکر ډول یې: اوبو برېښنا پیداوار (هایدرو پاور تولید) ، ښار: ناورک (نورک)، امو سین سر ګډیدونکي یا مرستیالی سین نوم: وخش سند، د بشپړولو پېر: ۱۹۸۰ زېږدی، د بند د اوبو زېرمولو کچه: ۱۰۵۰۰ مېلیونه مکعب مېتر، د نېولې سیمې د کچې ګڼه: ۹۸ مربع کیلومېتره، لوړوالی یې: ۳۰۰ مېتره.

۹. د بند نوم: روغون سروندی، د ډکر ډول یې: اوبو برېښنا پیداوار (هایدرو پاور تولید) او اوبونه ( پنه، خړوبول یا ایریګیشن)، ښار: روغن، امو سین سر ګډیدونکي یا مرستیالی سین نوم: وخش سند، د بشپړولو پېر: ۲۰۱۷ څخه تر ۲۰۲۹ پورې اوس له سلو ٪۹۰ بشپړ شوی، د بند د اوبو زېرمولو کچه: ۱۳۳۰۰ مېلیونه مکعب مېتر، د نېولې سیمې د کچې ګڼه: ۱۷۰ مربع کیلومېتره، لوړوالی یې: ۳۳۵ مېتره.

۱۰. د بند نوم: سنتودې لومړی سروندی، د ډکر ډول یې: اوبو برېښنا پیداوار (هایدرو پاور تولید)، ښار: نورک، امو سین سر ګډیدونکي یا مرستیالی سین نوم: وخش سند، د بشپړولو پېر: ۲۰۰۹ زېږدی، د بند د اوبو زېرمولو کچه: ۲۵ مېلیونه مکعب مېتر، د نېولې سیمې د کچې ګڼه: ۹.۶۰ کیلو مېتر مربع، لوړوالی یې: ۵۸ مېتره.

۱۱. د بند نوم: سنتودې دوییم سروندی، د ډکر ډول یې: اوبو برېښنا پیداوار (هایدرو پاور تولید)، ښار: ناورک دنګغاره، امو سین سر ګډیدونکي یا مرستیالی سین نوم: وخش سند، د بشپړولو پېر: ۲۰۰۶/۱۲/۲۰ زېږدی، د بند د اوبو زېرمولو کچه: څرګند نه دی، د نېولې سیمې د کچې ګڼه: څرګند نه دی، لوړوالی یې: ۳۱ مېتره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې وياله جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څېکړنو ته د فردوس څېکړنې.**

د امو سين په ښي خوا کې د هېوادونو ترمنځ د ۱۹۸۷ کال د هوکړه ليک له مخې، د تاجيکېستان ونډه نږدې له سلو ۱۵،٤٪ ټاکل شوې وه او د امو سين ته ٤۹ مېليارد مکعب مېتر اوبه بهيږي.

**٤. ۸ دوېيم:. د اوزبېکېستان د هايدرو ټيکنالوژۍ اسانتياوې چې د افغانستان له ايجازې او مصلحت پرته يې امو سين باندې ودان کړې دي:**

۱. د بند نوم: يوزناسورخان سروندی، د ډکر ډول يې: اوبونه ( پنه، خړوبول يا ايريګيشن)، ښار: شورچې، امو سين سر ګډيدونکي يا مرستيالی سين نوم چې اوس ټکی اوبه امو سين ته نه غورځوي: سرخندريا سند، د بشپړولو پېر: ۱۹۶۷ زېږدی، د بند د اوبو زېرمولو کچه: ۸۰۰ مېليونه مکعب مېتر، د نېولې سيمې د کچې ګنه: ۶۴.۴ مربع کيلومېتره، لوړوالی يې: ۳۰ مېتره.

۲. د بند نوم: اوچکزيل سروندی، د ډکر ډول يې: اوبونه ( پنه، خړوبول يا ايريګيشن)، ښار: زينګ، امو سين څخه اخېستل شوی: تېرميز لويه وياله (ترمذ کانال)، د بشپړولو پېر: ۱۹۵۷ زېږدی، د بند د اوبو زېرمولو کچه: ۱۶۰ مېليونه مکعب مېتر، د نېولې سيمې د کچې ګنه: ۱۰ مربع کيلومېتره، لوړوالی يې: ۱۱.۵ مېتره.

۳. د بند نوم: ټوپلانګ سروندی، د ډکر ډول يې: اوبونه ( پنه، خړوبول يا ايريګيشن)، ښار: شارګن، امو سين په سر په پای ځای کې: ټوپلانګ لويه وياله (ټوپلانګ کانال)، د بشپړولو پېر: ۲۰۰۲ زېږدی، د بند د اوبو زېرمولو کچه: ۵۰۰ مېليونه مکعب مېتر، د نېولې سيمې د کچې ګنه: څرګنده نه ده، لوړوالی يې: ۱۸۰ مېتره.

٤. د بند نوم: ټوداکول سروندی، د ډکر ډول يې: اوبونه ( پنه، خړوبول يا ايريګيشن)، ښار: نوايي، امو سين سر ګډيدونکي يا مرستيالی سين نوم چې اوس ټکی اوبه امو سين ته نه غورځوي: ټوداکولسکيا لويه وياله (ټوداکولسکيا کانال)، د بشپړولو پېر: ۱۹۸۳ زېږدی، د

(c) ketabton.com: The Digital Library





بند د اوبو زېرمولو کچه: ۱۲۰۰ مېليونه مکعب مېتر، د نېولې سيمې د کچې کڅه: ۱۲۸ مربع کيلومېتره، لوړوالی يې: ۱۲ مېتره.

۵. د بند نوم: تاليمرجان سروندی، د ډکر ډول يې: اوبونه ( پنه، خړوبول يا ايريګيشن)، ښار: جنګي نيشان، امو سين سر ګډيدونکي يا مرستيالی سين نوم چې اوس تړکی اوبه امو سين ته نه غورځوي: کرشي لويه وياله (قرشي کانال)، د بشپړولو پېر: ۱۹۸۵ زېږدی، د بند د اوبو زېرمولو کچه: ۱۵۵۲ مېليونه مکعب مېتر، د نېولې سيمې د کچې کڅه: څرګنده نه ده، لوړوالی يې: ۱۹۴ مېتره.

۶. د بند نوم: شورکول سروندی، د ډکر ډول يې: اوبونه ( پنه، خړوبول يا ايريګيشن)، ښار: نوايي، امو سين سر ګډيدونکي يا مرستيالی سين نوم چې اوس تړکی اوبه امو سين ته نه غورځوي: زرفشان لويه وياله (زرفشان کانال)، د بشپړولو پېر: ۱۹۸۴ زېږدی، د بند د اوبو زېرمولو کچه: ۳۹۴ مېليونه مکعب مېتر، د نېولې سيمې د کچې کڅه: څرګنده نه ده، لوړوالی يې: ۱۴.۵ مېتره.

۷. د بند نوم: تويمايان سروندی، د ډکر ډول يې: اوبونه ( پنه، خړوبول يا ايريګيشن)، ښار: پيتنيک، امو سين سر ګډيدونکي يا مرستيالی سين نوم چې اوس تړکی اوبه امو سين ته نه غورځوي: توی مايان لويه وياله، د بشپړولو پېر: ۱۹۸۰ زېږدی، د بند د اوبو زېرمولو کچه: ۷۸۰۰ مېليونه مکعب مېتر ، د نېولې سيمې د کچې کڅه: ۷۹۰ مربع کيلومېتره، لوړوالی يې: ۳۴ مېتره.

۸. د بند نوم: اکدارين سروندی، د ډکر ډول يې: اوبونه ( پنه، خړوبول يا ايريګيشن)، ښار: سمرکند، امو سين سر ګډيدونکي يا مرستيالی سين نوم چې اوس تړکی اوبه امو سين ته نه غورځوي: اکدارين لويه وياله، د بشپړولو پېر: څرګند نه دی، د بند د اوبو زېرمولو کچه: ۱۱۲ مېليونه مکعب مېتر، د نېولې سيمې د کچې کڅه: څرګنده نه ده، لوړوالی يې: ۲۰ مېتره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې وياليې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څټکړنو ته د فردوس څټکړنې.**

۹. د بند نوم: اکتيپين سروندی، د ډکر ډول يې: اوبونه ( پنه، خړوبول يا ايريګيشن)، ښار: سورخان دريا، دجارکورغانسکي تومن، امو سين سر ګډيدونکي يا مرستيالی سين نوم چې اوس تکی اوبه امو سين ته نه غورځوي: سورخنداريا لويه وياله، د بشپړولو پېر: څرګند نه دی، د بند د اوبو زېرمولو کچه: ۱۲۰ مېليونه درېنګلې مېتر، د نېولې سيمې د کچې ګڼه: څرګنده نه ده، لوړوالی يې: ۱۴ مېتره.

۱۰. د بند نوم: کارتک سروندی، د ډکر ډول يې: اوبونه ( پنه، خړوبول يا ايريګيشن)، ښار: نمنګان ولايت، امو سين سر ګډيدونکي يا مرستيالی سين نوم چې اوس تکی اوبه امو سين ته نه غورځوي: کارتک سين، د بشپړولو پېر: څرګند نه دی، د بند د اوبو زېرمولو کچه: ۴۵ مېليونه درېنګلې مېتر، د نېولې سيمې د کچې ګڼه: څرګنده نه ده، لوړوالی يې: ۴۵ مېتره.

۱۱. د بند نوم: کيمکرغن سروندی، د ډکر ډول يې: اوبونه ( پنه، خړوبول يا ايريګيشن) او له اوبو د برېښنا پيداوار (هايدرو فاور)، ښار: چراجچه ستي، امو سين سر ګډيدونکي يا مرستيالی سين نوم چې اوس تکی اوبه امو سين ته نه غورځوي: کشکه دريا، د بشپړولو پېر: ۱۹۶۳ زېږدی، د بند د اوبو زېرمولو کچه: ۵۰۰ مېليونه درېنګلې مېتر، د نېولې سيمې د کچې ګڼه: څرګنده نه ده، لوړوالی يې: ۳۳ مېتره.

۱۲. د بند نوم: ګيس سار سروندی، د ډکر ډول يې: اوبونه ( پنه، خړوبول يا ايريګيشن)، ښار: شهرسبزسکي تومنان، امو سين سر ګډيدونکي يا مرستيالی سين نوم چې اوس تکی اوبه امو سين ته نه غورځوي: اکسو لويه وياله (اکسو کانال)، د بشپړولو پېر: ۱۹۹۰ زېږدی، د بند د اوبو زېرمولو کچه: ۱۷۰ مېليونه درېنګلې مېتر، د نېولې سيمې د کچې ګڼه: څرګنده نه ده، لوړوالی يې: ۱۳۸.۵ مېتره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ځنډکړنو ته د فردوس ځنډکړنې.**

۱۳. د بند نوم: کارولتېپېن سروندی، د ډکر ډول يې: اوبونه ( پنه، خړوبول يا ايريګيشن)، ښار: جيزخ، امو سين سر ګډيدونکي يا مرستيالی سين نوم چې اوس ټکی اوبه امو سين ته نه غورځوي: ايسکيټياتارتر لويه وياله (ايسکيټياتارتر کانال)، د بشپړولو پېر: ۱۹۸۳ زېږدی، د بند د اوبو زېرمولو کچه: ۵۳ مېليونه درېنګلې مېتر، د نېولې سيمې د کچې ګنه: ځرګنده نه ده، لوړوالی يې: ۵۱ مېتره.

۱۴. د بند نوم: پچکمار سروندی، د ډکر ډول يې: اوبونه ( پنه، خړوبول يا ايريګيشن)، ښار: ګوزر، امو سين سر ګډيدونکي يا مرستيالی سين نوم چې اوس ټکی اوبه امو سين ته نه غورځوي: ګوزر لويه وياله (ګزر کانال)، د بشپړولو پېر: ۱۹۶۱ زېږدی، د بند د اوبو زېرمولو کچه: ۱۵۲۵ مېليونه درېنګلې مېتر ، د نېولې سيمې د کچې ګنه: ځرګنده نه ده، لوړوالی يې: ۷۱ مېتره.

لکه څنګه چې مخکې يادونه و شوه، د آمو سين په ښي خوا کې د هېوادونو ترمنځ د ۱۹۸۷ کال د هوکړيې پر بنسټ (موافقې پراساس)، د اوزبېکېستان ونډه نږدې له سلو ۴۵.۲٪ ټاکل شوې وه، مګر د آمو په حوزه کې د AI پيداوار (توليد) له سلو ۴.۸٪ ده.

**۴. ۹ درېيم:. د تورکمېنېستان د اوبو تخنيکي اسانتياوې چې د افغانستان له ايجازې او مصلحت پرته يې امو سين باندې ودان کړي دي:**

۱. د بند نوم: زيد سروندی (بند)، د ډکر ډول يې: اوبونه ( پنه، خړوبول يا ايريګيشن)، ښار: تورکمېن اباد، امو سين څخه اخېستل شوی: کراکوم لويه وياله (قره قوم کانال)، د بشپړولو پېر: ۱۹۸۶ زېږدی، د بند د اوبو زېرمولو کچه: ۲۲۰۰ مېليونه درېنګلې مېتر، د نېولې سيمې د کچې ګنه: ۴۶۵ مربع کيلومېتره، لوړوالی يې: ۱۲ مېتره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څېکړنو ته د فردوس څېکړنې.**

لکه څنګه چې مخکې يادونه و شوه، د امو سين په بنې خوا کې د هېوادونو ترمنځ د ۱۹۸۷ کال د هوکړيې پر بنسټ (موافقې پراساس)، د توركمېنېستان ونده نږدې له سلو ۴۵٪ تاکل شوې وه، مګر د امو په ساحه کې د AI پيداوار (توليد) له سلو سلنه ۴.۸٪ ده.

**٤. ۱۰ څلورم:. د کېرغېزېستان د اوبو تخنيکي اسانتياوې چې د افغانستان له ايجازې او مصلحت پرته يې امو سين باندې ودان کړي دي:**

۱. د بند نوم: توګتاګول سروندی (بند)، د ډکر ډول يې: له اوبو د برېښنا پيداوار ( هيدرو فاور فلانټ)، ښار: توګتاګول، امو سين څخه اخېستل شوی: توګتاګول سين، د بشپړولو پېر: ۱۹۷۶ زېږدی، د بند د اوبو زېرمولو کچه: ۳۴۱۱۶ مېليونه درېنګلي مېتر، د نېولې سيمې د کچې ګنه: ۲۸۴.۳ مربع کيلومېتره، لوړوالی يې: ۱۲۰ مېتره.

**٤. ۱۱ پېنځم:. افغانستان د اوبو تخنيکي اسانتياوې چې له مرکزي اسيا هېوادونو سره يې مصلحت کړی و، ايجازه يې په ۱۸۷۵ زېږدي کې اخستې وه او امو سين باندې اسانتياوې ودانې کړي دي:**

۲. د بند نوم: کوش تپې سروندی، د ډکر ډول يې: اوبونه ( پنه، خړوبول يا ايريګيشن)، ښار: بلخ، کلدارې ولسولی، امو سين څخه اخېستل شوی: کوش تپې لويه وياله (قوش تيپې کانال)، د بشپړولو پېر: لوړی د پېر پيل ۱۹۷۰ زېږدی، دوېيم د پيل پېر ۲۰۲۱ زېږدي څخه تر ۲۰۳۰ زېږدي پورې اوس له سلو ۱۴٪ بشپړه شوې، د بند د اوبو زېرمولو کچه: ۰.۰۵۶ مېليونه درېنګلي مېتر ، د نېولې سيمې د کچې ګنه: ۱ مربع کيلومېتره، لوړوالی يې: ۷ مېتره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څېټکړنو ته د فردوس څېټکړنې.




انځور ۴. ۷ د کوش تپې لويې ويالې د سروندي (اينټيک، ويير يا د پيل ټکي سېمه)، کالدارې ولسوالی، بلخ ولايت، افغانستان.



انځور ۴. ۸ د کوش تپې لويې ويالې د کېندنې د پېر شيبې، کالدارې ولسوالی، بلخ ولايت، افغانستان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴۱ چوپړی**

**د کوش تپې لويې وياليې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څټکړنو ته د فردوس څټکړنې.**



انځور ٤. ٩ د لوړ پنج سيند، پامير، بدخشان ولايت، افغانستان.



انځور ٤. ١٠ د لوړ پنج سيند، پامير، بدخشان ولايت، افغانستان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴۲ چوپړی**

**د کوش تپې لويې وياليې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څېټکړنو ته د فردوس څېټکړنې.**



انځور ۴۴. ۱۱ واخان ځغاستی (کوريډور) کې د افغان کېرغېز تبر کېږدی، د لوړ پنج سيند تر څېرمه، پامير، بدخشان ولايت، افغانستان.



انځور ۴ ۴. ۱۲ د کوز پنج سيند، خيخک، بدخشان ولايت، افغانستان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴۳ چوپړی

د کوش تپې لويې وياليې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ښتکړنو ته د فردوس ښتکړنې.



انځور ۴۴. ۱۳ د لوړ امو سيند، کلداره ولسوالۍ، بلخ ولايت، افغانستان.



انځور ۴۴. ۱۴ د لر يا کوز امو سيند، اورال سمندرګی، کېرغېزېستان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**٤٤ چوپړی**

**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکبستان ولسمشر څټکړنو ته د فردوس څټکړنې.**



انځور ٤. ١٥ د کوز امو سيند، د اوزبېکبستان په مونياق کې د اورال سمندرګي د کب نيولو پخوانۍ بيړۍ زنګ وهونکي ګولۍ په شګو کې پرتې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ښتکړنو ته د فردوس ښتکړنې.

**٥. د ويالو ( کانالونو) تعريفونه:**

,, د اوبو يوه اوږده، پټلی برخه چې په شلخي (مصنوعي، سويې پنځي، بدل) ډول د کښتی يو د تک راتګ له پاره يا له يوې سيمې څخه بلې ته د اوبو رسولو له پاره جوړه شوې وي. لکه د پانامې وياله (کانال) چې اتلانتيک او آرام سمندر سره نښلوي يا د سمندرونو ترمنځ د ليږد غوره اړيکه چمتو کوي.،، د ليکوال ژباړه له غځوني سره (ګمبريج وييزېرمه، زېږدی، ۱ چوپړی)

ميريم وييستار بيا د ويلې تعريف په لاندې څلور ډوله سره کوي. ,,

١. يوتيوب لرونکي اناټوميکي لاره يا چينل ( DUCT) ته وايي.
٢. چينل يا د اوبو کورس ته وايي.
٣. د سمندري تګ راتګ يا د اوبو ايستلو يا د ځمکې خړوبولو له پاره د اوبو مصنوعي لاره ته وايي.
٤. د مريخ په سيارې کې د بېلابېلو کمزورو تنګ ليکو ته وايي هغه چې د دوربينونو له لارې ليدل کيږي او يوه پېر د ځينو له خوا فکر کيږي چې د مريخ له خوا جوړ شوي کانالونه دي.،، د ليکوال ژباړه له غځوني سره (ميريم وييستار، زېږدی، ۱ چوپړی)

ليکوال د ويالي تعريف ( څرګندونه، ښکارونه، ويالي يا کانال د يوه توري يا مو ضوع تشريح کول.) په لاندې ډول کوي.

د وی يا ويکيي له پامه وياله هغه سر لوسي تخينکي الې ( پلان، نخښې يا Contrivance) ته وايي چې له يوه ټاکلي ځای څخه بل ټاکلي ځای ته په کې مايع شيان بهيږي.
او په اصطلاح کې د هر يوه پنځي او شلخي ډنډ، تتي، ويالي، ښاخ، ببلې، لښتي، وترې (چې پټي ته اوبه ترې خوشې کوي، د اوبو مخه په بوټو، چمانو ډب کوي د اوبو لوړوالی په لښتي کې ډېريږي او پټي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبه اوړي.)، پټي (پټ ټي)، هدی (اډی)، اګل ( د پټي دننه د پولې ترڅنګ لښتی چې هرې اډی ته ترې د اوبو لار باسي)، څرمې ( د اګل پای او پاینی اډی چې ورسته خړوبېږي) کروندې ( څوپټيه ) د اوبو مرستې غوښتنې ( د مرستې منبع، غوښتنې زېرمه، چارې، وسيلې (Recourse, contrivance, expedience ته وياله وايي چې ټول نوموړي په مايعاتو پنډ وي. لکه د کڅور وياله، کوکران وياله،

## ۵. ۱ پېخليک (تاريخ):

۱. له ۴۴۳ مخزېږدي کې کوشنی وياله موږ په مهترلام کې د اريانی استوګنځي ګټوڅنګ سېمې اړوند درلودله چې د هغه پير وګړو له لورې د الېنګار سين له سلينګار سروندي څخه پيل او نېلاوات ببلې پورې ببرته د الېنګار سين سر ګډېده، هغه د کڅور کوشنی وياله ۹ کيلو مېتره اوږدوالی درلوده، او څور يې په سروندي کې ۲.۷۱ مېتره و د اوبو د لوړوالې کچه په کې ۱ مېتره، په پای کې ۰.۴۰ مېتره پېړوالی لري او د اوبو منځنی کچه په کې ۰.۳۰ مېتره ژوروالی لري. د کڅور کوشنی وياله د الېنګار سين نخښلېدونکي ټکي کې د يو ټي ايم يا برابروني ټولواله يا پينيوال پرېکوونکی مرکيټر ): ختيځ: ۶۱۵۶۸۷، شمال: ۳۸۴۱۲۸۹، د سمندر (بحر) څخه لوړولي کچه:۷۶۸ مېتره دی او د وياله پای يې ختيځ: ۶۱۳۰۸۶، شمال: ۳۸۳۳۹۹۵، د سمندر (بحر) څخه لوړولي کچه:۷۱۰ مېتره دی. ( په بله وينا کڅور کوشنی زړه وياله پيل له پای څخه ۵۸ مېتره ټېټ دی، يوه له بل څخه په ۹۰۰۰ مېتره يا ۹ کيلو مېتره واټن لري او ۳.۳۳ کيلومېتره مربع، ۳۳۳ ايکتاره يا ۱۶۶۵ جريبه د کرکيلې کروندې خړوب وي.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څېکرنو ته د فردوس څېکرنې.**

۲. ,, د صفويانو د ګډی په پېر په کندهار کې نيکه حاجي يا اميرخان حاجي صيب ( ميرويس نيکه يا ميرويس هوتک د نازو انا او ښالم خان زوی) په ۱۷۰۹زېږدي کې ښاروال (کلانتر) وو ،، (ويکيپېډيا ـ ميرويس هوتک، ۲۰۲۱ زېږدی، ۶ چوپړی ) د نوموړې ښار د کوڅو، کشونو، ويالو رغولو او پاکولو او د پښتون ځوان کهول پاسون ته د پورته کولو کړ وو. له دې سره سره يې د چارباغ غرګي بنو شاته د کوکاران کوشنۍ وياله بوږولې ( جوړه کړې) ده.

چې د هغه پېر وګړو له لورې د ارغنداب سين له حاجی اغا باغوونو سروندي څخه پيل او کوکران کلي پای د ارغنداب پول پورې ببړته د ارغنداب سين سر ګډېده، هغه د کوکران کوشنۍ وياله ۱۳ کيلو مېتره اوږدوالی درلوده، څور يې په سروندي کې ۳.۵۰ مېتره و د اوبو د لوړوالې کچه په کې ۲ مېتره، په پای کې ۰.۵۰ مېتره پېړوالی لري او د اوبو منځنۍ کچه په کې ۰.۳۵ مېتره ژوروالی لري. د کوکران کوشنۍ وياله د ارغنداب سين نخښلپډونکي ټکي کې د يو ټي ايم يا برابروني ټولواله يا پينۍوال پرېکوونکی مرکيټر ): ختيځ: ۷۵۱۹۲۸، شمال: ۳۵۰۷۶۴۴، د سمندر (بحر) څخه لوړولي کچه: ۹۹۸ مېتره دی او د وياله پای يې ختيځ: ۷۴۴۵۱۸، شمال: ۳۵۰۰۴۰۴، د سمندر (بحر) څخه لوړولي کچه: ۹۸۵ مېتره دی. ( په بله وينا کوکران کوشنۍ وياله پيل له پای څخه ۱۳ مېتره ټېټ دی، يوه له بل څخه په ۱۳۰۰۰ مېتره يا ۱۳ کيلو مېتره واټن لري او ۸.۹ کيلومېتره مربع، ۸۹۸ ابکتاره يا ۴۴۹۰ جريبه د کرکېلې کروندې خړوب وي.)

۳. په هېندوستان کې نوي ډهلوې ته د اوبو رسولو او کروندو خړوبولو بنسټ احمد شاه ابدالي دراني د ختيځ يامونا لويې ويالې په بوږلو (جوړولو) ابښی دی. ,, د ختيځ يامونا کانال هم د امپراتور احمد شاه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ځنډکړنو ته د فردوس ځنډکړنې.**

ابدالي (۱۷۱۲- ۱۷۴۸) له خوا جوړ شوی و.،، ( سنتوش کمار، ۱۹۷۶، ننه توزې xxxi چوپړی )
چې اوس په ټوله کې ۱۳۷۶ کيلو مېتره اوږدوالی لري، ۴۰ مېتره پېړوالی، چې تتی (تشت، کنډول، تغاره، ډنډوکی يا باسين) يې ۳۶۶۲۲۳ کيلومېتر مربع دی، تشول ( ايستل يا ډيسچارچ) ۲۹۵۰ درېنګلي مېتر پر ثانيه کې دی.

۴. په ګران ټاټوبي کې موږ د ډېرو لويو ويالو (کانالونو) د رغولو بېلګې لرو لکه: د ننګرهار لويه وياله (کانال)، هېلمند لويه وياله، پروان لويه وياله، شبرخان (کوندوز، خان اباد مرکزي) لويه وياله، ګوهرګان (بغلان) لويه وياله، اجمير (پولخمري) لويه وياله.

۵. په لغمان ولايت کې لويې ويالې له ۳۷ څخه يې ګڼه اوړې چې ډېری يې زوړ پېخليک لري، لکه د سالو لويه وياله، پنجکورې لويه وياله، سنګره لويه وياله، نورلام لويه وياله، وت لويه وياله، پړوايي لويه وياله، تک لويه وياله، خدانو لويه وياله، زړې کلا لويه وياله، دړين لويه وياله، تک لويه وياله، شاهي لويه وياله، بديع اباد لويه وياله، کېلمن لويه وياله، اکين اباد لويه وياله، کولکان لويه وياله، سراج لويه وياله، عليشنګ لويه وياله، شکرمان لويه وياله، غازي اباد لويه وياله، اسلام اباد لويه وياله، مهترلام لويه وياله، مهترلامک لويه وياله، تورکوټې لويه وياله، تبی کنج لويه وياله، چهاردي لويه وياله، بادپښت لويه وياله، زېرانيو لويه وياله، کڅ لويه وياله، مياعبدالکريم لويه وياله، ګمبيري لويه وياله، دهمزنګ لويه وياله، بولان لويه وياله، خروټو لويه وياله، چهارباغ لويه وياله، وکيل اباد لويه وياله، وزيراباد لويه وياله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٥. ٢ زموږ د اوبو وار او د اوبو اوږدپيړې ( ستراتيژيکه ) وېشه

زموږ نيکه پخوا د خپل کلي د اوبو په وېشلو کې په ژمنه ولاړې پرېکړې کولې. د کلي ټول کروندګر به هغه پير په کروندو کې دې ته پام شو چې کروندې هر پټی يې په روغ بڼه نه خړوب کې ده؛ د پټي يو ښېرمو، اډی او پولي ته اوبه نه رسېدې؛ د پټي هر پټ وچ په سترګو ښکارېده؛ کرل شوی کښت ښه زرغونتيا نه ښرګندوله، د ژېړوالي او تندې نخښې په کې تر سترګو کې دې؛ په سين او ورود کې اوبه په کمتون ورتللې، د وياڼې ښاخونو به سروندې کې او وترو کې په چتکې کمښت مونده. دوی ټولو به بيا پردې پرېکړه و کړه چې اوس د کروندو خړوبولو له پاره وار و تړو.

د اوبو وار خبره به په دېره کې د جامع مسجد تر ښنګ ياده شوه، هر کروندهګر به چې له لرغون پير ښخه په کومه کچه د وار برخه په اوبو کې درلودله په همغه کچه به وار ورته ورکول کې ده؛
که د کومو کروندهګرو اوبو وار به وه چې کروندې به يې کوز يا لر ته پرتې وې بر کروندو والا رښت نه درلود چې اوبه خپلو کروندو ته واړوي؛ بر کروندې و لرې لر کروندهګر رښت نه لرې چې خپل کروندو ته اوبه واړوي.

پنځې لړې اوبه به تر لوندولې پورې چې اودسونه پرې کېدل تل تر تله بهېدلې چې د چارپيريال چاره پرې ښه کې دله.

په پينځه کلونو کې ډېرې پير وار نه تړل کې ده، د دې له پاره چې د اوبو کمتون کلونه به نه وو، اوبه به په کمتون نه وې، ورښتونه به ډېر وو، د جوارو، پلېيو، ګنيېو او غنمو پټو خاورې به اوبښتې وې؛ اوبه به په وياڼو کې پرېمانه بهېدلې او ځان به يې د الېنګار سين ته غورځوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لویې ویالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څښتکړنو ته د فردوس ښتکړنې.**

چې د لغمان سین سره به ګډ شو، په درونټې سره به نږدې د کابل سین سره یوه ځای شوې او ځان به یې په اباسین ګډ او د هېند سمندر ته و رسوو چې د تودوخې او سمندر کې د بخار په ډول سره ورېځو سره ګډ بېرته د نومورې سیمې غرونو په سر څرخېدل چې د واورې او باران په ډول را و ورېږي.

د کومو کروندهګرو چې د اوبو په وار کې برخه نه وه، هغوی رښت نه درلوده چې خپلو کروندو ته اوبه واړوي.

د کومو کروندهګرو چې د اوبو وار درلوده، چې د وار موده به یې کله پوره شوه او اوبه به یې ډېرې وې، د وار پاتې برخه به یې خپلو ګاونډیانو ته ورکوله او یا هغه وګړو ته ورکوله چې په اوبو کې یې وار نه درلو ده چې خپلې کروندې پرې خړوب کړي.

د کروندو اوارې کې غنمو تخم شیندلو او خړوبولو د یوه من غنم له پامه د لغمان سیمې ټولټال اوبو کچې میچې پر بنسټ د اوبو واره موده وېشله.

پینځه منه د غنومو تخم به په یوه جریب زمکه یا پینځوس مېتره پر څلوېښت مېتره (۵۰ مېتره * ۴۰ مېتره = ۲۰۰۰ مربع مېتره ) یا پینځه ویشت منه تخم به په یوه هېکتار زمکه یا سل مېتره پر سل مېتره (۱۰۰ مېتره * ۱۰۰ مېتره = ۱۰،۰۰۰.۰۰ لس زره مربع مېتره) کې شېندل له څلور وارې اوبو کلو څخه به یې نهه میاشتو کې خپل پیداور ور کول.

که د اوبو مېچې کچه په سین کې ډېره وه ژر به ټاکلې تخم کچه خړوبېده او که په هر کچه په سین کې لږه وه په ځنډ به ټاکلې تخم کچه خړوبېده. فصل: غنم، د خړوبولو لاندې زمکه ۵ جریبه یا ( ۱ هېکټاره)، د اوبو کارولو کچه ۳.۴ (سوې مخ کروندې ۴.۸) مکعب مېتره پر جریبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرونده خړوب وله يا د اوبو کارولو کچه ۱۷ (سوې مخ کروندې ۲۴) مکعب مېتره پر ابکتاره کرونده خړوب وله.

د وار موده به يې په من، نيم من، چارک، نيم چارک، پاو، نيم پاو (يوه ساعت يا ۶۰ دکېکې، نيم ساعت يا ۳۰ دکېکې ، ۱۵ دکېکې، ۷.۵ د کېکې، ۳.۷۵ دکېکې ۱.۸۷ يا ۲ دکېکې ) وه؛ يوه شپه او ورځ به ۲۴ منه وه، ورځ به ۱۲ منه او شپه به هم ۱۲ منه وه؛ د ورځې به چې لمر تر نيم اسمان راته ۶ منه د اوبو وار وو، چې د نيم اسمان د نيم برخه وو ۳ منه د اوبو وار کې ده، د شپې له لورې که سپوږمۍ تر نيم اسمان راته ۶ منه د اوبو وار وو، چې د نيم اسمان د نيم برخه وو ۳ منه د اوبو وار کې ده، د ژرندې د پل ۱۲۰ وارې کرځيدل يې نيم پاو او يوه پاو يې ژرندې د پل ۲۲۵ وارې کرځيدل بله چې يوه من يې د ژرندې د پل ۳۶۰۰ وارې کرځيدل بلل يا د ټکټکۍ ( پايکو) ټکهار بله.

د منې په موسم کې به چې اوبه په کمتون شوې نو نيکه به مې د کروندهګرو د وابو وار، د اوبو مېچې او کچې ته په کتو پرېکړه کوله او يا به يې نوې پرې کړه کوله چې د ټولو کروندګرو د ښوخې وړ را تلله د شخړو او خنډونو مخه به يې ډب کولوله. د دې له پاره چې د ځمکو او اوبو وار په تړاو چې ځينې و ګړې شخړې، ماتې او بدې بوږ وې، راتلونکې يوه کال او يا د پينځو کلو له پاره په پورتنۍ بنه د اوبو وار او وېش پرېکړه کوله.

د کوش تپې ويالې رښت هم زموږ د نيکه د پرېکړې او د پښتنو دود په بنه دی.:

۱. **پيلنی رښت:** کوم هېواد چې په کومه کچه اوبه اموسين ته غورځوي يا د امو سين مرستيالان لري په همغه کچه ونډه په امو سين کې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. **دوېیم ربښت:** کوم هېواد چې د اوبو وار نه لري، ربښت نه لري چې د اموسین څښتن څخه وار په زوره واخلي، د امو سین څښتن ټاټوبی افغانستان چې د اوبو سرچېنه یې ده په خپل زړه کولی شي چې له اړتیا سرباري اوبه یا ډېرې شوې اوبه کوزې سیمې ته پرېږدي.

۳. **درېیم ربښت:** د امو سیند څښتن ټاټوبی (افغانستان) کولی شي چې یوازې د چارپېریال د چارې کېدلو په کچه له سلو ۱۰٪ کچه (۹،۳۰۴،۰۳۳،۶۸۲.۳ یا ۹.۳۰۴ بېلیون مکعب مېتره په یوه کال کې) د امو سین د ټولو اوبو څخه کوز یا لر لورې ته اوبه پرېږدي، له پاتې له سلو ۹۰٪ کچې (۸۳،۷۳۶،۳۰۳،۱۴۱.۰ یا ۸۳.۷۳۶ بېلیون مکعب مېتره په یوه کال کې اوبو) څخه یې خپله اړتیا پوره کړي چې پرې لرلید کروندې ( راتلونکي پېر کروندې) سوزېدلې دښتې او سویې مخ اوارې زمکې خړوب کړي.

٤. **څلورم ربښت:** د امو سیند په منځ کې د پولې کرښه ټېره شوې چې د امو سیند په هر پېر کې په هر کچه چې اوبه وې په دوې برخو وېشل کېږي. ( ۹۳،۰۴۰،۳۳۶،۸۲۳.۰۰ /۲ = ۴۶،۵۲۰،۱۶۸،۴۱۱.۶۷ ) یا ۴۶.۵۲۰ بېلیون مکعب مېتره په یوه کال کې هر یوه ته رسېږي.

۵. **پېنځم ربښت:** د امو سیند څخه ګټه اخستونکي هېوادونه چې له یوه بل سره اوړدې، ګډې سیاسي اړېکې لري، د اوبو د کمتون او کمښت په پېر له درنې اوسلې، پام او زغم څخه کار واخلي، د دې له پاره چې څښتن الله په پنځې ډول د ژمي موسم په مرغومي (جدي یا نومبر) میاشت کې اوبه ټېټې کچې ته رسوي. (۱۳،۲۵۳،۹۰۸،۹۲۰.۰۰ / ۲ = ۶،۶۲۶،۹۵۴،۴۶۰.۰۰ ) یا ۶.۶۲۶ بېلیون مکعب مېتره په یوه کال کې هر یوه ته رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لویې ویالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څټکړنو ته د فردوس څټکړنې.**

۶. **شپږم ربښت:** موږ د ډیپلماسۍ له لارې د هوکړه لیک سندونه او غوښتنلیکونه دا سپیني ته را وباسي چې څو واري موږ له اوزبېکېستان هېواد څخه زموږ کوش تپې ویالې د اړینې اړتیا اوبو کلنۍ کچه چې (۱۳،۰۱۶،۴۳۰،۰۰۰.۰۰ یا ۱۳.۰۱۶ بېلیون مکعب مېتره په یوه کال کې ټولې اوبه کچه کېږي) نه را کوي، د (۱۰،۰۰۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ یا ۱۰.۰۰ د لس بېلیونو مکعب مېتره کلنۍ کچې اوبو) غوښتنه ترې د افغان لوري هم شوې خو هوکړه لیک یې پرې نه دی کړی.

۷. **اووم ربښت:** زموږ د پښتو ژبې یوه متل دی چې وایي:. ,, د زور ور اوبه په پیچو مې خېږي ،، د اوبو دروهه (توطئه)، نېښګتیا ( طمعې)، غرک ( حسد)، شخړې، ناګڼلی تېغر غځول، سیاسي خولی په سرولو، پنډې ځېرکې ډیپلماسی، د څوکی لېوالو ته څوکی اوړدېیري کولو باندې کولی شي چې له ټولو اوبو څخه ګټنه واخلي او نورو ته د ګټنې واک ور نه کړو لکه په کومه بڼه یې چې نور نړیوال هېوادونه کوي.

(۹۳،۰۴۰،۳۳۶،۸۲۳.۰۰ یا ۹۳.۰۴۰ بېلیون مکعب مېتره په یوه کال کې ټولې اوبه د امو سین یوازې په خپله واخلي.)

### ۵. ۳ امو سین کلني اوبو تېرېدنې د کچو مېچه د ځینو څېړنو پیلو پر بنسټ

په لاندېنۍ څېره کې د امو سین کلني اوبو تېرېدني د کچو مېچه د ۱۵ څېړنو پیلو پر بنسټ کره څرګنده شوې ده، چې ټولټال د امو د سین د اوبو پیداوار کچه په بېلیون درېنګلي مېتر سره روښانه کوي. د امو سیند په پای کې چې کومې اوبه غروب کېږي ۱۶۸،۱۸۵ بېلیون درېنګلي مېتر دي، لږ تر لږ کچه یې ۱۳.۲۵۴ ده او کره کچه یې چې ما سپیني ته باستلې د امو د سین د اوبو پیداوار کلنۍ منځنۍ کچه ۹۳،۰۴ بېلیون درېنګلي مېتر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ٥٤ چوپړی

**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ځتکړنو ته د فردوس ځتکړنې.**




ځېره ۵. ۱ امو سين کلني اوبو تېرېدني د کچو مېچه د ځينو څېړنو پيلو پر بنسټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵. ٤ امو سين د بنسټيزو اوبو اډو (سټېشنو) کې د اوبو د تېرېدو ماته او ګوډه کچه

په لاندېنۍ ښېره کې له۲۰۰۰ زېږدي ښخه تر ۲۰۲۰ زېږدي پورې د امو سيند د ځينو بنسټيزو اوبو اډو کې د اوبو د تېرېدو منځنۍ کلنۍ ماته او ګوډه کچه په بېليون مېټر سره روښانه شوې.

د دې له پاره چې د ټولو اډو په روغه، مډرنه، کره او پرله په سې رمټ ښار او خوندې کونې کچې مېچه نه ده شوې، د اوبو اړوندې برخې د کار کونکو د مديرانو په ځينو ورځو کې د ټاکلشويو اوبو مېچې کره مېچه په کلوخ تپې، خواجه غار، کوف آب، اشکاشم او سست د اوبو مېچې اډې کې ده او کره برابر وې دا، دا نو داسې ورته نه شو ويلی چې ښرګند شوې کچې ناسمې دې.




**ښېره ۵. ۲ امو سين د بنسټيزو اوبو اډو (سټېشن) کې د اوبو د تېرېدو کچه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵. ۵ له ۱۹۹۲ زیږدي څخه تر روانپېره پورې امو سین ته د لاس رسیدو اوبو کچې او ګتې اخستل شوې اوبو کلنۍ کچه.

په لاندېنۍ څېره کې د امو د سین د اوبو پیداوار کچه او له دې څخه د ګټنې یا مصرف په بېلیون درېنګلې مېتر سره روښانه کوي.

زموږ و ګړو یوازې په پنځې بنه تر روان پېر پورې د اموسین په ټوله سینیزه سېمه کې ۶.۱ بېلیون درېنګلې مېتر او د کوش تپې لویې ویالې ټولو کروندو د اړتیا اوبو کلنۍ کچې مصرف ۱۳.۰۱۶ بېلیون درېنګلې مېتر اوبو ته لاس ورغځولی دی چې دا د فردوس څېړنې ( د امو سین ټولې سیمې اوبو کلنۍ کچې ۹۳.۰۴ بېلیون مکعب مېتر) له سلو ۱۷.۷۸۵٪ نه کیږي. چې دا ډېرې لږې اوبه دي، چې ۸۲ ٪ له سلو دوې اتیا بېلیون مکعب مېتر په امو سین کې خوشې تېرېږي.




څېره ۵. ۳ له ۱۹۹۲ زیږدي څخه تر روانپېره پورې امو سین ته د لاس رسیدو اوبو کچې او ګتې اخستل شوې اوبو کلنۍ کچه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵. ٦ له روسيې سره د افغانستان معاملې:

يوه له زړو معاملې څخه دا وه چې زموږ ټاټوبي د منځنۍ اسيا لوی کور افغانستان څخه يې کوشنۍ برخې سمرکند، بخارا، پنجده او نورې سيمې بېلې کړې.

د دې هېواد يوې سيمې تل تر تله د دښمن په وړاندې هر کله، هور او تور، دا دی او هغه دی، خدايږو که ميرځمن (دښن) ته تېر شم، لاس نه ور کوم او نه ور سره مل کېږي. په دا او دا يې شل، شل زره يا لس، لس زره سپېڅلي او غښتلي افغانان وژلي دي. له دې ورسته يې له ميرځي (دښمن) سره لاس يوه کړی، او يا يې خاوره د پيسو، څه ډالۍ يو، ګدۍ ساتلو يا چې ته ښه خان يې په خان ويلو هغوی ته سپارلې او ور کړي. دا په ټوله کې د دوی تر ټولو ناوړه او بد عادت دی. نور دې لوی الله ج (الله العظيم) له داسې ناوړو انديښنو څخه لرې و لري او په زړه دې ورته تل در رحم او پوهې اوبه لوی الله ج تېرې کړي، چې پر داسې کړنو کړ نه شي.

۱. د افغانستان او روسيې ترمنځ ۱۳۸۲ سرحدي تړون؛ ۲. د افغانستان او روسيې ترمنځ ۱۹۴۶ تړون؛ ۳. د افغانستان او روسيې ترمنځ ۱۹۴۸ تړون؛ ۴. د افغانستان شاهي دولت او روسيې ترمنځ ۱۹۵۸ تړون؛ ۶. د افغانستان او روسيې ترمنځ ۱۹۶۱ هوکړه ليک تړون او همداراز نور تړونونه.

له پورتنۍ يو څخه يوازې د ۱۹۵۸ تړون چې ۵ څېرکي او ۵۱ مادې لري، د پولې اوبو په اړه سپړنه ( تشريح، توضيحات، ډله، ډول يا د غتوغټو ټکو څرګندونه) لري؛ د سين غاړې کړنو (سواحلو کارونه)؛ د بېړۍ يو لېږد رالېږ مسلې؛ د بېړۍ چلولو مسلو همغږي( انسجام) او داسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکستان ولسمشر څرګندونې ته د فردوس ځرګرنې.**

***موږ پر دغې پرېکړه ولاړ يو او په ډانګېلې وېنا مو ده. خپل دي تړون ته د زړه په مينه درناوی کوو.***

## ۵. ۷ له روسيې وروسته معاملې:

د الماتا په تړون کې په ۱۹۹۱ زېږدي کې افغانستان ته برخه ور نه کړل شوه، په غونډه کې نه و او نه يې افغانستان ته بلنه ور کړه. IFAS په هغه غونډه کې د ګډون اجازه ور نه کړه اوس کوم حقوقي چوکاټ له دوی سره شتون نه لري.

يوازې د تاجيکېستان سره په ۱۳۹۳ زېږدي کې د هايدرولوژيکي او هايدرومېټرولوژيکي د شمېر او ډول کچې راکړې ورکړې په اړه سند لرو چې MOU يې بولي. دا سند تر ۲۰۲۰ زېږدي پورې يې نيټه وه، چې وروسته بيا و غځول شو.

د تورکمېنستان سره شريکو اوبو پر سر د اوبو همغږي کونکې کمېټه لرو چې تر اوسه پورې يې ۴ غونډې کړي او بېلابېل مسايل يې تر شننې لاندې نيولي دي. لکه د جم دښتې د سين غاړې تړنګول په اړه لاس په کار کېدل.

تورکمېنستان سره په ۱۳۹۶ زېږدي کې د هايدرولوژيکي د شمېر او ډول کچې راکړې ورکړې په اړه يادښت سند اوډون (ترتيب) شوی چې تر اوسه پرې هوکړه نه ده شوې او د دواړو له لورې نه منل کېږي، تړون لېږل کېږي او را لېږل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په ورāندې د اوزبېکېستان ولسمشر څښکړنو ته د فردوس څښکړنې.**

له ازبېکېستان سره هم زموږ له اړخه د اوبو همغږۍ کمېټې حواله ( مسوده يا ټاکنه، خوښونه، سکيچ نخښه) اومچه اوډون شوې چې تر اوسه د دوی له خوا نه، نه ده راليږل شوې.

په لويه کې د مرکزي آسيا هېوادونو سره د اوبيزو ادلون بدلون په پيلنۍيو مراحلو کې يوه څه او لږې ښې اړيکو ورسره لرو.

**۵. ۸ ټاټوبي د پالسۍ جوړولو برخې**

له څلوېښت کلنې جګړې وړاندې چې د اوبورسولو او اوبو خړوبولو په اړه کوم روغ او ګړندی اوږدپېرې ټولوالې (اوږدمهاله سيستم) شتون درلود، د جګړو له اړخه په ټپه و دربده او په خپل منځي جګړو کې يې سرغنوي پرمختګ نه په سترګو کې ده.

سرې تودې (تجربه) دا په ډاګه کوي، چې اوږدپېری هر اړخيز پرمختګ وګړي له لوږې (فقر)، بد بختی، سوېې ودنې او سوېې سوکالۍ څخه په اوږد پيرې بنه ژغوري، او بل لوری يې وګړي ور سره غاړه غړۍ کوي.

په ټاټوبي کې د پالسۍ جوړولو يوه زړه برخه د افغانستان د کرنې او مالدارۍ وزارت دی، چې په ټول هېواد کې د کروندو او کرکېلې د لرغونې سهولتونه په غاړه لري، د ځمکو د ځانګړو ځانګېرنو، د کرکيلې، کروندو او ژويو، بوټو او ونو څارې، پلټنې، ازموينې، لويونې او غځونې بشپړې چارې پر غاړه لري، چې د نوموړي وزارت له تنې څخه د اوبو او بريښنا وزارت هم زوکړه شوی دی، او د ډېريو وزارتونو مور بلل کېږي. چې د پيخليک په اوږدو کې يې له هرې لويې برخې څخه يوه وزارت رغښت موندلی دی. د کرنې لومړنی مديريت مو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې وياڵې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څېکړنو ته د فردوس څېکړنې.**

١٩١٩ زېږدي کې د امان الله خان د واکمنۍ پر پېر رامنځته شو. د حبيب الله خان د واکمنۍ پر مهال او له هغه وروسته د کرنې د ودې له پاره يوه لړ تدبيرونه و نيول شول.

د سوداګرۍ وزارت له خوا له ١٩١٨-١٩٣٧ څخه تر ١٩١٨ کال پورې د کرنې، ځنګلونو، د سينونو د جوړولو، د ونو کښت، د سړو تودو (تجربوي) کرنيزو فارمونو د جوړولو، نرسريو او نورو په برخه کې نيول شوي کوټلي ګامونه په لاندې ډول دي. لومړی: د بندونو جوړول او د کانالونو استخراج له ١٩١٨-١٩٣١ څخه؛ دويم: په ١٩٣٧ زېږدي کې د کرنې د لومړي خپلواک رياست بوړول؛ دريم: په ١٩٤٨ زېږدي کې د کرنې وزارت بوړول. څلورم: په ١٩٦٠ کې د کرنې او اوبو لګولو وزارت ته د کرنې وزارت نوم بدلول.

هغه څه چې زموږ د کرنې او مالدارۍ وزارت يې کوي، دوی د عامه پاليسۍ، غوره موجود ساينس، او اغېزمن مديريت پر بنسټ د خوړو، کرنې، پنځي (طبيعي) سرچينو، د کليو پراختيا، تغذيه او اړوندو مسلو رهبري چمتو کوي.

دوی يوه ليد لري چې د نوښت له لارې اقتصادي فرصت چمتو کړي، د کليوالي ټاټوبي په وده کې مرسته و کړي؛ د کرنې پيداوارو ته وده ورکول چې د افغانانو ښه تغذيه کوي په داسې پېر کې چې کاونډيو په تغذيه کولو کې هم ټاکلي مرسته کوي؛ زموږ د وګړو پنځي (ملت طبيعي) زېرمې د ساتنې، بيارغول شوي ځنګلونو، د اوبو د ښه کولو او صحي شخصي کاري ځمکو له لارې ساتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لویې ویالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ځښکېرنو ته د فردوس ځښکېرنې.**

دوی ستراتیژیکي موخې د ډیپارټمنټ له پاره د سرک نخښې په توګه کار کوي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې دوی خپل ماموریت ترلاسه کوي او خپل لید پلي کوي.

د کرنې او مالدارۍ وزارت د وګړو ځانګه ده. د خوړو، کرنې، اقتصادي پراختیا، ساینس، پنځې زېرمو ساتنې او نورو مسلو په اړه د کار له لارې، د کرنې او مالدارۍ وزارت د افغانانو نسلونو ژوند اغېزمن کړی.

تر ډېره پورې د ټاټوبي د ځمکو، کروندو د بېلوژیکي، جیولوژیکي، جیوټکنیکل، د خاورو او اوبو د ټوټو ازموینو، د ځمکي بنسټیز څېړنې ( لوستل، کتل، لوستې یا مطالعات)؛ هر اړخېزه سروې؛ توپوګرافي؛ د هیدرولیک ماډل څېړنو له پاره د حوالې شرایط برابرول؛ د کرکیلې ټولو توکو، اسبابو، لوښو، لرګو ته ځانګړې ځانګړنې، نخښې، اټکلونه، لاربښونې، کړنلارې، اوډون او پوړونه بوړ.ول؛

د دې له پاره د افغانستان دولت د څو دانې اوږ.دپیرې ستراتیژۍ او ربښت ( قانون) و بوړ.ول ( جوړکړل) چې د اوبو په برخه کې پرمختګ و کړي.

په ۲۰۰۶ زیږ.دي کې نوموړی کالب لاربښونې اوډون ( ترتیب ) په چار کول، د اوبو رسولو او اوبو خړوبولو په برخه کې و منل شو. اوږ.دپیرې ستراتیژۍ دا څرګنده کړه چې ټولنې دا ګرمتیا لري چې اوبو د تنتو له پاره پلانونو رغښت، اداره او وړاندې بیونه یې د انرژۍ او اوبو وزارت (MEW) له خوا ملاتړ کیږي؛ دوییم: د اوبولګولو کوشنۍیو او منځنۍیو نخښو جوړول له پاره د اوبو کارونکو ملګرتیا (WUAs) په کې ځاګړي دنده لري او دریيم: د ګټه اخیستوکو څخه د هامیانیو (پیسو)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لویې ویالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکستان ولسمشر څټکړنو ته د فردوس څټکړنې.**

اخیستل یا د (تادیه اصول) د لګښت بېرته راګرځولو توان ورکول چې د دې پالیسي له پاره ملاتړ و کړي.

په ۲۰۰۹ زېږدي کې د اوبو یوه نوی ربنت خپور شو (تعدیل شوی قانون نافذ شو)، په کې لاندېني درې ربنته ستر لړونه بوړ وي. لومړی: د سینیزې سیمو اداره کول او د اوبو د زېرمو د پلان کولو کړنلار په ګوته کول چې د سینونو د تتي ادره (RBAs) او کوشنۍ د سینونو د تتي اداره (SBAs) بوړوي هغه به د افغانستان د اوبو او برېښنا وزارت له لورې رهبري کېږي.

دوېیم: د خدماتو چمتو کونکي (له WUAs سره) د اوبو رسولو بیعه پرې کړي او درېیم: ملکیت، خوزیدا او څارنې ( اواینډ ایم یا حفظ او مراقبت (O&M پلانونه او نخښې به WUAs ته د اوبو لګولو ملګرتیا له لورې و سپارل شي.

د ملي اوبو او د پنځي زېرمو د پراختیا پروګرام (NWNRDP) په ۲۰۱۰ زېږدي کې و منل شو، د پراختیا پلان برخه د حکومت په توګه کار کوي. له ۲۰۱٦-۲۰۲۵ زېږدي څخه د ټاټوبي د اوبو خړوبولو کړنلار (پروګرام) د ملي اوبو او د پنځي زېرمو د پراختیا پروګرام NWNRDP کې جوړېږي او ۱.۵ بېلیون ډالرو سپما (بودیجې) ته اړتیا لري. موخه یې په ځان بسیا کول دي د غنمو کرنې له پاره، اوبولګولو خدمتونه پېدول، د نوي (تمدید) خدمتونو ته وده ورکول او په کرونده کې د اوبو مدیریت ښه شي، خوزیدا او څارنې یې و شي.

د اسیا پراختیایي بانک (ADB)، اروپایي ټولنه (EU)، د نړی والو له پاره د متحده ایالاتو اداري پراختیا (USAID)، نړی وال بانک (WB)، د کاناډا نړی واله پراختیایي اداره (CIDA) او د سویس د پراختیا او همکاری اداره (SDC) د پرمختګ ستر ملګري (شریکان) وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





## ۵. ۹ سياسي او رښتي (حقوقي) وسايل

د اوبو په اړه ځيني تاوتريخوالی د ايکولوژيکي ستونزو سره تړاو لري چې د انسان له خوا پرمخ وړل شوي فکتورونو سره تړاو لري. لکه د ځمکې پرمخ اوبه (سطحې اوبو) او د ځمکې لاندې اوبو څخه ډېرې اوبه وېستل ( استخراج). د بېلګې په توګه په ايران کې د ارميا ځلېر (جهيل) وچېدل، د مرکزي ګوځوني دلدل، د ايران-ايراک (عراق) پولې په اوږدو کې د حوثي دلدل، په ختيځ کې د سيستان او هامون دلدلو هر يوه د اوبو د پاليسی او تخصيص په اړه د محلي لاريونونو سره مرسته کړې.

په هند او چين کې ډېرى ځلېر (جهيلونه) او سينونه د اوبو د ډېرې اوبه وېستل، سخت موسم يا د فکتورونو د اوډوون (ترکيب) په پايله کې وچيږي. په دې سره ځما ځېږنه دا ځرګندوي او په پوخ کې کوي چې تاجيکېستان هېواد د ۴۰ کلونو له پاره په خپل ښکلي تاتوبي کې د امو سين اوبه زېرمه کړي دي.

په بله وينا زموږ ښکلي ګاوندي هېواد تاجيکېستان په شلځي ( سويې پنځې، عدوم طبيعي يا بدل) ډول، د هايدرو تخنيکي او د اوبو بريښنا اسانتياوې چې د افغانستان له ايجازي او مصلحت پرته يې امو سين باندې ودان کړي دي، د اموسين څخه د ۴۰ کلونو له پاره اوبه زېرمه کړي دي او سرغوندوي بنه يې د اوبو له غوره مديريت څخه ګټنې اخستې دي لکه ,, مته ( پايه، تنه يا رکن :Pillars): د اوبو کچه (Quantity)، څه رنګوالی(Quality)، ګټنې اخيستل سودمند کېدل يا ګټنه رسول (Benefits)، د اوبو ګټنه اخېستنې تولواله يا ډبليو يو ايس ( Water Use System (WUS))،، د ليکوال ژباړه له غځونې سره ( نعيم هايي، ۲۰۲۰ لېږدی، ۹ څخه تر ۱۲ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, ۲. د شلخي (مصنوعي) جزيرو رغولو ربنت، اسانتياوو او ودانۍيو، د برمې کولو پلاټپارمونو د کېښدنې له پاره د ټولو اسانتياوو ځخه ګټه اخستنې په خپل خوښه يې واک او کنټرول لرل. ۳. د ۵۰۰ مېټره مربع په وړانګه يا شعاع سره د ودانۍ يو ځخه لرې د خپلو اسانتياوو (تاسيساتو) له پاره د سيمې د امنيت له پاره په دې شرط چې د بېړۍ تګ راتګ مخ دېپ نه کړي ربنت دی (د ۵ مادې د غونډوسکي برخې او د سينونو د ربنت تړوون د ۶۰ او ۸۰ مادې مواد دي) ،، د ليکوال ژباړه ( محمد، ۱۴۰۲ليږدی، ۳۴۲ چوپړی)

,, د نړوالو حقوقو نيوتون ديوان اساسي ۳۸ ماده کې راغلې دي چې ,, د عدلانه پرېکړې له پاره سرته رسيدنه،، (۸۳ ماده، ۱ لړ) د نوموړي تړون په پيله کې دواړه لورې خپلواک ګرځول شوي دي، په خپل واک سره چې په خپل منځ کې يې په کومو کړنلارو خوښه راغله پر هغې په خپل منځ کې عادلنه او بې لورې پرې کړې پرېکړه کولی شي. په دې ربنت چې په يوې غوره منلي پيلې ته پرې سره و رسيږي. لکه د وېش منځنۍ کربنه او يا منځنۍ ليک.،، د ليکوال ژباړه ( محمد، ۱۴۰۲ليږدی، ۳۴۱ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٥. ١٠ وړانديزونه او ستراتيژي:

د پنج امو په پوله تېرېدونکې (ترانزيتي) اوبو د ستونزو د هواري له پاره افغان لوري ته تر اوسه د دې اوبو د کارولو زمينه نه ده برابره شوې او له دې پام غورځول شوې برخې د ژغورلو له پاره بايد زموږ ګران هېواد ته غوټه پاملرنه و شي.

لاندې سکالو ته بايد پاملرنه و شي.

١. د سرحدي اوبو له پاره د يوې هر اړخيزې پاليسی، ستراتيژی بوړول (جوړول)، ښکاروندي ( معياري) کولو وروسته د پاليسی او ستراتيژی له مخې په بنسټيزه بڼه لاس په کار کېدل.

٢. د پنج سين له اوبو څخه په سمه توګه د ګټنې له پاره د جام دښتې اوبو او برېښنا پروژې د ګډې څېړنې په اړه د تاجيکېستان له هېواد سره خبرې اترې بايد پيل شي. د ويلو ده چې دا پروژه د پنج آمو سين په ساحه کې يوه له غوره بندونو څخه دی، د هغې په ګډ بشپړېدو سره به د دواړو هېوادونو شا اوخوا ۶ زره ميګاواټه زرغونه برېښنا پيداوار برابر شي او زرګونه هکتاره د کرکيلې کروندې به خړوبه شي. بل لورې ته د پنج خان سين دواړو غاړو ته اوبه ورکول کېږي.

٣. د امو سين يا د پولې سين د اوبو څخه د ګټنې د ترلاسه کولو له پاره زموږ حکومت او په ځانګړې توګه د انرژی او اوبو وزارت ته اړينه ده چې د امو سين د پورتنی پروژې چارې و څېړې.

د دې پايله ساده برابروي دا چې د اوبو پروژو ته ګړندی والی ورکړل شي، د کوش تپې د برېښنا چټکتيا سره.

د دې پروژې په بشپړيدو سره به په يوه ثانيه کې ١١٠ مکعب مېتره اوبه چې په کال کې ٣.۵ بېليون (ميليارد) مکعب مېتر سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



برابرېږي، د کوندوز د کلا زال په کباد سیمه کې د آمو له سین څخه راټولېږي او د بلخ ولایت، جوزجان ولایت او فاریاب ولایت سوځېدونکو ځمکو ته به و لېږدول شي. پرته له ځنده په کیله ګی، ورساج، مامي کلا او کوزې کوکچې کې د اوبو د زېرمو د جوړولو چارې ترسره شي.

٤. ټول کلنی جریان چې له افغانستان څخه پنج امو اورال ته تېرېږي، د رښتني جریان اندازه یې د ځینو سټیشنونو د معلوماتو د نه شتوالي له امله دکیکه نه دي څرګند، یوازې د کولوخ تپې، خواجه غار، کوف اب، شغنان، اشکاشم او د سیندونو د اډې ټاکلې کچې څرکندې دي. د سست اډې سره. د شغنان اډې سربېره، د پورتنی یو اډو څخه د ټولو اوبو کلنی تېرېدلو کچې مېچه لړ تر لړه ۱۸،۰۰۰.۰۰ مېلیون مکعب مېتر دی، د کوزپنج یا لر پنج مرستیالې سیمې ای خانم اډې (سټیشن) اوبو کلنی تېرېدلو کچې مېچه څرګنده نه ده، او د کچې د شمېر له نه شتون له امله جمعه شوې نه دي چې ۳۵ ځای سره نږدې شتون لري، د اپنج. ص. ف څېړنې د اوبو د کچې مېچه دې په ډانګ پیپلې بڼه په پام کې و نیسې.

لاندې به د پنج امو سارا سمندر کې د اوبو ساحې د اوبو نقطې وي د امو د کینې اړخ د پیداوارو کوټې په دکیکه توګه شمېرلو له پاره باید په اړینو ځایونو کې بیا اډې ځای پر ځای شي.

٥. د پنج امو د ځېلو په سیمه کې یوه غوره ننګونه د سیلابونو مستو څپو له امله رامنځ کېږي، ټولنیز او وټیز (اقتصادي) زیانونه دي چې کینې (ګسټ) اړخ ته (د افغانستان خاورې) ته یې لوی ځاني او مالي زیانونه اړولي دي.

٦. نباتات او د نباتاتو غالی د سین په ژی کې په پنځي بڼه شتون لري. د ځنګلونو ریبل او ربځول په بې رحمی سره د سین غاړو د ړنګېدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبب شوي دي. د همدې له پاره بايد په دولتي کچه د دې کار مخنيوی وشي او په دې برخه کې بايد د ځنګلونو او بوټو د له منځه تلو د مخنيوي په برخه کې د بيارغونې چارې ترسره شي.

۷. ټولو وګړو ته دې په ټوله کې د ټاټوبې پالنې لوړ حس، غوره پوهاوی، د پښت (نسل) د زوکړې سرچينو ميندو او خويندو ته دې لوړې زده کړې ورکړل شي، چې په لرليد ( راتلونکې بنه) کې د پوهې په ګانه سمبال او بسيا زوزان ستر کړي.

۸. د اسلامي نظام د پاټېشوني کېدولو له پاره، له امريکا سره سرغندوي، ګنلې، پياوړې، غښتلې سياسي او ډيپلوماسي اړيکې ټينګې شي په ښکاره، غرب د الله العظيم د مسلمانانو او مومنانو بندګانو د خوښې او سوکالۍ سبب شي، له امريکا څخه ايجازه واخستل شي، لېتيمو، د سرو زرو او يورانيمو د کورنۍ اتومي موادو په پيداوارو بوړولو کې په وتېزه او تخنيکي برخه کړ شي، چې څلور کاله ورسته د و ګړي هر تن ته لړ تر لړه ۲ دوې مکعب مېتره سره زر چې بيع يې (۱۹۳۲۰ کيلو ګرام پر مکعب مېتر* ۲ * د سرو زرو ورځنۍ بيبه ۵۵.۳ ډالره هر يوه ګرامه = ۲،۱۳۶،۷۹۲ مېليون ډالره) او يوه کيلو غني شوي يورانيم د اغزي لرونکو د ښتو څخه و باسې لکه ګمبريې، بکوا، هېلمند، فارياب او بادغيس چې د يوه کيلو بيعه يې ۸ څخه تر ۱۱ مېليون ډالره کېږي. چې په منځنۍ کچه هر افغان وګړي او وګړې ته ۱۱،۶۳۶،۷۹۲ مېليونه ډالره برخه ورسېږي. زده کړه او پوهه دا سپينې ته را وباسې چې د دې دواړو کاني پيداوارو رغونکي او لاسته راوړنکو پلنټونو باندې ۱۰ بېليونه ډالرو ته اړتيا لري. په دې سره به د سيندغاړو کې د شګو له منځ څخه د درندو فلزاتو لکه سره زر، الماس، ياقوت، لعل، او زمورتو له چانولو څخه خلاص شي، خبره به يې اصلي زېرمو ته و رسېږي، په لنډيرې وينا د سروزرو کان په کېندنې به بسم الله شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په ورانديې د اوزبېکېستان ولسمشر څېکړنو ته د فردوس څېکړنې.



انځور ٥. ١٦ افغان کان کيندونکی مراد علي د بغلان ولايت د قره زغان کلي ته څېرمه په يوه غره کې ګرځي، افغانستان.



انځور ٥. ١٧ افغان شپه ميری (پوليس)، سروزرو کان ساتنه کوي، د قره زغان کلی، هېماليا غرونه، بغلان ولايت، افغانستان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ځتکړنو ته د فردوس ځتکړنې.



انځور ۵. ۱۸ د افغان زرو کان اېستونکي، سروزرو کان د زرو ډبرې اوباسي، د قره زغان کلی، هېماليا غرونه، بغلان ولايت، افغانستان.



انځور ۵. ۱۹ د افغان زرو کان اېستونکی ځتک او پانه په لاس له غره ځخه د سرو زرو کوشنۍ ډبرې پرخې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څېکړنو ته د فردوس څېکړنې.



انځور ۵. ۲۰ د افغان زرو کان اېستونکی غلبېل چاڼ څخه درنې ډبرې سره زر، بېلچې باندې د هېندوکوش (هېماليا) د سروزرو کان څخه د سرو زرو کوشنۍ ډبرې اوباسې او زېرمې ته يې وړي.




انځور ۵. ۲۱ د قره زغان کلی، بغلان ولايت، د افغانستان هېماليا غرونو اوومه سره زر پلور ته چمتو دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵. ۱۱ د آرال سمندرګي له اوبو پنډونکي سيندونه

د آرال سمندرګي له اوبو پنډونکي سينه (سيندونه) دوې دي؛ يوه يې د سر سين (دريا) دی چې رڼې سپينې اوبه لري لکه د شرابو په بڼه او بل يې د امو سين دی چې خړې اوبه لري لکه د اېشدلې شېدو چای په بڼه.




**انځور ۵. ۲۲ د اورال سمندرګي تتی ( باسين) او مرستيالانو (کلنګ ورکونکي، باج، تابع) سردريا تتي سيمه سپينچکي او امو سين تتي سيمه ژېړچکي رنګ سره.**

## ۵. ۱۲ د سردريا تتی ( باسين، ډنډوکی)

,, **سر سين چې آرال سمندرګی له اوبو پنډوي**، د کېرغېزستان، اوزبېکېستان، تاجيکېستان، کزاکېستان هېوادونو کې بهېږي، چې د نوموړو هېوادونو له سترو ښارونو څخه تېرېږي لکه:. د خواجند ښار د تاجيکېستان، تاشکينت ښار د ازبېکېستان، تورکېستان ښار د کزاکېستان، کېزيالرده ښار د کزاکېستان او د بيکونر روسي ښار د کېرغېزستان. سرچينه ( زېرمه ): د نارين سينونو ګڼه ګونه (هغه ځای چې يوه يا څوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۷۲ چوپړی**

**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ښتکړنو ته د فردوس ښتکړنې.**

يا ډېر سيندونه سره يوه ځای کيږي، حرای کېدو ځای، ګنه ګونه) او کارا سين. په فرغانه سېمې د اوزبېکېستان کې شتون لري، ٤٠°٥٤′٠٣″N ٧١°٤٥′٢٧″E برابر (کارډينات) دی، له سمندر څخه يې لوړوالی ۴۰۰ مېتره دی.
شمال د اورال سمندرګی، په کزالي د کزاکېستان کې شتون لري، ٤٦°٠٩′١٥″N ٦٠°٥٢′٢٥″E برابر، له سمندر څخه يې لوړوالی ۴۲ مېتره دی.
په خوله کې نيول ( خوله ): شمال د اورال سمندرګی، په کزالي د کزاکېستان کې شتون لري، ٤٦°٠٩′١٥″N ٦٠°٥٢′٢٥″E برابر، له سمندر څخه يې لوړوالی ۴۲ مېتره دی.
سردريا اوږد والی يې ۲۲۵۶.۲۵ کېلو مېتره (۱۴۰۱.۹۷ مېله) دی. د سردريا تتي اندازه يې ۴۰۲۷۶۰ کيلو مېتر مربع دی.
ډيسچار يې : په لږه کچه ۱۸۰ درېنګلي مېتر پر ثاينه کې، په منځنۍ کچه ۱۱۸۰ درېنګلي مېتر پر ثاينه کې او په منځنۍ کچه ۳۹۰۰ درېنګلي مېتر پر ثاينه کې دی.،، د ليکوال ژباړه له غځوني سره ( ويکيپېډيا – سردريا سين ، ۲۲۰۲ زيږدی، ۱ چوپړی)



**انځور ۵. ۲۳ سر سين (دريا) او امو سيند د کوز برخې اوبو غورځېدونکې سمندرګي د لويديځې غاړې انځور (د اورال سمندرګي لويديځې غاړه).**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵. ۱۳ د امو سين تتی ( باسين يا ډنډوکی)

**,, امو سين چې آرال سمندرګی له اوبو پنډوي، د افغانستان،** تاجيکېستان، تورکمېنېستان او اوزبېکېستان هېوادونو کې بهېږي، چې د نوموړو هېوادونو له پولو څخه تېرېږي او په مرکزي اسيا کې شتون لري.

سرچينه ( زېرمه ): پامير سين، پنج سين، د سرچينې ځای يې د زرکول ځلېر، د پامير غرونه ,, افغانستان ،، ( ويکيپيډيا – افغانستان، ۲۰۲۲ زېږدی، ٤۰ چوپړی). په واخان سېمې د افغانستان کې شتون لري، ۳۷°۲۷′۰٤″N ۷۳°۳٤′۲۱″E برابر (کارډينات) دی، له سمندر څخه يې لوړوالی ۴۱۳۰ مېتره دی.

شمال د اورال سمندرګی، په کزالي د کزاکېستان کې شتون لري، ٤٦°۰۹′۱۵″N ٦۰°٥۲′۲٥″E برابر، له سمندر څخه يې لوړوالی ۴۲ مېتره دی.

په خوله کې نيول ( خوله ): د اورال دلتا (هغه خړه چې د سيلاب په اثر د سين په شا او خوا کې روغه شوې وي ) سمندرګی، په اموسين دلتا کې شتون لري، ٤٤°۰٦′۳۰″N ٥۹°٤۰′٥۲″E برابر، له سمندر څخه يې لوړوالی ۲۸ مېتره دی.

امو سين اوږد والی يې ۲۴۰۰ کيلو مېتره (۱۵۰۰ مېله) دی. د امو سين تتي اندازه يې ۵۳۴۷۳۹ کيلو مېتر مربع دی.

ډيسچار يې : په لږه کچه ۴۲۰ درېنګلي مېتر پر ثاينه کې، په منځنۍ کچه ۲۵۲۵ درېنګلي مېتر پر ثاينه کې او په منځنۍ کچه ۵۹۰۰ درېنګلي مېتر پر ثاينه کې دی.

د امو سين تتي څېرې يا بېلوونکي نښې يا ښوونې: مرستيال سينونه ګسټ لورې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ځنډکړنو ته د فردوس ځنډکړنې.**

باميانو د تالا برپک، سورخ آب سين، فولادي سين، سيغانو سين، پينده سين، د سالنګونو سين، د اندراب سين، خان اباد ورود ( لر کوندوز لوی سين)؛ بنګی سين، تالکانو (تالقانو) سين، فرخار سين (بر کوندوز لوی سين؛ تالقان لوی سين ؛ کوکچې سين، انجمن سين، زرديو سين، کشم سين، (کوکچه لوی سين؛ پنج سين، اکسو سين يا د سپينو اوبو سين، واخان سين، پامير سين، شيوه سين، جوی سين، شهر سبز سين، کوف آب سين، ايش آب سين، اونجاب سين، ياوان سين، زيرکی سين، راغ سين، بدخشان سين (بر پنج لوی سين)؛ چاه آب سين، آی خانم پنج سين، رستاق سين (لر پنج لوی سين) او شور تپې سين دي، ښي لورې ته وخش، سرخن سين، شهر سبز سين او زرفشان.

رسمي نوم يې: امو، جيهون، اکسيوس، د اورال سمندرګی او دالتا د امو سين. ډيزاين شوی کال يې ۲، ۲، ۲۰۱۲ زېږدی. ،، د ليکوال ژباړه له غځوني سره ( ويکيپيډيا – امو سين ، ۲۰۲۳ زېږدی، ۱ چوپړی)



**انځور ۵. ۲٤ د ټاټوبي شبرغان ولايت، کرګين ولسوالی کې د امو سيند د ژی انځور چې د سيمې اوبو وړې برخه په ګوته کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څېګړنو ته د فردوس څېکړنې.**



**انځور ۵. ۲۵ ازبېکستان په اورغينچ کې د امو سين له پاسه د پله انځور.**

,, د امو سين پورتنۍ حوزه د نړۍ يوه له ترټولو لويو حوزو څخه دی، د سر اوبو مهمې سيمې او د هغې لويه برخه د پاميريانو له خوا پوښل شوې. د امو سين ۲,۵٤۰ کيلومېټره (۱,۵۷۸ ميل) اوږدوالی لري ځي او د اوبو رسولو ډنډونه يې پوښلي دي.

ټوله اواره يا مساحت ۵۳٤,۷۳۹ مربع کيلومېټره (۲۰٦,٤٦٤) مربع ميل دی؛ د ۲۵ مېليون څخه د ډېرو وګړو له پاره د ژوند ليک او د سوکالۍ سرچينه ده. د امو سين په ښکته برخه کې مېليونونه وګړي ژوند کوي.

حوزه په افغانستان، تاجيکېستان، اوزبېکېستان او تورکمېنېستان کې شتون لري او د هغې د کچې پورې اړه لري.
اوبه د فصلونو د خړوبولو له پاره کارول کېږي چې له شپږ مېليون هکتاره څخه ډېره ځمکه پوښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ځنکړنو ته د فردوس ځتکړنې.




انځور ۵. ۲٦ د امو سين تتی، مرستيالانو (کلنګ ورکونکي، باج، تابع) سينو سره چې د راغون بند، ناورک بند او تويمويان اوبو نغښتی ځېره په ډاګه کوي.




ځېره ۵. ٤ په کوز برخه د امو سين کې د ابو تشونه يا غورځوني منځنی مياشتنی کچه چې په ډرغناتا ستېشن کې له ۱۹۸۱ څخه تر ۲۰۰٦ زيږدي پورې ثبت شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۷۷ چوپړی**

**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ځتېکړنو ته د فردوس ځتېکړنې.**




ځېره ۵. ۵ د ناورک سيند د اوبو ورځنی کمښت تاثير په ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ زيږدي کې ( د تاجيکيستان انرژي وزارت له خولې په ۲۰۰۴ زيږدي کې. )




انځور ۵. ۲۸ کوز امو سيند د اوزبېکېستان ستر بند ځای، اړوند بندونونو نومونه او ځای پر ځای شوی تتي تويموين د اوبو نغښتی ( تويموين هايدرو کامپلکس يا THC)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوش تپې لويې وياليې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ځېکړنو ته د فردوس ځېکړنې.




ځېره ۵. ٦ د ناورک سیند بند د اوبو کمښت تاثير په ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ زيږدي کې.




ځېره ۵. ۷ په وچکالۍ پېر کې تويموين د اوبو نغښتې ( تويموين هايدرو کامپلکس يا THC) بند کې د کوز امو سيند کې د اوبو لوړالي کچه، د وخش سين په دوې کلونو کې له سلو ۲۵ ٪ کډيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۷۹ چوپړی**

**د کوش تپې لویې ویالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ځتکړنو ته د فردوس ځتکړنې.**

د امو سین د اوبو رسولو تتی (ډنډ) ډېری برخه تاجیکېستان ټوله تنه، د کېرغېزېستان سویل لویدیځ کونج، د افغانستان شمال ختیځ کونج، یوه تنګه برخه، د تورکمېنېستان ختیځ او د اوزبېکېستان لویدیځ نیمه برخه.

د پامیر سین په پامیر کې د زورکول جهیل څخه سرچینه اخلي، قلعه پنجه غره ته او لویدیځ ته بهېږي، ۵۰ کیلومېتره د واخان سین سره یوځای کېږي (کوم چې سرچینه اخلي د یوه ګلیشیر څخه) د پنج سین جوړولو له پاره. وروسته د پنج سین په یوه لویه برخه کې بهیږي د افغانستان او تاجیکېستان تر منځ پوله د، د وخش سین سره ګډېږي چې اوبه یې د تاجیکېستان خاوره ته له واخانه سرچېنه اخلې. د چماکتین جهیل چې د اوبو څخه خارجیږي د اکسو سین ختیځ ته، چې په پایله کې بدلیږي د مرغاب او بیا د بارتنګ سینونه، په پای کې د پنج آکسس ځانګې سره یوځای کېږي. ۳۵۰ کیلومېتره په تاجیکېستان کې د روښان وومر په څنډه کې. د افغانستان په شمال ختیځه برخه کې د کوکچې سین اوبه کېږي د پنج سین له چپ څخه. سره د یوه ځای کې دو وروسته وخش دغه سیند د امو دریا په نامه یادیږي او په پای کې بهیږي د ۱٤۱۵ کیلومېتره سفر وروسته د اوزبېکېستان په ارال سمندر کې (۸۷۹ میل ).

د پنج او وخش له  امو سره سنګم نه لرې د امو سین درې نور سینونه سره یو ځای کېږي. مرستیال سینونه: له جنوب څخه د کندوز سین په واسطه افغانستان او د شمال څخه د کفارنیهان په واسطه په تاجیکېستان کې (کافرنیهان) او سورخان سینونه. وروسته د لوړو حوزو څخه د وتلو سره امو سین ته ځي شمال لویدیز د وچ توران میدان څخه تېریږي، چیرې چې دا رامنځته کیږي. د کراکم دښتې تر منځ سرحد سویل لویدیز او شمال ختیځ ته د کیزیلکم صحرا. د امو سین په دې سیمه کې خپلې ډېرې اوبه له لاسه ورکوي اوبولګولو، تبخیر، او وریجو له لاسه.

د امو سین په کال کې د ۹۷,٤ مکعب کیلومېتره اوبه په شا او خوا کې د منځنې اخراج برابروي، له سلو ٦۱٪ د اوبو ویستل د تاجیکېستان،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې وياڼې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ښتکړنو ته د فردوس ښتکړنې.**

اوزبيکستان او افغانستان په خاوره کې پراته دي. او له سلو ۳۹٪ يې تورکمېنېستان کې پراته دي.

په داسې حال کې چې له افغانستان ښخه په پراخه کچه د امو په دره کې بهېدونکي اوبه تقريبا په بشپړه توګه راځي، د پامير په غرونو او تيان شان کې د ګليشيرونو ښخه، چې د شا اوخوا وچې ميدان ښخه پورته ولاړ دی، د هوا رطوبت راټول کړی، شونې ده چې بل ډول وي، شايد بل چېرې وتښتي. د هغه د غرونو اوبو پرته د سرچينو په وينا، د امو سين به شتون نه درلود، ځکه چې دا په چټکۍ سره بارانونه په ټېټو سيمو کې چې ډېری سينونه يې له لارې تېرېږي جريان لري.،، د ليکوال ژباړه پرته له غځونې (۴ څېړونکي يا د ريسرچ ډله ايز ډله، اوليوېر اولسين، مېلاني باوېر، مليکه اکراموا، جوچين فريوبريچ ۲۰۰۸ زېږدی، ۲۷۸ ښخه تر ۲۹۰ چوپړی)

,, په ۲۰۰۹ زېږدي کال کې افغانستان په پينځو لويو سينونو و ويشل شو، ډنډونه د پنج امو سين حوزه (PARB) درېيمه برخه ده، په افغانستان کې د سين تر ټولو لوی حوزه چې ټول مساحت لري۹۵۰۰۰ هکتاره PARB اووه فرعي حوزې لري، په دې اووه فرعي حوزو کې پورتنۍ پنج او ښکته شامل دي.

پنج چې د شمال ختيځ ښخه د پنج امو سين سره يوه ځای کيږي، د افغانستان يوه برخه، د کوکچې سين ۶,۴۰۰ اوبه کوي Mm³/a د کوکچا سين فرعي حوزې ښخه (کوم چې يوه د ۲۲,۰۰۰ کيلومېتره مربع ساحه) او د کوندوز سين ۶,۶۰۰ اوبه کوي Mm³/a. د کوندوز سين حوزه په خپله له دريو ښخه جوړه ده، د سين فرعي حوزې: د پورتنۍ کوندوز سين فرعي حوزه (د ۱۶,۵۰۰ کيلومېتره مربع ښخه ۳,۶۰۰ Mm³/a اوبه ايستل)، تالقان د سين فرعي حوزه (د ۱۳,۰۰۰ کيلومېتره مربع ښخه ۲,۴۰۰ Mm³/a اوبه کوي) او د کوندوز د سين د سين فرعي حوزه (۶۰۰ Mm³/a له ۱۲,۰۰۰ km² ښخه). دا دوې مرستيال ډنډونه د ۱۳,۰۰۰ Mm³/ پر ټول اوسط کلنی حجم توليد کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويي ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څټکړنو ته د فردوس څټکړنې.**

په کال کې د ۶۳,۵۰۰ کيلومېتره مربع ټول د اوبو ايستلو ساحې څخه، په پايله کې په هر مربع کيلو مېتر کې د ۶,۵ ليټرو په اوسط ډول ځانګړی جريان، په هېواد کې ترټولو لوړ مشخص جريان دی.

د PARB د هېواد ۱۵٪ پوښي او له هغه څخه ډېر توليدوي ۱۹,۰۰۰ Mm³ يا لړترلړه د هېواد د اوسط ۴۸,۴٪ هر کال د سطحې اوبو سرچينې توليدوي.،، ( راجيب چاکرابورتي. ۲۰۲۱ زيږدی، ۱۵۲چوپړی)

## ۵. ۱۴ ټاټوبي د سينونو ټولواله ( سيستم)

ټاټوبی شپږ سينيزه ټولوالې لري.

۱. امو تتو سينيزې سيمې ټولواله
۲. د هري سين (هريرود) او مرغاب تتو سينيزې سيمې ټولواله
۳. هېلمند تتو سينيزې سيمې ټولواله
۴. کابل (اېندوس) تتو سينيزې سيمې ټولواله
۵. شمال تتو سينيزې سيمې ټولواله
۶. سويې خړوب شوې سيمې ټولواله.

ټاټوبي د سينيزو سيمو (سينديزو حوزو ) نخښې چې د شپږو سينيزو سيمو څرګندونه کوي په لاندې بڼه يې د ګڼې شمېر روښانه شوی دی.:

۱. اموسين د تتو سينيزه سيمه؛ ۲. شمال د تتو سينيزه سيمه؛ ۳. کابل (اېندوس) تتو سينيزه سيمه؛ ۴. هرېرود او مرغاب تتو سينيزه سيمه؛۵. هېلمند تتو سينيزه سيمه او ۶. سويې خړوب شوې سيمه.

په لاندې انځورونو کې رمټ له څرګند شوي دي له کښلو معلوماتو سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۸۲ چوپړی**

## د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکستان ولسمشر څېکړنو ته د فردوس څېکړنې.




انځور ۵. ۵۲۸ پخواني افغانستان د سيندونو ټولوالې نخښه ( نقشه، مپ) چې د سر سين، امو سين او اباسين ( اندوز سين) سيمه بين النهرين ( د سينو په منځ کې يا خوراسان) له ايسکي کول، اورال او اېند سمندر پورې روښانه کوي.




| ۱٤ | ٥۳,۷ | ٦۰۰,۷ | ٦٥,٦ | ٥٤۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۸۷ چوپړی

## د کوش تپې لويې وياليې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څڼکړنو ته د فردوس څڼکړنې.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ١٥ | ٥٦,٣ | ٦٤٣,٩ | ٧٠,٣ | ٥٨٨ |
| ١٦ | ٥٩,٢ | ٦٩٠,٣ | ٧٥,٣ | ٦٣١ |
| ١٧ | ٦٢,١ | ٧٤٠ | ٨٠,٨ | ٦٧٨ |
| ١٨ | ٦٥,٢ | ٧٩٣,٣ | ٨٦,٦ | ٧٢٨ |
| ١٩ | ٦٨,٥ | ٨٥٠,٤ | ٩٢,٨ | ٧٨٢ |
| ٢٠ | ٩٨,٣ | ٩١١,٦ | ٩٩,٥ | ٨١٣ |
| ٢١ | ٧١,٩ | ٩٧٧,٢ | ١٠٦,٦ | ٩٠٥ |
| ٢٢ | ٧٥,٥ | ١٠٤٧,٦ | ١١٤,٣ | ٩٧٢ |
| ٢٣ | ٧٩,٣ | ١١٢٣ | ١٢٢,٦ | ١٠٤٤ |
| ٢٤ | ٨٣,٢ | ١٢٠٣,٩ | ١٣١,٤ | ١١٢١ |
| ٢٥ | ٨٧,٤ | ١٢٩٠,٥ | ١٤٠,٨ | ١٢٠٣ |
| ٢٦ | ٩١,٨ | ١٣٨٣,٥ | ١٥١ | ١٢٩٢ |
| ٢٧ | ٩٦,٤ | ١٤٨٣,١ | ١٦١,٨ | ١٣٨٧ |
| ٢٨ | ١٠١,٢ | ١٥٨٩,٩ | ١٧٣,٥ | ١٤٨٩ |
| ٢٩ | ١٠٦,٢ | ١٧٠٤,٣ | ١٨٦ | ١٥٩٨ |
| ٣٠ | ١١١,٦ | ١٨٢٧ | ١٩٩,٤ | ١٧١٦ |
| ٣١ | ٢٨٦,٣ | ١٩٥٨,٦ | ٢١٣,٧ | ١٦٧٢ |
| ٣٢ | ١١٧,١ | ٢٠٩٩,٦ | ٢٢٩,١ | ١٩٨٣ |
| ٣٣ | ١٢٣ | ٢٢٥٠,٨ | ٢٤٥,٦ | ٢١٢٨ |
| ٣٤ | ١٢٩,١ | ٢٤١٢,٨ | ٢٦٣,٣ | ٢٢٨٤ |
| ٣٥ | ١٣٥,٦ | ٢٥٨٦,٦ | ٢٨٢,٣ | ٢٤٥١ |
| ٣٦ | ١٤٢,٤ | ٢٧٧٢,٨ | ٣٠٢,٦ | ٢٦٣٠ |
| ٣٧ | ١٤٩,٥ | ٢٩٧٢,٤ | ٣٢٤,٤ | ٢٨٢٣ |
| ٣٨ | ١٥٧ | ٣١٨٦,٤ | ٣٤٧,٧ | ٣٠٣٠ |
| ٣٩ | ١٦٤,٨ | ٣٤١٥,٩ | ٣٧٢,٨ | ٣٢٥١ |
| ٤٠ | ١٧٣,١ | ٣٦٦١,٨ | ٣٩٩,٦ | ٣٤٨٩ |
| ٤١ | ١٨١,٧ | ٣٩٢٥,٥ | ٤٢٨,٤ | ٣٧٤٤ |
| ٤٢ | ٢٦٧,٩ | ٤٢٠٨,١ | ٤٥٩,٢ | ٣٩٤٠ |
| ٤٣ | ١٩٠,٨ | ٤٥١١,١ | ٤٩٢,٣ | ٤٣٢٠ |
| ٤٤ | ٢٠٠,٣ | ٤٨٣٥,٩ | ٥٢٧,٧ | ٤٦٣٦ |
| ٤٥ | ٢١٠,٤ | ٥١٨٤,١ | ٥٦٥,٧ | ٤٩٧٤ |
| ٤٦ | ٢٢٠,٩ | ٥٥٥٧,٣ | ٦٠٦,٥ | ٥٣٣٦ |
| ٤٧ | ٢٣١,٩ | ٥٩٥٧,٤ | ٦٥٠,١ | ٥٧٢٦ |
| ٤٨ | ٢٤٣,٥ | ٦٣٨٦,٤ | ٦٩٦,٩ | ٦١٤٣ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تېپې لويې وياڵې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ښتکړنو ته د فردوس ښتکړنې.**

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ٤٩ | ٢٥٥,٧ | ٦٨٤٦,٢ | ٧٤٧,١ | ٦٥٩١ |
| ٥٠ | ٢٦٨,٥ | ٧٣٣٩,١ | ٨٠٠,٩ | ٧٠٧١ |
| ٥١ | ٢٨١,٩ | ٧٨٦٧,٥ | ٨٥٨,٦ | ٧٥٨٦ |
| ٥٢ | ٢٩٦ | ٨٤٣٤ | ٩٢٠,٤ | ٨١٣٨ |
| ٥٣ | ٨٠٥,٦ | ٩٠٤١,٢ | ٩٨٦,٧ | ٨٢٣٦ |
| ٥٤ | ٣١٠,٨ | ٩٦٩٢,٢ | ١٠٥٧,٧ | ٩٣٨١ |
| ٥٥ | ٣٢٦,٣ | ١٠٣٩٠ | ١١٣٣,٩ | ١٠٠٦٤ |
| ٥٦ | ٣٤٢,٦ | ١١١٣٨,١ | ١٢١٥,٥ | ١٠٧٩٦ |
| ٥٧ | ٣٥٩,٨ | ١١٩٤٠,١ | ١٣٠٣ | ١١٥٨٠ |
| ٥٨ | ٣٧٢,٧٩ | ١٢٦١٨,٨٧ | ١٣٧٧ | ١١٥٩٢,٩٩ |
| ٥٩ | ٣٨٥,٧٨ | ١٣٢٩٧,٦٤ | ١٤٥١ | ١١٦٠٥,٩٨ |
| ٦٠ | ٣٩٨,٧٧ | ١٣٩٧٦,٤١ | ١٥٢٥ | ١١٦١٨,٩٧ |
| ټول ټال | ١٠,٧٣٧,٩٤ | ٢١٢,٤٤٧,٥٢ | ٢٣,٢٠٥,٥٠ | ١٩٧,٧٩٩,٩٤ |

**لښتيليک ٦. ٣ د کوش تېپې لويې وياڵې پروژې د خرچو او ګټو لښتيليک**

د کوش تېپې لويې وياڵې پروژې د خرچو او ګټو لښتيليک ښخه د وتيزو (اقتصادي) اټکلونو پر بنسټ کره ښرګنديږي او داسې پيله په پوخ کې کوي چې د کوش تېپې لويې وياڵې له بشپړ ولو په پای کې يا په ۱۰ کال د پيلني کاله ګټه يا د ۱۰ کال ټول ټال کلنی بچت (راګرزيدنه) ۴۱۳ مېليون ډالره وي. چې کال په کال به يې ټول ټال کلنی بچت (راګرزيدنه) لوړيږي، ۳۰ کاله ورسته به که لوی الله کول ټول ټال کلنی بچت (راګرزيدنه) ۱،۷۱۶ يوه بېليون او اووه سوه او شپاړس مېليون ډالره وي او ۶۰ کاله ورسته به د کوش تېپې لويې وياڵې ټول ټال کلنی بچت (راګرزيدنه) ۱۱،۶۱۸,۹۷ يوه لس بېليونه، شپږ سوه او اته لس عشاريه اووه نومي مېليونه ډالرو ته و رسيږي.

کره بوړوم د کوش تېپې لويې وياڵې پروژه اوږپېره پرتلنې لاسته راغلې کره شمېرې داسې پوخ کې کوم چې د ۶۰ کلونو په اوږدو د کوش تېپې لويې وياڵې پروژه د بوړول (جوړول) او خرچې په ۱۰،۳۷.۹۴ ] لس بېليونه او اووه سوه او اووه ديرش عشاريه ځلور نوي مېليون ډالره] کيږي، او ټول ټال کلنی بچت راګرزيدنه په ۶۰ کلونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څښکړنو ته د فردوس څښکړنې.**

۱۹۷،۷۹۹.۹۴ [ يوه سلو او اووه نوي بېليونه او اووه سوه او نهه نوي عشاريه څلور نوي مېليون ډالره] کېږي چې ( ۲۱۲،۴۴۷.۵۲ دوې سوه اودولس بېليونه او څلور سوه او اووه څلوېښت عشاريه دوې پېنځوس مېليون ډالره له کرنې بچت يا راګرزيدنه ده او ۲۳،۲۰۵.۵۰ درېوېشت بېليونه او دوې سوه او پېنځه عشاريه پېنځوس مېليون ډالره له ژويو بچت يا راګرزيدنه) ده.

په ټوله کې دې پايلې ته رسېږو، چې د کوش تپې لويې ويالې پروژه ټول خندونه سرې، تاوانو، بوړونې، خرچې له سلو ۵.۳۴ ٪ کېږي او ګټنه يې له سلو ۹۴.۵۷٪ ده.

د منځنۍ اسيا و ګړو ته د غوره خواړو، لکه غنم، غوړ، بورې، غوښې، پنېر، الوتونکو، کبانو، ستوري ډول کبانو، کډوالو الوتونکو، تورو بازانو، نادره چابک ښکار کوونکو (شاهين، ښرخ)، ګرانو لوړ بيې کانو چې له سلاد (خرې يا رسوباتو) لاسته راځي، اېندوانو، ختکۍ يو، انګورو، جغاندرو، بادمو، پستو، مندتو، زردالو، الوچو، منو، ناکو ټغر خور وي، چې د دوی د زورنې، قويتوب (سوی ناروغی)، سلامتی، رمټتيا، غښتلتيا، ، سوکالۍ او بډاينې جوګه کرځي. لړ تر لړه په کال کې نړۍ والو هېوادونو ته د لاندې لښتيليک په بنسټ ګټنه ور رسيږي.

| د کوش تپې لويې ويالې پروژې څخه نړۍ والو هېوادونو ته لږ تر لږه کلنۍ ګټو رسيدلو لښتيليک | | |
|---|---|---|
| کنه | د نړۍ والو هېوادونو نومونه | له کرکيلې، ژويو، نه پيداکېدونکو الوتونکو، لوړې بيې کبانو، له سلاد (رسوباتو ) ټول شوې لوړې بيې درنو کانو، اينګ او تور زرو ټول ټال کلنۍ بچت، (راګرزيدنه) په [ مېليون ډالره] |
| ۱ | تاجيکيستان | ٤١,٣ |
| ۲ | افغانستان | ٤١٣ |
| ۳ | ازبېکيستان | ١٢٣,٩ |
| ٤ | تورکمېنيستان | ٢٠,٦٥ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ځنډکړنو ته د فردوس ځنډکړنې.**

| | | |
|---|---|---|
| ۵ | کېرغيزيستان | ۱۲,۳۹ |
| ٦ | کزاکېستان | ۱۲ |
| ۷ | ايران | ۱۲,۳۹ |
| ۵ | پاکېستان | ٤۹,۵٦ |
| ٦ | قطر، اماراتو، سعدی عربستان | ۴۰۰ |
| ۷ | مسکو، اروپا، امريکا او نړۍوال پېټ مارکيټ ته | ۳۰۰ |
| | **ټول ټال نړۍوال هېوادونو ته کلنی بچت يا راګرزېدنه په مېليون ډالره** | ۱,۳۸۵,۱۹ |

**لښتيليک ٦. ٤ د کوش تپې لويې ويالې پروژې څخه نړی والو هېوادونو ته لږ تر لږه کلنی ګټو رسيدلو لښتيليک**

## ۶. ۱۸ پوله تېرېدونکي سينېزه سيمه

په نړۍ کې شاه او خوا ۲۶۷ سينيزې سيمې په پوله تېرېدونکي دي.
افغانستان ۶ سينيزې سيمې لري چې له ډلې يې څلور ( کابل، هېلمند، آمو او هري او مرغاب) پوله تېرېدونکې (فرامرزي) دي. ټولټال ۵۳،۸ بېليون مکعب مېتر اوبو څخه ۴۲،۲ يې پوله تېرېدونکي دي ( شا او خوا له سلو ۸۰٪)
ايران، پاکيستان، تاجيکېستان، اوزبېکېستان او تورکمېنېستان شريک اوبيز يا اصلي ګاونډيان دي.
په ټولو سيمو يا حوزو کې بره پروت (upstream) هېواد ټاټوبی دی چې دا ورته يوه د بر رب يوه ځانګړې لوړ لوروينه کړې.
ټاټوبی د تېرو ناامنۍ يو په وجه نه دی توانيدلی چې خپلې اوبه مديريت کړي، ګاونډيانو د وضعيت څخه ناوړه ګټه پورته کوي.
افغانستان دمګړی يوازې له ايران سره د اوبو پر سر تړون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لویې ویالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ځښکړنو ته د فردوس ځښکړنې.**

کله چې افغانستان له خپلو بنسټیزو او پنځې زېرمو څخه ګټه اخلي، ضرور به خپلې اغېزې په لاندې پرتو هېوادونو لرې چې د دوی ستکړنې (عکس العمل) راپارېږي.
د شمالي ګاونډیانو سره د شوروي دوران او وروسته تعاملات څېړو.
آمو سینیزه حوزه چې یونیان یې آکسوس او اعراب یې جیحون بولي.
د ټاټوبې په داخل کې ۹۰۶۹۲ کیلومېتره مربع ځمکه احتوا کوي او اوبو جریان کلنۍ کچې مېچه له سلو ۱۴٪ وګړې ګټه ترې اخلي او په ټوله کې له سلو ۲۳٪ د افغانستان کرنې ځمکې خړوبوي.
۲۰،۳ بېلیون (ملیارد) مکعب مېتر کلنیز اوبو جریان لري چې ۱۸،۴ یې پوله تېریدونکې دي.
دا سین له پامیر غرونو سرچینه اخلې؛ د تاجیکېستان، اوزبېکېستان او تورکمېنېستان سره د ګډې پولې له جوړولو وروسته آرال سمندرګي ته بهیږي.
۵ مرستیالان لري چې رستاق، خان آباد، کوکچه، کوندوز او پنجاب دي. ټولټال افغانستان د دي حوزې شاه خوا له سلو ۳۰٪ اوبه تولیدوي او په لوړه کچه ترې له سلو ۵٪ ترې ګټه اخلو. له سلو ۴۹،۶٪ یې تاجیکېستان تولید وي. تورکمېنېستان یې له سلو ۱٪ تولید او له سلو ۴۹ ٪ ترې ګټه اخلي، د پنبې رغاوه (صنعت)، قره قروم کانال او پاتې نور یې اوزبېکېستان تولید وي.
د آمو سینېزه حوزه د پامیر غرونو څخه سرچینه اخلي او دوې اصلي شاخې لري. د پامیر سین شمالي برخه د زرقول فرعي سین څخه ریښه اخلي چې د افغانستان او تاجیکېستان ترمنځ ګډ دی. د واخان سین جنوبي برخه د چکمتین فرعي سین څخه منشعب کیږي، دغه دوې شاخې په کلای پنج کې سره یوه ځای کیږي او تر ای خانم سیمې پورې د پنج سین نوم اخلي، د دې سیمې وروسته کله چې له کوکچې سره یوه ځای شي د آمو سین په نوم یادیږي. دغه سین د شمال ختیځ په لور له تګ وروسته د خم آب سیمې څخه وروسته بالاخره آرال سین ته بهیږي.

۱. د آمو د سین ټول اوږدوالی ۲۴۰۰ کیلومېتره ده چې د افغانستان، تاجیکېستان، اوزبېکېستان او تورکمېنېستان ترمینځ ۱۲۵۰ کیلومېتره پوله جوړ وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې وياړلې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ښتکړنو ته د فردوس ښتکړنې.**

۲. د اوبو مېچې ته په کتلو سره آمو سين د ابو لوړې کچې تېرېدل ۲۶۳۰ مکعب مېتر پر ثانيه ريکارډ شوی او د اوبو لوړې کچې تېرېدل يې په ۱۹۵۱ زېږدي کې ۳۹۹ مکعب (ترينګلی) مېتر پر ثانيه ريکارډ شوی.

۳. په پورتنۍ برخه کې د دې سين سرعت د ميل د زياتوالي له وجې ښخه زيات دی خو په نسبتاً اوارو سيمو کې لکه د حيرتان ور په سيمه کې چې د سين ميل کم ده ۳ مېتر پر ثانيه سرعت ثبت شوی. او په کلني ډول ۲۳۰ مېليون ټنه خړه له ځان سره لېږد وي.

٤. د آمو سين د اوبو د تېرېدو (جريان) په اړه بېلابېلې شمېرې شتون لري، اما د ۱۹۸۷ زېږدي د مرکزی اسيا هېوادونو ترمنځ غونډه او ۱۹۹۲ زېږدي د الماتا تړون چې په دواړو تړونونو کې افغانستان ناپامه نيول شوی، د آمو کلنی مجموعی ظرفيت ۸۰.۲ بېليون مکعب مېتر بنودل شوی. په اوزبېکېستان کې يې منځنی جريان ۴.۸ بېليون مکعب مېتر، په تاجيکېستان کې ۴۹ بېليون مکعب مېتر او په تورکمېنېستان کې ۰.۸۲ بېليون مکعب مېتر، کېرغېزېستان ۱.۶ بېليون مکعب مېتر او د افغانستان له پاره ۲۴ بېليون مکعب مېتر اټکل شوي دی. د کافرنهان، قيزل او وخش واړه سينونه د آمو سين لوی حجم تشکيل وي او همداراز د پنج، کوندوز او کوکچې سينونه يې لويه برخه جوړ وي.

د بېلابېلو اداراتو د څېړنو په بنسټ چې ځينې يې اړنګلاندي دي د آمو سين کلنی ټوټال کچه د پنج امو سين ته ټول ټال د ابو غورځيدلو کلنۍ کچه په لاندې بڼه ده:

۱. لندل ميلز کمپنی د شمېرو په ستّه ( LANDELL MILLS /AWARD TISC۲۰۱۳) ٤۸ بېليونه مکعب مېتره اوبه.)

(c) ketabton.com: The Digital Library





۲. د اوبو لګوني، اوبو د زېرمو، چارپېريال ساتنې او د يونيسيف ادارو له خوا ( ٤٢,٤٥ بېليونه مکعب مېتره اوبه.)

۳. د اوبو د زېرمو نوی شمېرو په ستّه ( ۴۰ بېليونه مکعب مېتره اوبه.)

٤. د ۱۹۸۷ او ۱۹۹۲ کلونو د مرکزي اسيا هېوادنو تړون په ستّه ( ۸۰,۲ بېليونه مکعب مېتره اوبه.)

د اوبو ونډه او ګټه اخستنه: د ۱۹۸۷ کال او ۱۹۹۲ کلنو د مرکزی اسيا د هېوادنو دغونډي د ارقامو په اساس د مشترکو هېوادونو د ګټی اخيستنه او د اوبو د توليد د ونډې:.

۱. افغانستان د اوبو د پيداوار کلنۍ ونډه ۲۴ بېليون مکعب مېتر؛ د ونډې له سلو ۳۰ ٪؛ د کروندې خړوبولو وړ کرونده ۱.۲ مېليون هکتاره ( ۰.۵ مېليون جريبه)؛ د اوبو ونډه ځرګنده نه ده بېليون مکعب مېتر؛ د ګټنې سلنه ځرګنده نه ده.

۲. تاجيکېستان د اوبو د پيداوار کلنۍ ونډه ۴۹ بېليون مکعب مېتر؛ د ونډې له سلو ۶۱ ٪؛ د کروندې خړوبولو وړ کرونده ۰.۵ مېليون هکتاره ( ۲.۵ مېليون جريبه)؛ د اوبو ونډه ۹.۵ بېليون مکعب مېتر؛ د ګټنې سلنه ۱۵.۴.

۳. اوزبېکېستان د اوبو د پيداوار کلنۍ ونډه ۴.۸ بېليون مکعب مېتر؛ د ونډې له سلو ۶٪؛ د کروندې خړوبولو وړ کرونده ۲.۳ مېليون هېکتاره ( ۱۱.۵ مېليون جريبه)؛ د اوبو ونډه ۲۹.۶ بېليون مکعب مېتر؛ د ګټنې سلنه ۴۵.۲.

٤. تورکمېنېستان د ابو د پيداوار کلنۍ ونډه ۰.۸۲ بېليون مکعب مېتر؛ د ونډې له سلو ۱ ٪؛ د کروندې خړوبولو وړ کرونده

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱.۷ مېليون هکتاره (۸.۵ مېليون جريبه )؛ د اوبو ونډه ۲۲ بېليون مکعب مېتر؛ د کټنې سلنه ۳۵.۸.

۵. کېرغېزېستان د ابو د پيداوار کلنۍ ونډه ۱.۶ بېليون مکعب مېتر؛ د ونډې له سلو ۲ ٪؛ د کروندې خړوبولو وړ کرونده ۰.۱ مېليون هېکتاره ( ۰.۵ مېليون جريبه)؛ د اوبو ونډه ۰.۴ بېليون مکعب مېتر؛ د کټنې سلنه ۰.۶.

٦. د ټول پنج امو د اوبو د پيداوارو کلنۍ ونډه ۸۰.۲ بېليون مکعب مېتر؛ د ونډې له سلو ۱۰۰ ٪؛ د کروندې خړوبولو وړ کرونده ۵.۸ مېليون اېکتاره (۲۹ مېليون جريبه)؛ د اوبو ونډه ۶۱.۵ بېليون مکعب مېتر؛ د کټنې سلنه څرګنده نه ده.

## ۶. ۱۹ د پنج آمو خړوب شوې اواره

۱. د پنج آمو په حوزه کې خړوبې شوې ساحې مجموعي مساحت شا او خوا ۴۴۸،۲۸۸.۰۰ اېکتاره ته رسېږی.

۲. د اخيرو کلنو په جريان کې د اوبو لګونې په برخه د اوبو او انرژۍ وزارت له خوا په اېنجينېري بنه يوه څو بنسټيزې پروژې جوړې شوي چې له هغې ډلې څخه د سنګ مهر وياله (کانال) بدخشان کې، شهروان وياله د تخار او د کوندوز خان اباد پروژه د کوندوز د يادونې وړ ده چې په ټولې توګه ۸۵،۰۰۰.۰۰ اېکتاره ځمکه خړوبوي.

۳. سره د دې چې افغانستان ۲۴ بېليون مکعب مېتر اوبه د آمو سين کې توليدوي له دې څخه يوازې ۶.۱ بېليون مکعب مېتر اوبو څخه استفاده شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوش تپې لويې وياڼې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ښتکړنو ته د فردوس ښتکړنې.

,, د امو پر سين په منځنۍ اسيا هېوادونه هر يوه تاجيکېستان، اوزبېکېستان، تورکمېنېستان او کرغيزستان له لورې بوږول شوي اسانتياوې،، د ليکول ژباړه ( نعمت الله، ۱۴۰۱ لېږدی، ۸۴ چوپړی)

## ۶. ۲۰ د بر پنج سېمه کې له اوبو جوړې برېښنا د پيداوارو کچه

د بر پنج سېمه له اوبو جوړې برېښنا د پيداوارو په وړتيا کې لوړ ځای لري. د روسيې ماهرينو څېړنو (متخصصينو د تحقيق) په بنسټ دا حوزه د ۱۴ څخه تر ۱۶ زره ميګاوات برېښنا پيداورو (توليد) وړتيا لري.

د ۱۹۸۰ زېږدي د برېښنا ماسټر پلان په بنسټ په ځينو ټاکلو ځاينو کې لومړنۍ سروې تر سره شوي.

سره د دې چې آمو سيمه شا او خوا ۱۹۰۰۰ ميګا واته برېښنا پيداورو وړتيا لري، خو يوازې له دې سيمې څخه ۱۷.۹۵ ميګا واته برېښنا پيداورو څخه ګټنه اخستل شوې.

## ۶. ۲۱ په آمو سيمه کې له اوبو ګټنې څرنګوالی

١. ۳۲.۶ مېليون اېکتاره د خړوب وړ ځمکې په دې سيمه کې شتون لري.
٢. ۲.۳ مېليون يې په اوزبېکېستان،
٣. ۱.۷ يې په تورکمېنېستان،
٤. ۱.۲ يې په افغانستان کې،
٥. ۰.۱ يې په کېرغېزېستان کې،
٦. ۰.۵ يې په تاجيکېستان کې شتون لري. ( ناورک بند ۲۷۰۰ ميګا واته برېښنا پيداور لري. راعون بل بند ۳۶۰۰ ميګا واته)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ښتکړنو ته د فردوس ښتکړنې.

دې سين څخه افغانستان کې في نفر ۱۰۰۰ مکعب مېتر کمې تاجيکېستان کېرغېزېستان ۲۰۰۰-۱۰۰۰۰، اوزبېکېستان ۳-۲ زره تورکمېنېستان ۳-۶ زره درېنګلې مېتره ګټه اخلې.

## ۶. ۲۲ رښتي حالت (حقوقي وضعيت)

۱. د ۱۹۴۷ او ۱۹۸۵ کال تړونونه. يوازې ۱۶، ۱۷، ۷ او ۸ ماده د کښتۍ يو چلولو سين غاړو تينګولو (تحکمياتو) په اړه مواد لري.

۲. د لويې روسيې وروسته منځنۍ اسيا هېوادونو (دوی) په ۱۹۹۲ زيږدي کې د آلماتا تړون لاسليک کړی او پخوانۍ پرېکړې تاکلي برخې ( سهميه بندي) يې منلي ( تائيد کړې).

۳. افغانستان کوم رښتي (حقوقي) تړون نه لرو يوازې د تاجيکېستان سره MOU– (د اوبو چارو يوه غړي کوونکي) ۴ غونډې شوې دي.

## ۶. ۲۳ د کوش تپې کانال ارزونه

۱. د هېواد په کچه غوره او لويه پروژه ده چې د کال شاه او خوا ۱۳ بېليون مکعب مېتر اوبه په اخيستلو سره له ۵۰۰،۰۰۰.۰۰ اېکتارو زياته ځمکه په کوندوز، بلخ، جوزجان او فارياب ولايتونو کې خړوبوي.

۲. په رښتي بنه له شمالي ګاونډيو هېوادونو سره کومه بين المللي تړې او تړونونه نه لرو، يوازې د ۱۹۴۷ او ۱۹۵۸ کال تړونونه لرو چې په هغې کې يوازې د کښتۍ يو تګ او راتګ، د سين غاړو نوي ودانول او تينګول (تحکيمات) په دوې منځنۍ برخو وېشلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. د نړۍ وال رښتو له نظره که چېرې په يوه مسله کې د هېوادونو ترمنځ تړون شتون و نه لري نو بيا نړۍ والو دوديز رښت (عرفي قواعدو) په پام کې نېول کېږي چې غوره يې د معقولانه (بولنې) او منصفانه ګټې اخيستنې اصل، د مشاورې اصل، د نه ضرر رسونې اصل د ښه نيت له مخې د همکارۍ اصل دی.

٤. سياسي اړخونه هم د پروژې مهم دي. دا ځکه چې شمالي ګاونډيان هر يوه د خپل وتيز وګړنې (اقتصادي او اجتماعي) پرمختګ له پاره په دې اوبو تکيه (متکي) دي. افغانستان چې وتيز وړتيا يې تېټه ده، د خوړو امنيت نه لري، لږه ګټه ځيني اخستې. تاجيکېستان ناورک او سنګ توده بندونه د برېښنا او کروندو خړوبولو له پاره جوړ کړې.

٥. اوزبېکېستان او تورکمېنېستان په ډېره کچه په ښه وتيزه وړتيا (اقتصادي وضعيت) کې قرار لري او ډېره استفاده ځيني کوي. له سياسي پلوه دا دوې لاندې پراته هېوادونه غواړې د پورته پرتو هېوادونو ګټه محدوده و ساتي کره کوم لويه وياله هره ثانيه ۵۰۰ مېتره اوبه اخلي چې د کوش تپې لويې ويالې به دا لويه وياله يا کانال اوبه هم زيانمنې کړي.

٦. ټاټوبی نړۍ وال رښت لري چې له خپلو اوبو څخه په هر ښه ګټېنه واخلي او په راتلونکي پېر کې پرې ځواکمن کنټرول و لري او خپلې سويې خړوب ځمکې پرې خړوب کړي. د امو سين له ټکلي کچې څخه له سلو ۵۰٪ څخه نېولې تر له سلو ۹۰٪ برخې پورې رمټه ګټېنه پورته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څېکړنو ته د فردوس څېکړنې.

## ۶. ۲٤ لنډمګې پايلې پېر ( وخت )

د دې څېړنې په لنډپېرې پای کې لاندې پايلې لاسته راغلې دي:

۱. د آمو سينيزه حوزه د ټاټوبي په شمال کې له تاجيکېستان، اوزبېکېستان او تورکمېنېستان سره ګډه سېمه ده. د آمو سينيزې سيمې يا حوزې ډېرې اوبه افغانستان توليد وي ورپسې تاجيکېستان دی. د واخان پورتنی ژی اوبو په سته چې ۵۰ کيلو مېتره په ټاټوبي کې بهېږي او بيا تاجيکيستان ته دننه کيږي د سپينې اوبو په نوم يا آقسو سيند چې له پنج امو ته را غورځېږي.

۲. تورکمېنېستان چې د دې حوزې ډېره کمه برخه اوبه توليد وي، د ټولو نورو اوبيزو ګاونډيو په تله ډېرې اوبو څخه ګټنه اخلې.

۳. ټاټوبی له تاريخي پلوه له لويې روسيې سره ربنتي ټرونونه لري چې يوازې د ۱۹۵۸ زيږدي ټرون په ټولي ډول د پنج آمو سين اوبو ته اشاره کړې وه.

٤. د لويې روسيې له ړنګيدو سره سم افغانستان سره له دې چې له شمالي ګاونډيو سره په دې اړه کوم ربنتي (حقوقي) سند نه لري بلکې د افغانستان او ګاونډ هېوادونو ترمنځ د همکاريو ښه پوتنسيل شتون لري.

۵. د ټاټوبي وتيز وګړني وړتيا هم د تاجيکېستان، اوزبېکېستان او تورکمېنېستان په تله ټېټه ده، او د نړۍ والو ربنتو (حقوقو) او اسلامي شريعت پر بنسټ هم ربنت (حق) لري چې له دې سينيزې سيمې څخه د خپلې ټولنې بدايه کېدو او کرنې پراختيا کې ور څخه ګټه واخلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦. د دي له پاره چې د کوش تپې لويه وياله ملي او بنستيزه پروژه په ګټوره (مؤثره) توګه غوره پايلې و لري، اړينه ده چې په دې برخه کې کره او دکېکې سياسي، رښتي (حقوقي) او تخنيکي ارزونې و شي او پرته د خپلو اوبو تاکلي واک هېڅ هېواد د پرېکړې له پاره واک په لاس کې ورنه کړي.

٧. په ځينو ځايونو کې د ستيشنونو د کمښت او نه شتون او د ځينو ستيشنونو د شمېرو (ارقامو) له امله، د افغانستان څخه د AMO سمندري معاونينو د جريان رښتينې اندازه معلومه نه ده. يوازې په کليدي ستيشنونو لکه کلوخ تيپ، خاجه غر، اشکاشم، کوف اب او ساسات ستيشن کې، ارقام محاسبه شوي، چې نږدې ۱۸ بېليونه درېنګلې ( مکعب ) مېتر دي. نيمګړې کچه ده.

٨. د دې سمندر د اوبو د کارولو په برخه کې، زموږ هېواد خورا تېټ دی. له افغانستان څخه د امو بحيرې ته د بهېدونکو اوبو اندازه ۳۷.۹۸۶ بېليون درېنګلې مېتر ده، خو افغانستان له دې اوبو څخه شا او خوا ۶،۱ بېليون درېنګلې مېتر څخه ګټنه اخلي، چې د کرنې وړ ځمکې له شتون سره سره ډېره کمه ده.

٩. د پنج امو عامه سيمه د برېښنا پيداوارو ترلاسه کولو په برخه کې غوره بلل کيږي، خو د برېښنا د پيداوار له پاره دغه سيمه (چې تر ۱۹۰۰۰ ميګاواټو پورې د برېښنا د پيداورو وړتيا لري) تر ډېره حده کار نه دی شوی. په دې برخه کې پر ۱۱ بندونو کار شوی، چې له دې ډلې څخه د لومړي او دوېيم پلخمري بند پروژې دي، چې د ۴ ميګاواټه سرباري برېښنا د پيداورو وړتيا لري او پاتې نور ټول د ۰،۱ او ۰.۵ ميګاواټو تر منځ دي، چې ګټه ترې اخېستل کې دی شي، د کوشنۍ يو نيلي ډيزاينونو په ليکه کې ډلبندی شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لویې ویالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ځتکړنو ته د فردوس ځتکړنې.**

۱۰. له نړۍ والو ربنتو (قوانینو) څخه په سرغړونې سره د افغانستان له خبرولو پرته د شمالي ګاونډیو هېوادونو (تاجیکېستان، اوزبېکېستان او تورکمنېستان) له خوا اسنتیاوي (تاسیسات) جوړ شوي، چې د افغانستان له پاره یې جدي ستونزه رامنځته کړې ده.

۱۱. د امو سینیزې حوزې کلنۍ تولې اوبه چې په ستېشنونو کې ثبت دي ۱۸۶.۱۸۵ بېلیون درېنګلي مېټر دي او نورې شمېرې چې په دې اړه وړاندې شوي سمې نه دي، خو دغه شمېرې د امو سینیزې حوزې کلني پیداورو وړتیا او کچه په تویموین د اوبو نغښتی ( تویموین هایدرو کامپلکس یا THC ) د امو سین په لړه برخه کې د اوبو مېچې په اډې (ستیشن ) کې ښودل کېږي.

۱۲. په نسبي ډول په روان پېر کې د امو سین د اوبو تړون پلي کېدل د دواړو هېوادونو په ګټه دی او افغانستان هم تل منلې ده چې دغه تړون ته ژمن دی، اما د تړون د پلي کې دو له پاره په افغانستان کې د اوبو د مدېریت ودانۍ یو اړتیا لېدل کې ده او مخکې تر دې چې کوش تپې لویه ویاله جوړه شي دا اړتیا نه وه پوره شوې او د خپورېدو (نافذېدو) څخه تر اوسه دا تړون په هر اړخیز ډول نه دی پلی شوی چې د دې تړون نه پلي کې دو له امله افغانستان له بل هر چا زیات ضرر لیدلی دی. اوس چې د کوش تپې لویه ویاله جوړېږي او افغانستان د دې وړتیا پیدا کړې چې د امو سین کلداري ولسوالۍ په پیل کې د کداري سروندې ( اینتیک، سربند ) د اوبو کچې منظمې کړي، د امو سین د اوبو تړون د پوره او منظم پلي کې دوی ته لاره اواره شوې ده.

۱۳. د امو سین پخواني تړون نه پلي کېدل په تېر پېر کې تل د ستونزو اصلي لامل نه وو او بل اصلي لامل د ګاونډیانو تر منځ د ښه نیت نه شتون وو چې تل سبب شوی وو، ترڅو د دغه حوزې په

(c) ketabton.com: The Digital Library





سر د دې سره، سره چې له ټرون زياتې اوبه يوه هېواد ترلاسه کړي د ستونزو را ولاړېدو سبب شوی نه وو.

۱٤. د کوش تپې لويه وياله او دې ته ورته پروژو پلي کېدل د بلخ په سويې خړوب کروندو کې يانی افغانستان کې د شمال سرحدي پولې له ټرون ښخه سرغړونه نه ده او د اسيايي هېوادونو ستکړنې په دې برخه کې د مشکل را پيدا کولو نه پرته کومه بله ګټه نه لري، په يوه صورت کې ازبېکېستان د ستکړنو ربښت لري چې د شمال لرغوني ټرون د پرېکړو سره سم د دوی ونډه ورنه کړل شي.

۱٥. د اورال سمندرګي د وچېدو اصلي لامل پرته له چرپېريال او سيمې تاثيراتو د تاجکېستان هېواد په واسطه د وحش، راغون او ناورک بندونو، د تورکمنېستان هېواد په واسطه د امو سين د مخې ګرځول د کرمقول لويې ويالې په مرسته او د ازبېکېستان د کرکي، بخارا، اورګيچ، نوکوس، خوارازم او کاراکالپکستين بندونو او ښاه ګانو په طرف د اوبو ګرځول دي، د دوی دا کار د دې لامل کيږي چې اورال سمندرګي ته د امو سين اوبه و نه رسيږي.

۱٦. د يادونې وړ ده چې افغانستان په دې برخه کې دا په دا ( په دې خاطر) ګرم نه دی چې په تېرو کلونو کې يې ډېرې زياتې اوبه اوزبېکېستان، تورکمېنېستان ته او اورال سمندرګي ته ورکړې دي، په مقابل کې دوی له دغو خپله ګټه اخستې او مصرف کړې يې دي وړيا او هغه اوبه چې د دوی له اړخه اورال سمندرګي ته توېيږي ترلې دي، دې ته په پام سره چې د ټرون سره سم دوی يوازې نيم په نيم کچه حجم اوبه په امو سين کې ونډه لري او نور ربښت نه لري، په يوه نوم او بل نوم د امو سين اوبه ټولې بې دريغه وړيا خرچه يا مصرف کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکستان ولسمشر څرګندونه ته د فردوس ځرګندونې.**

۱۷. د لومړنۍ يو اړتياوو په بنسټ افغانستان په روان پېړ کې تر ټولو ډېره اړتيا لري چې د امو د اوبو څخه ګټه واخلي او اوزبېکستان هم بايد لکه افغانستان اوس له افغانستان سره ښه نيت ( حسن نيت) و ښيي، اما دوی تل د افغانستان په اړه له منفي کړنو او ستکړنو کار اخستی، د دې په ځای چې افغانستان ته په سختو شرايطو کې لاس ورکړي.

۱۸. د کوش تپې لويې ويالې ګټه د منځنۍ اسيا ټولو هېوادونو ته رسېږي ځکه دغه لويه وياله د سويې خړوب ځمکې، د سوزېدونکو دښتو د ګردونو مخنيوي، سېلابونو کنټرول، د پنځې چارپېريال ساتنې، د سويې شتمنو وګړو شتمن کولو له پاره جوړ شوی دی او مخکې له دې سېلابونو د ټولو هېوادونو زياتې ځمکې، سرحد پولې غاړې ويجاړولې او ډېر تاوانونه يې ټولو هېوادونو ته وراړول.

۱۹. د امو سينيزه سيمه د افغانستان په ملي وټيزه برخه کې چې تر ډېره د کرنې په برخه ولاړ دی، بنسټيز رول لري ځکه د افغانستان د ټولټال کرنيزو ځمکو تر ۱۳ ٪ د امو سين په سيمې کې پرتې دې او کرنيز ګټور نوي پيداوړو باندې ټاټوبی بسيا کولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۶. ۲۵ د وړاندېزونو پېبره (حاصل يا ثمره)

۱. د پنج آمو سېنېزې سيمې څخه د کټه اخستنې له پاره دي ستراتيژيک، چټک او راتېول پلان رامنځته شي چې له مخې يې د ګاونډيو سره د مخ پر مخ درک او ملي ګټو ته په پام کې نېولو سره د پوهېدلو تغر و غړول شي؛

۲. د پنج آمو سېنېزې سيمې له پاره دي د شمېرو او ګڼو ګډه همغږي رامنځته شي چې د پنچ امو سين له پيل څخه تر پايه اورال سمندرګي پورې د تولو بندونو هايدرو ګراف شل کلن لښتيلک ګډ بې لورې لاس په لاس خوندي شي؛

۳. د پوله تېرېدونکو اوبو په اړه د خبرو اترو ( بحث او نهايې مسايلو) د مطرح کولو له پاره عالي مرجع تصويب؛

٤. د تولې ګڼې ګونې پوهاوي رامنځته کول؛

۵. د نړۍ والو مرستو چمتو کوونکو او برابرونکو سره اړيکې تينګول؛

٦. د شمالي ګاونډيو سره د پوهاوي، خبرو اترو لار و خارل شي؛

٧. د سيلابونو کنټرول او سين غاړو تنګولو له پاره ګډ لوستي (مطالعات) و شي؛

٨. د برېښنا پيداوارو برداښت وړتيا په دي سيمه کې ډېر دی، بايد ورته تينګه پاملرنه و شي؛

٩. د ګډواوبيزو پروژو باندې تينګار وشي، لکه د جم پروژه، د کاسا ۱۰۰۰ او داسي نورې.

۱۰. د چټکي پرېکړې له پاره د حيرتان پله د اوبو ستېشن مسله دې حل شي، څو له ګاونډي هېواد سره په همغږۍ د اوبو د تېرېدلو کلنۍ کچې نا څرګندو شمېرو په اړه پرېکړه او تړه و تړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





او دا مسله څو څو ځله له اوزبېکېستان هېواد سره هم په ډيپلوماتيکه توګه شريکه شوې، خو تر اوسه دا مسله نه ده حل شوې او دوی د اوبو د تېرېدلو اډې د مېچې کچه موږ ته په لاس نه راکوي.

۱۱. په ۳۵ ځايونو کې چې سينه او جهيلونه پرته له حسابه د امو سين ته تېرېږي، په هغه ځايونو کې چې د اوبومېچې اډې (ستيشن) شتون اړين دی بايد يوه، يوه اوبومېچې اډه يا ستيشن ځای پر ځای شي، يا د جريان اندازه بايد د سروې له لارې و ټاکل شي.

۱۲. په سيمه کې ځينې د اوبو مېچې اډې يا ستيشنونه (تنګشيو ستيشن، نيسي پل، يالور ستيشن) ځای پر ځای شوي، خو موږ يې شمېرې په لاس کې نه لرو، د شتون لرونکو شمېرو په ترلاسه کولو کې ستونزې بايد حل شي.

۱۳. برېښنا د پيداوارو او د اوبولګولو د بندونو په برخه کې اړين ده چې د اوبو مديريت او د برېښنا پيداوارو د ستونزو د حل له پاره کوټلې ګامونه پورته کړل شي، له پندورې پاملرنې سره.

۱٤. د افغانستان په دننه هغه مسؤلينو ته چې د اوبو د مديريت په برخه کې کار کوي، وړانديز دا دی چې د امو سينيزې سيمې ته ځانګړې پاملرنه و کړي او د دغه حوزې د پلان سره سم د اوبو د مديريت پروژو ته لومړيتوب ور کړي، ځکه دغه حوزه د کرنې پيداوارو په برخه کې د افغانستان د نيستي پاک حيثيت لري او د هېواد نږدې تر نيمايي له سلو کرنيزه ځمکه په دغه سيمه کې پرته ده.

۱۵. هغه دولتي اداري په ځانګړي ډول د افغانستان د اوبو او انرژي وزارت د اوبو د زېرمو رياست چې د اوبو اړوند شمېرې راټول وي او چمتو کوي، وړانديز دا دی چې د دغه شمېرو په راټولولو

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې له ډېرې پاملرنې او ځېرتيا څخه کار واخلي او د ټولو سيمو موډلونه چمتو کړي تر څو هغه ځوک چې ځېړنه کوي له ستونزو سره مخ نه شي، همدارنګه د ځېړونکو سره د شمېرو او معلوماتو په راټولولو کې تر خپله وسه مرسته و کړي. د بندنيانو ځېړونکو په ځېړنه تکيه کول روغ کار نه دی، له موږ څخه باندنيان په ځېړنو کې سرغندوي نه دي، ځکه زموږ ټاټوبی زموږ خپل دی، له موږ خپله پردی تر موږ ښه نه پوهېږي.

۱٦. د افغانستان دننه هغه ځېړونکو ته چې د اوبو په برخه کې کار کوي وړانديز دا دی، ترڅو د افغانستان د هغو سيمو په اړه چې پوله تېرېدونکې دي زياته ځېړنه ترسره کړي او دغه برخې ته زياته پاملرنه و کړي ځکه د افغانستان له ټولو سيمو څلور يې پوله تېرېدونکې سيمې دي.

۱۷. د افغانستان دولت مسؤلينو ته وړانديز دا دی چې د امو سين نوی ترون دې د ليکوال د کچې سره سم د مرکزي اسيا هېوادونو د ونډې کچه له پېنځه ناستو څخه ورسته و تړي. تر لاسه کولو ټولو کره ځايونه چې تر اوسه پورې معلوم نه دي له دوی سره په ګډه معلوم او تآسيسات جوړ کړي تر څو ترون په پوره توګه پلی شي.

۱۸. د افغانستان دولت مسؤلينو ته مې وړانديز دا دی چې د امو سين د اوبو ترون د ښه پلي کېدلو په موخه د کوش تپې لويه وياڵې سروندي کارونه ژر بشپړ کړي تر څو د اوزبېکېستان د ونډې په منظمه ورکړه کې اغېزمن واقع شي.

۱۹. مخکې يادونه و شوه چې د افغانستان د شپږ سينيزو سيمو [ ټاټوبي د سينيزو سيمو (سينديزو حوزو ) نخښې چې د شپږو سينيزو سيمو څرګندونه کوي په لاندې ښه يې د ګڼې شمېرې روښانه شوې دي:. ۱. اموسين د تتو سينيزه سيمه؛ ۲. شمال د تتو سينيزه سيمه؛ ۳. کابل (اېندوس) تتو سينيزه سيمه؛ ۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هریرود او مرغاب تتو سینیزه سیمه؛ ۵. هیلمند تتو سینیزه سیمه او ۶. سویې خړوب شوې سیمه.] له دغې څلور یې پوله تیرېدونکې بلل کیږي یاني له سلو ۹۰٪ ډېرې اوبه پوله تېرېدونکې دي، نو دې غوراوي ته په کتو سره د لوړوزده کړو وزارت او د پوهنتون مسؤلینو ته وړاندیز دا دی چې د پوله تېرېدونکو (Trans boundary) اوبو په اړه یوه مضمون د اوبو د زېرمو او چاپېریال ساتنې پوهنځی نصاب کې ور ګډ کړي تر څو هغه اینجینېران چې د اوبو په برخه کې کار کوي په دې اړه پوره معلومات و لري.

۲۰. په نوې غونډه او تړون کې افغانستان حال دا چې پیلنی لوی تولیدونکی هېواد افغانستان دی، له پامه غورځول شوی، د افغانستان له پاره ۳۷.۹۸۶ بېلیون درېنګلې (مکعب) مېتر اوبو ونډه جوړېږي، ولې د دې تړون په ستړه یوازې ۱۳ بېلیون درېنګلې (مکعب) مېتر اوبه د افغانستان له پاره پرېښول شوي.

## ۶. ۲٦ موږ ته ننګونې:

د چارپېریال بدلون (اقلیمي تغیرات)؛ بې باوری (بې اعتمادي)؛ د تاتوبې ناارامي (د افغانستان بې ثباتي)؛ تاکلی برداښت نه شتون (کافي ظرفیت نه شتون)؛ په ځان تکیې نه شتون (خودکفایی نه شتون)؛ د اړېکو سوړوالی؛ له سلو نوي وو څخه ډېرې اوبه د پولې دي؛ د ګنېګونې ډېر والی؛ تول پوهاوي نه شتون، په تله نه برابر پرمختګ.

## ۶. ۲۷ غوره چانسونه:

د روسانو پېر د اوبو تړون؛ سیاسي ټینګې ارادې شتون؛ لږ د استعدادونو جوړول؛ ښې اړېکې؛ نړی والو موسیسو او بسپنه ور کوونکو لېوالتیا؛ ګډې ګټې؛ ګډې پروژې او د اوبو چارو اوډون رښت (تنظیم قانون).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۶. ۲۸ د کوش تپې لويې ويالې کيندنې لګښت (مصرف) د وګړو هر تن په سر

په تېوله کې ,, د کوش تپې لويه وياله ۱۹۴۲۳۰۱۸۰ يوه سلو ځلور نوي مېليونه او دوې سوه او دېرش زره او يوه سلو اتيا درېنګلې مېتر د خاورو کېندنه،، (محمد، ۲۰۱۹ زېږدی، ۱۴۵ چوپړی )
او د تاتوبې د تېوله ګنه ګونه ,, د ملګرو ملتونو وروستې معلوماتو د ورلډومېټر سپړنې په سته چې د پينځنی په ورځ، د اکتوبر ۲۰ ، ۲۰۲۲ په ډاګه کړه (٤٠,٩٤٠,٠٢٩) ځلوېښت مېليونه او نهه سوه او ځلوېښت زره او نهه ويشت تنه وګړي دي. ،، (مسعود، ۲۰۲۲، ۱ چوپړی)
چې په ۲۰۲۳ زېږدي د کې د کوش تپې لويې ويالې کيندنې لګښت (مصرف) د و وګړو په هر تن باندې ۴.۷۴۴۳ ځلور عشاريه اووه زره ځلور سوه او درې ځلوېښت درېنګلې مېتر خاوره کېندنه په سر ور رسېږي. يا [The Kush Tepa Canal Excavation consumption in ۲۰۲۳ was ۵ Cubic Meter-Person (CMP)]

زما اند دا دی چې د تاتوبې په ګډی ناست لوړ پوړې ځارواکي، خپل يوه مياشت معاش، د لويې ويالې رغښت ته و بخښې، او زموږ هر افغان وګړی د خپلې برخې کچه ۵ (۴.۷۴۴۳ ) درېنګلې مېتر خاوره په خپله و کېندې او يا يې هامياني (پيسې) ور کړي، انشا الله العظيم چې ډېر ژر به يې ګټنې ته چمتو کړو.

,, د کوش تپې لويې ويالې پروژې د بشپړولو پېروېش په سته ځلورو برخو وېشل شوی دی چې پيلنی يې د چمتوکولو لړی (صحنه، ستېج: دېپېښې ځای، دريځ، رباط، مرحله، د پرمختګ اندازه، لوبول يا د صحنې په مخ راوړل) ده؛ دوېيمه يې د ودانولو لومړی لړی ده؛ درېيمه يې د ودانولو دوېيمه لړی ده؛ ځلورمه يې د ودانولو درېيمه لړی ده؛ چې ځلور واړه لړی يې د ۱۲ دوې لس کلونو پېر (وخت) کې په بشپړ ډول بشپړه شي.،، (سويم، ۲۰۱۹ زېږدی، ۱۳۱ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ځنډکړنو ته د فردوس ځنډکړنې.

## ۶. ۲۹ توکي او د څېړنې شنني کړنلاره

د دغه څېړنې کړنلاره په لاندې اوډون کړی یو کې لړی په لړی روښانه شوې ده او نورې سپړنې ته اړتیا نه لیدل کېږي.

د سکالو اړوند معلوماتو راټولول؛ لومړی لاس معلومات او شمېرې (Primary data): دوهیم لاس معلومات او شمېرې ( Secondary data)؛ له متخصصینو سره خبرې اترې (مصاحبه)؛ اړوند اداري، څېړنې، کښلې یا کتابونه، راپوړونه؛ DEM او د اسمان له لورې انځورونه (فضایي عکسونو) په مرسته، د GIS چارپېریال (محیط) څخه ځینې معلومات، د کڅو ( شمېرو یا ارقامو) او د حوزې اوسني حالت شننه (تحلیل)؛ د اوبو مېچې شننه او د شته شمېرو سره پرتله؛ د سینیزې حوزې اړوند د اوبو ستونزې؛ د شمېرو شننې په پام کې نیولو سره دشته ستونزو لامل او حل لارې لټول؛ د نورو هېوادونو تجربې؛ اړوند ترونونه؛ داوبو اړوند ملی او نړی وال ربښت (قوانین)؛ موندنې او مناقشه؛ پایلې او وړاندیزونه.

د دغو څېړنو د ترسره کول له پاره موږ توکو( د شمېرو او معلومات ) ته اړتیا لرو، چې له بېلابېلو زېرمو څخه یې اړینه ده چې چمتو کړو، دا چې دا ډېټا څه ځانګړنې باید و لري تر څو د هیلې سره سم د څېړنې پایله لاسته راشي، په دې موخه د ډېټا ځانګړنې په لاندې لښتیلیک کې ځای په ځای شوې دي.

## ۶. ۳۰ د شمېرو او معلوماتو شننه:

د څېړنې د اړتیا وړ معلوماتو او شمېرو ځانګړنې:

۱. لومړی ګڼه: ۱؛ سکالو: د شمېرو او معلوماتو (ډېټا) ډول؛ سپړنه: لومړنی او دوهیم لاس ډېټا چې په ګڼه او لیکلې ډول (له ګڼې او څه رنګوالي) سره پیدا کېږي؛ د کتنې پایله: شتون لري او که نه یې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library





۲. دوېيمه ګڼه:۲؛ سکالو: د ډېټا د پېر (وخت) پريود؛ سپړنه: د شتون په صورت کې وروستنی ډېټا او لږ تر لږه ۲۵ کلونو د بېلګې په ډول ( ۱۹۹۷ ـ ۲۰۲۳ )؛ د کتنې پايله: شتون لري او که نه يې لري.

۳. درېيمه ګڼه:۳؛ سکالو: زېرمې يا اخځوک؛ سپړنه: شته لېکنې (مقالې) او راپوروونه، اړوند ادارې، کتابونه ساحوي ګړنلارې لکه پوښتنپاڼه، مرکې، يادونې، تړې، کمپيوټري پروګرامونه لکه لېندی يا ارک جي ای ايس ( Arc GIS ) او نور؛ د کتنې پايله: شتون لري او که نه يې لري.

٤. څلورمه ګڼه:۴؛ سکالو: د شتون شنتيا؛ سپړنه: د په دغه اړه کومه ډېټا چې شتون لري هغه تر ډېره راټوله شوې ده او په څېړنه کې ورڅخه ګټه اخيستل شوې ده ځينې خنډونه چې په ډېټا کې شتون لري هغه د ډېټا د شمېرو تر منځ توپير دی چې د بېلابېلو برخو تر منځ ډېر دی. ؛ د کتنې پايله: شتون لري او که نه يې لري.

د دغه څېړنې له پاره معلومات او ډېټا له بېلابېلو زېرمو څخه لاسته راغلې ده چې په دغو زېرمو کې د اوبو او انرژۍ وزارت، زرعت، مالدارۍ او اوبورسولو وزارت، د سرغندوو ژورنالونو مقالې، کتابونه، اوبپاڼو، ورځپاڼو، راپرونو او د کمپيوټري پروګرامونو، لکه (GIS، Google earth pro) له چاپېريال څخه ګټه اخيستل شوې ده، وروسته د شننې په برخه کې شننه شوې او هغه پايله چې د دغو څېړنو څخه يې هيله کېږي لاسته راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوش تپې لويي ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ښتکېږنو ته د فردوس ښتکېږنې.

## ۶. ۳۱ د تن په خپل اند د ځ.ک.ف.ګ شننه




### ځواک

▪ د بل چا په پرتله ښې کړنې کوو.

▪ موږ شخصي سرچينو ته لاسرسی موندلی دی.

▪ په برياليو لاسته راوړنو ډېر وياړو.

▪ په ارزښتونو باور لرو چې نور يې په ښودلو کې پاتې راغلي.

### کمزورتياو

▪ ډېری پېر د ځينو کړنو شخه ډډه کوو ځکه چې موږ د دوی په ترسره کولو کې د ډاډ احساس نه کوو.

▪ زموږ شا او خوا خلک به زموږ د ضعف په توګه خه و ګوري.

▪ موږ په خپله زده کړه او د مهارتونو په روزنه پوره باور لرو او که نه.

### فرصتونه

▪ موږ د صنعت وده کوو، که داسې وي، موږ څنګه کولی شو د اوسني نړۍ وال بازار څخه ګټه پورته کړو.

▪ موږ په نظام او صنعت کې داسې ارتيا شته چې هېڅوک يې نه پوره کوي.

▪ کومه نوې ټيکنالوژي موږ سره مرسته کولی شي.

### ګواښونه

▪ موږ د روانېږ په کړنو کې له کومو خنډونو سره مخ يو.

▪ زموږ کوم همکاران موږ سره د پروژو له پاره سيالي کوي.

▪ زموږ دنده (يا د هغه شيانو غوښتنه چې موږ يې کوو) بدلېږي؟ او د ټکنالوژۍ بدلول زموږ ځای ونيو وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوش تپي لويي ويالي جوړولو په وړاندي د اوزبېکېستان ولسمشر څېکړنو ته د فردوس څېکړني.

**۶. ۳۲ د ځي.کي.فې.ګي (ځواک. کموزورتيا. فرصتونه. ګواښونه) شننه**

کوش تپي ويالة

ک و

ځ

- بي توله ګډون
- د رول په اړه د څرګندوالي نه شتوالی
- تل ترتله د روزني نه شته
- پوره پېژندلو نه شتوالی

ف

- لوړ پام، ژمني
- په زړه پوري
- د تخصص ژوره
- د سرو تودو ( تجربو) ډول، ډول

ک

- د ماهرينو له پاره د سيالی زياتوالی
- د کرمتيا انديښني زياتي شوي
- له دندي څخه ماهرينو ته لږ پير
- د لنډ پير ماهرينو له پاره د زنګ وهلو ډيروالی

ګ

- په لويي ويالي کي خپل سرې پروګرامونه
- په کارځاينو کي خپل سرې پروګرامونه
- د ترون کونکي له خوا خپل سرې کړنه ډير شوي
- د ترون کونکو زياتوالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۶. ۳۳ هغه وېرې چې د پښدوسې ټول هېوادونه يې زموږ څخه لري: په لاندې ډول دي او موږ ورته کره ځوابونه لرو.

موږ د لويې وياليې ډېريو وېرو مخه ډب کوو، لکه د نورو هېوادنو په ډول؛ له لويې وياليې څخه د اوبو وېستل ,, که چېرې د لويې وياليې په جوړښت کې يا ځينی ودانی په ملګښې (تريو يا Saline) او يا د ځمکې تيزابي اوبو کې سرته و رسېږي، ټرونکونکي ټولې اوبه تښه وي او د ازمويښې پايلې د کتونکي ډلې ته سپاري،، (سويم، ۲۰۱۹زېږدی، چوپړی ۱۹)

موږ د لويې وياليې ډېريو وېرو مخه ډب کوو، لکه د نورو هېوادنو په ډول؛ د ويلې را اورې کروندې يا له ويلې پورته ځمکې د کېن (ليفټ) خړوبولو له لارې خړوب وو چې تل به وياليې، شاخونه، لښتې، کروندې، پټې اوبخښې وي، که چېرې د لويې وياليې په جوړښت کې يا ځينی کروندې له وياليې لوړې وي، په خپل ځوړ نه خړوب کېږي، د نوموړو کروندو خړوبولو له پاره د لومړي پل ( اول فاز) په سته ,, د لمريزې برېښنا پر بنسټ په لويو پمپونو، چې لږ ترلږه يې د توکو ګټنې عمر کچه ۱۰کاله وي او ۲۵ کلونو ورينتې (تضمين، ضمانت چې ټرونکونکی يې مالیک ته ورکوي، وعده يا جواز)، ټرونکونکي ټولې ګټنې ته چمتو کروندې د نوموړې ټرون په سته ازمويښې پايلې سره کتونکي ډلې ته سپاري،، (سويم، ۲۰۱۹زېږدی، چوپړی ۷)

د سيلاب او د سلاد کنټرولولو له پاره له نړی والو ښکاروندو څخه ګټنه اخلو چې يوه يې د نيويارک ښکاروندي او ځانګېړنې دي، د سيلاب او د سلاد کنټرولولو له پاره چې نه پرېږدي چې د اوبو د تېرېدو ځايونه وران کړي. ,, لږ تر لږه د ۲.۰۰۲۳۴ اېکتاره کرکيلي اوبخښنتو ساتلو له پاره له وتلي پيپ جال د خړې ( کنوبی، رسوبي مواد يا د اوبو يا باد په واسطه، خړه: تل ته کښېناستونکي مواد) نخښو څخه ګټنه اخلو.،، ( اين وای ايس ايس اي ايس سي، ۲۰۰۵ زېږدی، ۵ اي.۳۸ چوپړی)

بل لورې ته لويې وياليې ته د غورځېدونکو خوړونو، ويالو، لښتی يو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څټکړنو ته د فردوس څټکړنې.**

ښاخونو او د اوبو کشونو؛ د پټۍ يو، کروندو څخه سړک ته د وتلو، له سړکه تېر شويو دروو، لښتی ( وړه واله ، بياله Rivulet )، سيند (River )، رود ( کوشني سين، له لوی خوړ څخه لوی خوړ او له کوشني سين څخه کوشني سين ته رود وايي) راتللو، مسله يي لولې (پيبر رول) خونديتوب، وتلو پيپونو خونديتوب تېوتو نخښو څخه ګټنې اخلو. ،، ( اين ډي ډي اوو تې، ۲۰۰۵ زېږدی، ۲۵، ۳۲، ۴۵، ۱۲۰ او ۱۲۷ چوپړی)

هغه وېرې چې د پنډوسې تول هېوادونه يې زمونږ له ناسم مديريت څخه لري، مونږ د لويې ويالې د دوی د ډېريو وېرو مخه ډب کوو، لکه د نورو هېوادنو په ډول؛ د روغ مديريت له پاره د کوش تپې وياله په څلورو پله ( کدمونو يا فازونو) وېشو چې په بريالي بڼه بشپړه لويه وياله له تولو اړوندو برخو او له اداري نغښتو يکړو سره ګټنې ته وسپارو. چې پورته مو په ۶. ۱ څخه تر ۶. ۵ سرليک کې نغوته کړې.

هغه وېرې چې د پنډوسې تول هېوادونه يې زمونږ له تخنيکي چوپړ له د ډيزاين چوپړو څخه لري، مونږ د لويې ويالې ډېريو وېرو مخه ډب کوو، لکه د نورو هېوادنو په ډول؛ د تخنيکي چوپړ د ډيزاين چوپړو له پاره د کوش تپې وياله د طرحې او ډيزاين ودانيزو چارو برخو له ښکاروندو (ستېندرډونو) او کوډونو څخه ګټنې د هرې پروژې طرح او ډيزاين د ملي او نړی والو ښکاروندو، کوډونو (شفرونه)، رښتو ( قانونونو) او واکې (دود، مقرراتو، امر چلولو ) سره سم سرته رسول کيږي.

د معماری ( ارکېتچر)، جوړښت ( ستركچر )، بنستيزه (زيربنا، اينفراستراکچر)، برېښنا، ميخانيک، اتکلونو (براور)، پلان جوړونې څانګې په مته له تخنيکي بشري زېرمو، نويو او مدرنه پوستکالو څخه ګټنې پورته کوو چې په لاندې ډول ورته بشپړه نغوته شوي.

ايا همدوره وړتيا وي د پنډوسې تول هېوادونه انديښنو او وېرو ته پوره نه دي.!!! د کوش تپې ويالې د ګټې اخستنې وسايلو او توکو لړې کچې مېچه وړتيا سره، سره.!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۶. ۳٤ له ښکاروندو (ستندردونو) او کودونو څخه ګټنې

د هرې پروژې طرح او ډيزاين د ملي او نړۍ والو ښکاروندو، کوډونو (شفرونه)، رښتو (قانونونو) او واکي (دود، مقرراتو، امر چلولو ) سره سم سرته رسول کيږي. دا چې زموږ په ټاټوبي کې تر اوسه په ډېرو ځانګو او ښاخونو کې سيمه ييز واګي (معيارونو) ته پرمختګ نه دی ور کړل شوی او غځونه يې نه د بوږولې (جوړه شوې). له نړۍ والو پرمختللو ښکاروندو، کوډونو، رښتو (قانونونو) او واګي ګټنې ترې د ځينو شرطونو په پام کې نيولو څخه اخلو، په پروژو کې د وتيز رښت (اقتصادي اصولو) په پام کې نيولو، د اسلامي او دوديز مسلو (فرهنګي مسايلو ) په نظر کې نيولو سره کارول کيږي.

### ۶.۳۴.۱. د معمارۍ په ځانګه کې کارول شوي ښکاروندي او کوډونه:

- افغانستان د ودانۍ يو (ودانيو) ملي کوډ ( Afghanistan Building Code).
- افغانستان د معمارۍ کوډ ( Afghanistan Architectural Code, AAC).
- د ودانۍ يو نړۍ وال کوډ ( International Building Code).
- د نيوفيرټ معمارۍ ښکاروندي ( NEUFERT Architects Data)
- د اور وژنې اتحاديې ښکاروندي او واګي يا اين ايف پي اې يوه سلويوه (National Fire Protection Association ۱۰۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۲.۳۴.۶ د جوړښت (ستركچر) په څانګه کې کارول شوي ښکاروندي او کوډونه (شفرونه):

- نړی وال د ودانۍ کوډ International Building Code (IBC)
- ودانۍ يو د کوډ اړتياوې د جوړښت سيمټو (ستركچر کانكريټ) له پاره.
  Building Code Requirements for Structural Concrete (ACI ۳۱۸)
- لښې ( شرحې، جزيات، ډيټيلونه، توضيحات) او لښول (ډيټيلول، توضيحات) د کانكريټو پياوړتيا له پاره ( ACI ۳۱۵-۹۹)
  Details and Detailing of Concrete Reinforcement (ACI ۳۱۵-۹۹)
- د ودانيو او نورو جوړښتونو له پاره لږ تر لږه ډيزاين بار او اړونده معيارونه ( ۷ASCE) د ازمويني موادو له پاره امريكايي معيار (ASTM)
  Minimum Design Loads and Associated Criteria for Buildings and Other Structures (ASCE ۷)
  American Standard for Testing Materials (ASTM)
- امريكا انستيتيوت د اوسپنو (فولادو) جوړولو له پاره (AISC)
  American Institute for Steel Construction (AISC)

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۳.۳۴.۶. د برېښنا په څانګه کې کارول شوي ښکاروندي او کوډونه:

- ملي برېښنا کوډ يا نيک او يا NEC-۷۰ (National Electrical Code)
- نړۍ وال الکترونيکي کمېسيون IEC (International Electrotechnical Commission)
- د ګډو اسانتياوو واګي يا يو ايف سي UFC (Unified Facilities Criteria)
- د بريتانيا ښکاروندی يا بي ايس BS (British Standard)
- د اور وژنې ملي ټولنه NFPA-۷۲(National Fire Protection Association)
- د تالندې (الماسک) ساتنه يا اين ايف پي اې اووه سوه او اتيا NFPA-۷۸۰(Lightning Protection)
- ملي برېښنا د فابريکو ملګرتيا (اتحاديه) يا اين اي ايم اې NEMA (National Electrical Manufacturers Association)
- د ژوند ژغورنې ( خونديتوب) کوډ يا اين ايف پي اې يوه سلو يوه NFPA-۱۰۱(Life Safety Code)

### ٤.۳۴.۶. د ميخانيک په څانګه کې کارول شوي ښکاروندي او کوډونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library





- نړی وال میخانیکي کوډ یا آی ایم سي International Mechanical Code (IMC)
- امريکا د اېنجینېرانو ډله (ټولنه) د تودوخې، سړوبو (يخچالونو) او سرېبوږمې (اير کنډيشن) له پاره (اشرې) American Society of Heating, Refrigerating and Air-Conditioning Engineers (ASHRAE)
- امریکایي ډله (ټولنه) د ازموینې او موادو له پاره (ایس ټي ایم) American Society for Testing and Materials (ASTM)
- نړی وال د نلغځوني کوډ (آی پي سي) International Plumbing Code (IPC)
- د اور وژنې ملي ټولنه (این ایف پي اې) National fire Protection Association (NFPA)
- نړی وال د اور کوډ (آی ایف سي) International Fire Code (IFC)
- نړی وال زونبوږلو (زونجوړل) کوډ (آی زي سي) International Zoning Code (IZC)
- نړی وال د تیلو او ګاز کوډ (اي ایف جي سي) International Fuel Gas Code (IFGC)
- د اوسپنيزو پانو او سرېبوږمې (اير کنډيشن) ترونکو ملي ډله (سمکنا)

(c) ketabton.com: The Digital Library



Sheet Metal and Air Conditioning Contractors' National Association (SMACNA)

- د افغانستان اېنجينيري ولسوالۍ (اې اي ډي) Afghanistan Engineering District (AED)
- سيمه ييز منل شوي او سرغندوي کوډونه ( شفرونه)

## ۵.۳۴.۶. په بنسټيزه (زيربنا، اېنفراسټراکچر) ځانګه کې کارول شوي ښکاروندي او کوډونه:

- د امارتي لويو لارو او لېږد را لېږد (وړو را وړو، ترانسپورټ) چارواکو امريکايي ټولنه (آشتو) AASHTO (American Association of State Highway and Transportation Officials)
- ودانۍ يو (ودانيو) د کوډ اړتياوې د جوړښت سيمټو (سټرکچر کانکريټ) له پاره.

Building Code Requirements for Structural Concrete (ACI ۳۱۸)

- امريکايي ډله (ټولنه) د ازموينې او موادو له پاره (ايس ټي ايم) American Society for Testing and Materials (ASTM)
- د متحده اياالاتو د هسکو ( بورو ) بيارغونې اېنجينيرۍ USBR-EM (United Stat Bauru of Reclamation of Engineering)

(c) ketabton.com: The Digital Library





- لويې لارې د وړتيا لارښود (دوې زره ايچ سي ايم) Highway Capacity Manual (۲۰۰۰HCM)

## ۶.۳۴.۶. د اټکلونو (براورد) څانګه کې کارول شوي ښکاروندي او کوډونه:

- افغانستان د ودانۍ يو ملي کوډ ( Afghanistan Building Code).
- افغانستان د معمارۍ کوډ ( Afghanistan Architectural Code, AAC).
- د ودانۍ يو نړۍ وال کوډ ( International Building Code).
- د کارګرو بيلونه (لايحه طاقت کار، Labor bills).

## ۷.۳۴.۶. د ټيکنالوژۍ کارول

په ټوليزه توګه په ټولو برخو کې د ټيکنالوژۍ کارول د پرمختګ لامل شوی، په دې وروستيو کلونو کې د انجينېرۍ او د ودانيو ډيزاين په برخه کې د ټيکنالوژۍ کارولو له امله لوی پرمختګ شوی دی. نوي وسايل انجينېرانو ته دا توان او مټ ورکوي چې د نخښې په اوډون (ترتيب) کې په لوړ پام (ځير تيا، دقت) او چټکتيا (سرعت) سره انځور (رسم) کړي، همدارنګه ودانيو د ډيزاين پر پير (وخت، مهال) د انجينېرانو له پاره د شمېرلو (محاسبې)، شننو (تحليلونو) لړۍ (پروسه) ګړندۍ کړي او ښه څه رنګوالی (کيفيت) چمتو کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډيزاين پوړونه باندې د ټيکنالوژۍ اغيزو څخه دا يادونه کې دى شي چې د ناخرګند ډيزاين څه رنګوالى په لړ وخت کې په لړ لګښت او ډېرو اسانتياوو سره ترلاسه کړو. له همدې امله د پلان يا طرحې جوړونې او ډيزاين کارځايونه (دفترونه) بايد په نوې ټيکنالوژۍ سمبال شي او د هغې اېنجينېران او کاروونکي بايد پېر په پېر (وخت په وخت) اړوندې روزنې ترلاسه کړي.

د کار د چټکتيا او ژور پام ته د ډېرې پاملرنې او اړتياوو په پام کې نيولو سره د طرحې او ډيزاين رياست د پروژو د سروې، ډيزاين او اټکلونو په برخه کې د ورځني چارو په پلي کولو کې د امکان تر حده د دې هڅونکي ټيکنالوژيو څخه کار اخلي.

د ټيکنالوژۍ کارول په لويه توګه په دوې برخو وېشل کېږي:

يوه يې د اسبابو (وسايل) او توکي (تجهيزات) دي او دوېيم يې د کمپيوټري پوستکالي ( سافټويرونه، پروګرامونه) دي.

وسايل لکه؛ د معلوماتو راټولولو او د پروژو تخنيکي سروې له پاره GPS، Auto Level او Total Station کارول کېږي. د اېنجينېري پوستکالي د شمېرلو (محاسبې، حساب کتاب)، ټاکنې او پروژو ډيزاين له پاره کارول کېږي.

## ۸.۳۴.۶ د پروژو د طرحې (پلان جوړونې) او ډيزاين پراوونو کې د پوستکالو (سافټويرونو ) کارول

هغه پوستکالي چې په ټوله کې د طرحې او ډيزاين رياست بېلابېلو تخنيکي څانګو کې کارول کېږي په لاندې ډول دي:

د سروې په څانګه کې کارېدونکي پوست کالي:

- مدني درېيم پرمختګ CIVIL ۳D
- لېندۍ جي اى ايس ARC GIS
- اوټو کاډ Auto CAD

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اداب پي ډي ايف Adobe PDF
- مایکروسافټ افس MS Office

د معمارى (ارکيتيکچر) ډيزاين په څانګه کې کارېدونکي پوست کالي:

- AutoCAD
- REVIT Architecture
- ۳Ds MAX +V-RAY
- Sketch UP + V-RAY
- ArchiCAD
- LUMION
- Adobe Photoshop
- Adobe Illustrator
- Adobe PDF
- Ms Office

د جوړښت (ستركچر) ډيزاين په څانګه کې کارېدونکي پوست کالي:

- **CSI Software's:**
  - ETABS Ultimate
  - SAP۲۰۰۰ Ultimate
  - SAFE
- **Trimble & Bently Software's**
  - Tekla Structures
  - Tekla Structural Designer
  - Tekla Tedds
  - RAM Connection

(c) ketabton.com: The Digital Library





- **Autodesk Software's**
  - AutoCAD
  - Advance Steel
  - REVIT Structure
- Adobe PDF
- MS Office

د میخانیک ډیزاین په څانګه کې کارېدونکي پوستې کالي:

- AutoCAD
- Revit MEP
- Auto CAD MEP
- Water Gems
- Design Builder
- Energy Plus
- Open Studio
- HAPS
- Trace۷۰۰
- Duct Sizer
- VRF
- SolidWorks
- MS Office

د برېښنا ډیزاین په څانګه کې کارېدونکي پوستې کالي:

- Pspice (Electrical Schematic Software)

(c) ketabton.com: The Digital Library



- Dialux (Electrical Enginering Saftwer Program)
- MATLAB (Software for Numerical Computing)
- ETAP (An Electrical Engineering Software for Power Systems)
- LabVIEW (Designing Interfacing and HMIs)
- Keil Vision
- Final Words
- AutoCAD
- MS Office

د بنسټيزه (زيربنا، اينفراسټراکچر) ډيزاين په څانګه کې کارېدونکي پوستې کالي:

- Civil ۳D
- AutoCAD
- MIDAS Civil
- Staad Pro
- CSI Bridge
- Geo Studio
- Geo۵
- Arc GIS
- HEC-RAS
- HEC-HMS
- MS Office

د اټکلونو (براورد، ايستميشن) په څانګه کې کارېدونکي پوستې کالي:

- AutoCAD

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوش تپې لويي ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څښکړنو ته د فردوس څښکړنې.

- REVIT Architecture
- Civil ۳D
- Prime Avera P٦
- Adobe PDF
- MS Office

### ۹.۳۴.۶. سرته رسولو (اجرايوي) لوی مديريت

**موخې:** د اداري اصولو او مقرراتو سره سم د طرحې او ډيزاين رياست د کارکوونکو له پاره د اداري، مالي، لوژستيکي، وړلو را وړلو ( وړنه را وړنه يا ټرانسپورټې) او نورو اړوندو اسانتياوو برابرول په غاړه لري.

### ۱۰.۳۴.۶. د کاري لارښوونو سرته رسول:

د اجرايوي (د کارونو سرته رسولو) لوی مديريت مسؤل دی چې د څانګو (امريتونو) او کارکونکو کاري اړتياوې په اغېزمنه توګه (مؤثره) او ټاکلي پېر ( وخت) سره چمتو کړي. د مالي، اداري، تدارکاتو، لوژستيک، وړل را وړل ( وړنه را وړنه يا ټرانسپورټ)، بشري سرچينو (منابعو)، ولايتي سفرونو برابرولو اړوندې ټولې چارې د رياست په کچه د پلي شويو رښتو ( قوانيونو) او کړنلارو په چوکاټ کې ترسره کوي او د اړوندو رياستونو سره يې پرلټه وي.

### ۱۱.۳۴.۶. لويې کړنې او ګرمتياوې:

۱. د ورځنيو چارو خدمتونو برابرول او اوډوون.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لویې ویالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څېکړنو ته د فردوس څېکړنې.**

۲. کارځای (دفتر) د کاري پلان سره سم د اداري او اجرایوي چارو پرمختګ.
۳. د کار ځای دوسیو (فایلونو) برابرول او اوډوون.
٤. د کارځای لیکونو (مکتوبونو) په ټاکلي پېر د لیکونو ځوابونه سرته رسول، د اړینو اړتیا وو سرته رسول او د هغه اوډوون.
٥. د ټولو راغلو لیکونو خونديې کول (ثبتول یا راجستر کول) او د ریاست اړوندو څانګو سره شریکول.
٦. اړوندو چارواکو ته د پروژو تخنیکي کڅوړو لیږل.
۷. د PMIS په ټولواله (سیستم) کې د لیکونو خونديې کول (ثبتول یا راجستر کول) او د نوموړي ټولوالې اړوندو کړنو لمن ټولول (ترسره کول).
۸. د لوړو چارواکو ژمنو او لاربښونو (ODF) څارلو (تعقیبولو) له پاره په بریښنایي ټولوله کې د لیکونو او راپورونو ثبتول.
۹. د ریاست دننه نظم او ډیسپلین(سمون، روزنه) برابرول.
۱۰. کارکونکوو د سفرونو اوډوون (ترتیب)، برابرول (تنظیم) او څارل (تعقیبول).
۱۱. د هامینۍ یو (پیسو) وېش راوېش تړل (حساب تصفیه) او د سفر امرونو څارلو کې اسانتیا راوستل.
۱۲. کار ځای د ورځنیو کړنو په اړه د راپورونو چمتو کول، اوډوون او وړاندې کول.
۱۳. د ریاست د ټولو غونډو اوډوون، چمتو کول او د نورو ټېټو څانګو سره د اړیکو رغول.

د اداري له خوا د اړتیا سره سم په اونیزو غونډو او نورو غونډو کې ګډون.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لویې ویالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ښتکړنو ته د فردوس ښتکړنې.**

## ۶. ۳۵ د واورېږونو او ګلیشیرونه چټک رښت

,, سړوبی (ګلیشیر، یخچال) څه شی دی؟ سړوبی (ګلیشیر) د یخ او واورو راټولول دي چې ورو، ورو د ځمکې په اوږدو کې تېرېږي.
د سړوبو ( ګلیشیرونو) دوې کټګورۍ شتون لري: الپین سړوبي او د یخ شیټونه (ښادرې، دړې، پټونه). د الپین سړوبي (ګلیشیرونه) د یخ کندې سینونه دي چې ورو، ورو د خپل وزن لاندې د غرونو لاندې او درو کې بهېږي. د الپین سړوبي برعکس، د یخ پاڼې، چې یوازې په ګرینلینډ او انټارکټیکا کې شتون لري، ټاکلي کچه نه لري؛ دوی په پراخه ګمبدونو کې په څو لورو کې خپرېږي (د واورې او یخ ملي ډیټا مرکز، د امریکا جیولوژیکي سروې
په ټاټوبي کې ستر واوریږونه په ۱۹۵۳ زیږدي کې په پامیر کې وو چې په ځلورو میاشتو کې ۴۵ کیلومېتره په منځنۍ کچه په ورځ کې ۱۲۱ مېتره وه.

### ۱. خاوره او واوره

په یوه ځانګړې سیمه کې څومره واوره راټولېږي، د عرض البلد او د کال په ټاکلي پېر پورې اړه لري. په لوړوالي، بوټو(نباتاتو)، سمندر ژئ یا ساحل ته په نږدې والي، د باد او هوا ډولونه توپیرونه بېلوالی ,, واوره موسم،، رامنځ ته کوي.
